لنډیزې

کـه دې وازې ککـۍ دواړه
دروازې زما دکور شوې
اې زما لیمه کې پټه
کاشکې ستا ځیګر کې اور شوې

دا ساقي مولوېانو شو
په جامونو تیرېږي ولې
دخمار بې سره پیغلې
دکوڅو په ګرد ځملې

دمادیت تمدن ښخېږي کږې په ستورونو کې
لوېو ښارونو کې وروکې انسان وږی کرځي
دټوندله هرقدمه پرېوتل تناک پوټکي
انسانیت دافریقې دښتو کې تږی ګرځي

۱۹۷۸ - می

لنډیزه

چېرته هغسې دلمبو خبرې

اوس چېرته دغه د تیرو خبرې

بو مې څۀ مړوله که ښروند راکړې

وژني مې دغه د ښروندو خبرې

لنډیزې

ږمونږ ذهنونه تیاره، زړونه واړه

دچم کوړونه مو له ګوڅ ساړه

په مونږ د وخت تړل وحشتونه ماړه

کله د سرو، کله د تورو خواړه

دوی، له ښروندونه، سترې شوې خلک

دستړې فکر په زنځیر تړې

شمله د سرد زاړه، پیر پرېوته

اوس به شمله دنوې پیر تړې

پیرې پښې یې دلرګو دی، دتخت په وار ماتیږي

دا زنګ شوې زولنې دی، اوس په یو ګوزار ماتیږي

طوفانونو سا، راښکلې، دې سیلاب ته لار ماتیږي

چې زمانه څمونه سره شو، سره سره باد ار ماتیږي

۱۹۷۸ - اګست

غزل

مونږ ځوليوني د چم سرونه په کفن تړو
لپه دغه کوګل ته موږ ګونه د وطن تړو

ځئ په شبنمي څاڅکو کې سحر له دغې کړو
ستوري په دغه رو، د ګلونو د چمن تړو

وغښته سوله مو، ستا د ځنو د تارونو نه
اوس په دې سوله، د استبداد تېرولتن تړو

داغ په هره تېره د وطن د شهيدو يې دي
ځکه د کفن په لمن تيرې د وطن تړو

اخلو د پرېشانو ځنو تار د قام له کوندو نه
خېژو، د سبا ستر که، په هسک د خپل چمن تړو

اګست - ۱۹۷۸

غزل

زما هره ساه لمبه ده، زما هر قدم ترهسکه
لمدوستر کوکې هسک نبکاري دليمه دا نم ترهسکه

په قلم کوتومې جوړکړو، ستا هلال دتورو وړوځو
دا هلال ترهسکه رسي، رسي دا قلم ترهسکه

دسالو پيڅکې خواره شودآسمان ترپيڅکو رسي
ليونۍ! سالودې خورکه، لکه خورحرم ترهسکه

چې په اورمودلمنو کړيوانونه سره لمبه کړه
اى سړتوروڅنګه رسې، نن زمونږه غم ترهسکه

ګلرخان پکې ميشته دى، خيرکه ديدمې آسماني شو
چې ترهسکه مې نظرځي، ځي، صنم، صنم ترهسکه

پېښور - ۱۹۷۸/ ۱۲/ ۱۸

لنډيزه

داغ دزړګي ښراغونه لرم
زړه کې مې ستا دغم داغونه لرم
مادحرم له تيروخم جوړکړي
په کنډولوکې جنتونه لرم

دسهار ګرد

په ښوندو سترګو مې په بوتوزدار ګرد
تخيل اخلي د زلفو د هر تار ګرد

د بنګړو شرنګ له دې ساه د جنون ورکړه
د رښندم، د زنځيرونو، د انبار ګرد

ستا سرتورو ښنو ګرد، د کوڅو واخيست
کهکشان ته لارې ورکې کړې د لار ګرد

د کنډول خاورې، خړې په ميکده کې
د خمار په ځمکه پرېوت د خمار ګرد

داوږې ځل يې تر، تور پېکې رسېږي
خدايزده کومې شپې اخستی د سهار ګرد

پېښور - ۱۹۷۸/۱۲/۲۲

زه سوزم

زه سوزم
د ښو په څوکو   په ځو ځمکو ولاړ
لاس راوباسم
د کښو، ونو، له ښو ښانګونه
په تورو، شپو، زه د پرېوتې لمر تورکړي ګورمه
زما تنه تر آسمانونو رسي
سپینه سپوږمۍ، زما د زړني لاندې
لکه ګلګوري غونډه، د سپینو زړو
دویلو، او سپینو، د ستني لاندې
لکه خور، څاڅکي شبنم، یو ګوټ، د ګلو د خولې
پروت د غوټۍ د ځلړته
د سرو زلمي ګلاب د وني لاندې
زما ګوتې سوځي
ګوتې تر ستورو وروړم

دغه خوږې سپرغۍ په لاس تولوم
زه سوزم
دغه تړوکړې، په پلوشو ګنډمه
زه ورنه لمر جوړوم
دالمر په پرخو، لمبوم
او دالمر
داچې د تورو شپو له ستورو جوړ دی
خورشي ... دور څو پلوشوته اورشي
دښار کوڅو کې، شور شي
دژوند بازو ته زور شي
سپین قسمتونه سپین شي
تور قسمتونه، تور شي
او- دالمرچې خورشي، د پلوشو په تار کې
پریوځي، تنس شي، تړوکړي، تړوکړې شي
په ستورو دې کې کړي بلې دآسمان
خورشي، د تورو شپو، په ورکو لارو
د دې لکونو، دیو ګوکاروان
زما تنها کې کوتې
چې د نوجنو او بو خرلې داري وکړي
د اداري لارې شي، د سپینو ستورو

ستوري ترلمره راشي
لمرته دستورو، تهوتې لارې وكړي
نو، چې زه وسوزمه لمرجوړكړم
او- چې شپه ورسي، تر تاندو څوكو
زه به لدې څوكو سحرجوړكړم

دپنجشنبې ماښام - پېښور
۱۸ /۱ /۷۹

تاته

زما د ژوند خوشحالې   ستا د غمونو جوړې
دا زغوتاندې شوکې   له سرو ګلونو جوړې
دغه خال، خال اوښکې مې   ستا د خيالونو جوړې
زما د خيال خزانې   ستا د خالونو جوړې

\+ +

ستا د منګولو د يوې   زما په داغ رنګې شه
دا بې څراغه کـکې   پدې څراغ رنګې شه
دوه سترګې دوه پوکه شه   د سپيلنو اشنا ته
دوه لېونې حلال شه   د لېونو اشنا ته

\+ +

څانګه د ګل ټيټه کړه   ځوانۍ کې خم راوله
د زړه چينې وسپړه   ليمه له نم راوله
ما ته کړه ملا د زلفو   ساه له مې دم راوله

\+ +

کندولی مات پرېښودوه مخ دې په خُم کې کوره
دا تلې تکي مینه دښېښتن نوم کې کوره

++

لږ د سکني زلمیتوب ډیوی ته اور پورې کړه
توردې شم، دې تورو ته په مادې تور پورې کړه

++

داچم سکوت وژلی سکوت له ګورجوړوم
دزولنو له شوره بنګړوله شورجوړوم

++

ستا داوږې په څیرو درنا تارترمه
دستم سرې لمبګې لمرته په دارترمه
دګل رنګونه اخلم سپرلوله بارترمه

++

دحق دې تاند زلمي له دسالوسیوري ورکړه
لمریې له سترګو واخله خال کې دې ستوري ورکړه

++

ستوري کلکوکې راوړم خال آئینه کړه ورته
شمشاد له زړه ورکوم خیبر سینه کړه ورته
خېژم دعرش څوکو ته پامیر زینه کړه ورته

++

او ماښامي وږمه ته . . .
او د اخبرې . . .
ګرمې پرله پسې نرۍ .
دا خوت د پسرلي له دمه
آخر حيراني بوږي ورپوښتلو :
«ځوانه ! ته څوک يې ؟؟
چې دې خبرې . . .
د زړه تکرار شي
دلا هوتي سندرو . . .
دا غبرګ تالونه . . .
تا پوره کړي . . .
ته دا تال غبرګ کړه !
د فکر اوجه !
د نمر په څپرو
دې راپرېوتی خيال له تال غبرګ که
نو څوک يې ؟ ځوانه ته څوک يې ؟»
د ځوان په شونډو کې نښتي موسکا . . .
لکه تنکی د ګل نښتي کوټکی
غږې يې پورته بانه يې ځوړند . . .
لکه تارونه . . .

دغرونو سر ته خېژم پــه سر مې غورماتوم
ستړې کلــوکي راکـه پردې نظرماتوم
څُم د نیلم د کُـربت له خُالـو بیا الـوځم
دمادیت د تـېـوس زرین وزرمـاتوم

پېښور ۱۹۷۹/۲/۵

لنډېزه

وارکوه هراندام لــړکي اخـلي
داپاکې ښـنـدې ستاغرکي اخلي
دافغاني پیغلي حیا د پـاره
افغان پخپل ټټرمـرکي اخلي
ستا د پـردوفکرونو زیلي غوڅي
دخوارلړکبه نه تبـرکي اخلي

غزل

لحظو، خولګې د سرو سپږغو ډکه کړه
نغمو ججوره، د سلګو ډکه کړه
زړېپ د هيلو دليتکو نه ډک کـه
بيا يې کعبه دلېونو ډکه کړه
سپينه لمن يې لېوني لالي لـه
د تورو بنګو د پيالو ډکه کړه
د بار خوشپول يې په ليمو چاپيره
لاره يې ټوله داغزو ډکه کړه
زړه او ځيګر يې د سرو وينو ډنډ کړو
ګوټ پيمانه يې د ګلو ډکه کـړه

پېښور-۱۹۷۹/ ۲/ ۹

ژوند

د ژړا شاخکې د موسکا رڼ خط
د خاورو زړه کې د ژوندانه پټ
ژوند یوه دنګنه د اضطراب ده
رڼا د ورځو د شپو له تاب ده
سبې پرېوځي د زړه له درزه
د زړه له درزه، وختونه خوځه

یخ اسویلي یې لوګی د جنګ دی
د لوېشت ګوګلو زړګوټي تنګ دی
دا تور دریاب چې د نور حباب دی
د تندې ځل یې د لمر له تاب دی

دا ژوند چې ټول دی ذرې ذرې دی
ځمنې یې تار دی، زړه یې پرې دی
هره شیبه یې مانه کړې ده
ځولۍ د ورځو، د شپو شړې ده

دا رنده لاره ده ، چالیدلی؟
له کومه راغله ، په کومه تللی؟

له هسکه کوز شو ، په لار پرېوتی
څوک پکې پاتې ، څوک ورنه وتی

دالاروي دی خدایزده له کومه
سره له شرابو ، ساره له خمه

څو قافلې شوې ، له سپرلو پاتې
غونچې یې پاڼې ، غوټې میراتې

کندولې مات شو ، میکده ورانه
لیلا یې پټه بل له روانه

قضا ، بارونیو ، رضا یې راوړه
رضا چې راغله ، قضا یې راوړه

دا لار ، رسیږي له هره سره
هم ترجنته ، هم تر سقره

هر پل په لاره ، روان منزل دی
د منزل نخښه څرک د اجل دی

بنا یې د پل دی ، دتګ تقدیر دی
په کومه خواځې؟ دادې ، تدبیر دی
* * *
څو ندچې وږمه شی سالوا وچت کړي
دګل دوږم ، تالوا اوچت کړي

په ساه د مینګو، طوفان راغلی
له کوم ختن نه کاروان راغلی

*یوه ساه *سره چې تر شمع تللې
څوک پرې لمبه شي څوک پرې وژلی

وزم داورچې تر دیوې ورشي
دیوه پرې مره شي محفل پرې زړشي

جنون بې لارې، منصور په دار دی
اشنا دا پل هم د ژوند په لار دی

ژوند چېرته څاڅکی له *سترګو وتی*
دا له زړګونو، چینو پرېوتی

ګوټ شي د مُلُو د پیالو خوله کې
پرخه شي، توی شي د ګل لیمه کې

د سپوږمۍ خیرې د نورو پیاله شي
د هسک خالونه خوله خوله شي

سوز د زړه اخلی ځیګر پرې سوزي
لمبې داوښکو، څاڅکو کې خوځي

باران شي څاڅکي په وربېدو شي
د فضا خیرې په خوربېدو شي

جام د شرابو سپوږمۍ رانیسي
سترګې اوبه شي ګلی رانیسي

ځوند چې خوله شي تن د مزدور کې
په يخو څاڅکو سپرغۍ رانيسي
څاڅکي خواره شي، طوفان پيدا شي
جنون چې راشي، جانان پيدا شي
ويلې زړکو ته د وينو داره
داهم يو پل دی د ژوند په لاره

پېښور- ۱۶/۳/۱۹۷۹

څلوريځه

د آزادۍ ناوې مينه
د شاه زلميو په اداګانو
د تندی خال يې له ورايه برېښي
د سپينو تورو په رڼاګانو
خو!
ځينې يې غواړي په وينا ګانو
ځينې يې غواړي په دعاګانو
ټوک آزادي هم په چړکې غواړي
له دې بې خدايه سره بلاګانو

سيد جمال الدين نمبر ۵ هاستل، پېښور پوهنتون
۱۰/۱۲/۱۹۸۰

غزل

نوړې راته دا لارې مشکلې شوې
لړزېدنده د ژوند د قدم تلې شوې

نړۍ دې سترګې د زړه خوب ته مې
ښه شوه، چې مې خپلې څرېکې خپلې شوې

ودې سومه اور دې کړم لمبه دې کړم
تلکه د تورو تیرو غلې شوې

لاس د غوښتو پرې شول لمن څیرې شوه
چاویل دعاګانې مې منلې شوې

پرېوته مې اوښکه د لمر سترګې ته
سترګې اوس په یخو اوښکو بلې شوې

نیسه د خیر لاس د وربل سیورو ته
د پېرې نذرانې د ښکلو ښکلې شوې

زړه یې په بارخود خنجر څیرې کړو
لپه لپه وینې پکې بلې شوې

۱۹۷۹

اراده

نه سپوږمۍ وخته زمونږ په بلې
نه مو دېوې له ستورو او رورکه
تورې جونګړې پاتې تورې شوې
تشو پیالو تندو له زوره ورکه

——.——

زه د تهمت په تورو بړوکې ښکېل یم
نه حیا پرېښودې په کور د ننه
زمونږ ه پاتې شوې دا پېرځې او ښکې
د نرګسې سترګو په کور د ننه

——.——

یو ځل له هسکه خمان پرېږنه وتل
چاڅېرې نکړل د خمار پړونې
ریښې ریښې شو ترې ترې لاړل
په شنو ازغو د ګل د تار پړونې .

——.——

نو - مراندې مې لنډې د سلګو راکاږه
او س را ته سترګې څه بې نمه ښکاري
مړې کړه دېوې ، په اور او به پوه نه کړه
ما ته دا اور د بل له دمه ښکاري
پېښور پوهنتون - ۱۹۷۹/٤/۱

سپین غر

داد دې خاورې پاسبان دی، چې د هسک ترسره پلن دی
ته وې زوی د ځمکې ایښی دا یې په سینه لاس دی
د نښترو څرې د ننګې، د زمردو لمبکې دی
تورو سمڅو ته یې تیږې، د فولادو تمبکې دی
چې شمله د شاه زلمو یې د آسمان په سالو سروړې
لمبکې یې د لمنو، سپینو ستورو کې وزروړې
هره تیږه یې بریښنا وړې، هره تیږه یې خیبر دی
دا سپین غر زمونږ لیمه دی، په دې غر د خدای نظر دی
د هسک ټول ستورې یې مات کړه، د سوماخان یې لوټ کړه
کوټ د ملو یې لیمه کړه، شرابي لیمه یې کوټ کړه
پوک وږمه یې د پلوه په سر تورو ستورو بار شوه
د درځې دوت لمبې ته د لمر کومه ستړکه لار شوه

چې ټخرګ د سحر ډک کړي، دا کاروان د آئینو دی
اننګې یې د ګلونو، سور پرهر مو د سینو دی

چې سکښي ماښام سالو وړي غوړېدلو لمبګوله
پتنګان له ستورو، راشي د کوډلو ډیوګوله

که کوم څاڅکی مُل دې وموند، دوج خُم کونګې پرې میخځه
سمندر د بارانونو، وړې د کورو، وریځو، وینځه

چې د تور، تارو آواز یې، شور د ستورو د کاروان دی
چې په څوکو یې راخېژي، دا الم د کوم آسمان دی

توري تیرې به راېنجه کړم، د سحر لیمه به تور شي
که دا تور مو د لمنو د آسمان په ستورو پور شي

چې له تره دې راتوی شو، له دې چره دا ره نیسم
پرېږده لار دی، داوبو شم، خو ستا خوړه لاړو نیسم

لــــبن، سپین غره شراب راکړه چې تقدیر مې جنتي شي
چې ککی مې پرې لمدې شي، چې ځیګر مې پرې ستی شي

نو دا آرزو او دا زخمونه، دا تبغونه او دا څــــوکې
ستا لمن کې پیغلې راغلې مړه مو نغاړې په سالــوکې

ستا د خونو څراغونه که د خدای په لاسو بل شي
دا ځواني مو دې په دا رشي دا تنې دې په ټینګ دل شي

پېښور – ۶/۶/۱۹۷۹

د تور، ريښم .

چې د نرو غشو...

د کاڼه تنه تاوکړي...

او آوازېې، د کوڅې کونړو

دستونې کوټ شو...

«مورې! خدای يو دی

زه دخدای بنده -

خدای له دې ټولو ښکلی...

هغه له دې ټولو نه بر وګڼه...!

او چې ته ترې تښتې مورې!

ما درب هغه پيغمبر وګڼه!»

څاڅکي دترږمو او ښکو...

له زړو کسو

په تورو خاورو توی شو...

لکه له نيمو شپو سحر پرېوتو.

او دبوډۍ په پښو کې

د سلو کالو د ګناه له تنه.

د سل کلني ګناه سر پرېوتو.

❖ ❖

1981

غزل

کـکی مراوې دخمارکړې پرې باندې
حیاکانې دمستۍ دښونه لاندې

تورلوګی شو بلاګانې دخـال آخلي
حوصلې دسپیلنوشوې څومره تاندې

کروه چاک ګرم ته مخ پټ کړې په خنداشي
ګل پخپله ـ ته څما په کروه خـانـدې

دګلخو یلو یې اخلمه لـه مـخ نه
قافلې داسویلو دې ورشي ورانـدې

په تناوړ تورو شپو ستورو ته خېژم
خال یې کورم، زلفې نیسم، مراندې مراندې

پیغلتوب یې په زلموټي شهیدخورکه
لو پټي په کفنونو، اویـزا نـدې

پېښور ـ اشرف روډ ـ ۱۹۷۹/۱۲/۵

په ګلونو کې سا نه راځي

اوس دې په ړاتلو هم پرهرونو کې سا نه راځي

راغئ پسرلی خو په ګلونو کې سا، نه راځي

ځئ، بخملو لپو کې تري خپلې وينې غونډې کړو

نور، له دغه خم نه په جامونو کې سا، نه راځي

دا د جنون مړی بند په بند په سالو وتړو

ده له، اوس په ول د کفنونو کې سا، نه راځي

ځئ چې د بېلتون د بور جلونو تيږې ونړوو

موږ له په نيمګړو ديدنونو کې سا، نه راځي

دا چې پرې زموږ د زړه د وينو پونه پرېوته

اوس به دې لا څنګه په خالونو کې سا، نه راځي

تګ وهه د تور پړوني وږم په موږ تګ وهه

موږ له د عيسیٰ د سا، د مونو کې سا، نه راځي

لمره د دې خونې د چرګې له ایرو پورته شه
دې له په دروځو د ډیوالونو کې ساه نه راځي

څنګه یې سکینې ځواني په شنوخازو راپرېوته
چاویل چې د خاورو په قبرونو کې ساه نه راځي

ورغړه پامیره د آموتل ته راورغړه
بې څه خو د ښکلو په موجونو کې ساه نه راځي

دا زموږ دېځواسوېلو په سپرغوبله ده
دی د تاخ دیوې له پراورونو کې ساه نه راځي

سبه شوه چې د مرګ د زندانونو بلې د نګې شوې
هسې خو د ژوند تېښتو بامونو کې ساه نه راځي

ځه! دانیمه مړه پښتونخوا لاس کوزتر کوزه کړو
دې له، د غزل په محفلونو کې ساه نه راځي

۲۸/۱/۱۹۸۰

کوزتهکال- پېښور

د شهید په پرهرونو

سپیني توري دي پرکېږي، د ماښام هلال روښان دی
تسلسل مې د کاروان دی چې د ستورو کهکشان دیٔ

لدې څوکو چې راخېژي - په لمنو چې خورېږي
مال د کړیکه د خیبر ده، بل له تندر د آسمان دیٔ

شاه زلمو شملې کږې کړي د تقدیر څمکه به خوځي
د همت په سر د روکې تم د شنو سپرلو کاروان دیٔ

چې د سرو په نیشو مست وو، په شنو کانوکې یې مرکړو
دغه خاوره د پښتو ده، د دې هر کاڼی افغان دیٔ

د همت بلا یې واخلم دا په وینو کې د یوې دی
د شهید په پرهرونو، چې د سرو گلو باران دیٔ

پام چې کړیکه ما ته نکړې څما ساه سیني له ورکړه
دا د شنه سمندر ساه ده د څپو تانده طوفان دیٔ

په شرابو گلې وینځه، د دې بنگو د تور بوتي
چې بنگي جانان ساقي شو، چې بنگي ساقي جانان دیٔ

اوس تقدیر لیکه د ستورو، د دې تورو برکو لاندې
چې د سرو دبا دارانو، کونه موني له زوره وران دیٔ

۲۸/۱/۱۹۸۰ - کوزتهکال - پېښور

کړیکه

هلهٔ د لمر لهٔ هره سره ړکه او رونه رڼا وړه
د دې کوڅو خړې ډیوې داوړ په وینه پایي

هغه بې بامه ورکې د هسک له بلې پیالاندې شو
چې تور وشپو کې دیو ځو ستورو په مینه پایي

نو - دې لپونوله درنو دیوو بازار جوړ وو
ورځو تیرو کې درنا قدم له لار جوړ وو

هره ذره دافغانۍ کوڅو سپرغۍ د غیرت
دا هره تیږه د رڼا له کوه طور جوړه ده

تندرنه تېښت مه شې قسم، د خودی خوځښت په وشي
نښتره پام تا نده ځوانۍ دې له غرور جوړه ده

دا سوی کړیکې، په دې تور وغرونو لاړې کوي
د شهیدو وینه په کفن د زړو داري کوي

زما نظر د تورو زهرو خنجرونه لري

خونخور خماره، لږ پر پوتي له نظره راځه

د مليت مټو يې توره د غزا را خسته

اغياره دلته که راځې نو بې ځيګره راځه

په مخ د تورو مود ځوانو وينو رنګ تازه دئ

د زنځيرونو په کړ وژ امو کې زنګ تازه دئ

دا ستا د سرو ستورو، له سرو اننکو وينه اخلو

د قام د پيغلو د وربل غوټو له نم ورکو و

د ما ديت د لوی فرعون د تيټک شپيلی ماتو و

د خوارمز دور ګوتو له څوکې د قلم ورکو و

د سرېتوب شهيد له پاک د ميني کور جورو و

د و ينو څاڅکي يې د مرود يو ګوا ورجورو و

پېښور پوهنتون - ۱۹۸۰/ ۲/ ۲۲

لنډۍ

داچې دلاس په تپا وېږې مړي
ورله په تشو چیغو کورجوړوي
دوی اندامونه په کفن پټوي
کورد اولس کې ځانله کورجوړوي

مزدوره ستادکارد کرموخولو
په سپین تندي کې روڼ سبا ښکاري
سوی تیرې یې تورولی نشي
رڼا تیروته هم رڼا ښکاري

سکنی لوګی له سره ولمبو پورته شو
چترشو، اورشونه وته څنګ د څڼو
زلفې په تورو زولنو خورې کړه
زنګ زنځیرونه اخلي رنګ د څڼو

پېښور کوزتهکال ۲۲/۳/۱۹۸۰

یوراز

ډیوې د سپینو ستررودی کړ ستر که د سبا ده
همت ته خوله شوی د تنکی شباب حیا ده
آئینه د سهر سپینه شوه دتورې شپې له توره
په پرخه د سبا ستر که راپړ ېږي ته نسکوره
ډیوې د نور جوُ په راوړه له شپې نه تر سهاره
رازونه شو ننداوکر یکه کړه د سترګو له اظهاره
دغږ مراندې اوږدې شولې د څمکې سینه لنده
تیاره، په سترنه راغله د را نه سهار له څنده
آواز په خاموشیو کې تر ده بر ولړ و خور شو
د شنو خاز و په تړو کې له یوه آوازه شور شو
ډیوه د خازی تته شوه، د برېښ د څل له زوره
آواز په راختلو دزلمی شهید له کوره
ویل یې چې غیرت څوانو کړ نو کې په جوش شي
همدغه د مرغه واندو ملتونو ننه وند کې هوش شي
څیښتن چې د نور لیکي، په رنو څیرو لیکي
تقدیر د ملتونو په تیرو تورو لیکي

پېښور، کوز تهکال ۔ ۱۹۸۰/ ٤ / ۱۲

وطن

وطن - وطن - وطن
زموږ د حیا تـــن

زموږ، د مینې کــور دی
زموږ د شهید ګور دی

زموږ د ژوند ون نښه
د مرګ ځیګرکې خښه

* * *

ستاغیږ زموږ ټولنه
د ژوند د پټ پالنــــه

ستارګ په موږ خړوب دی
دااوج د لېونتوب دی

موږ غوارو له تا مینه
ته غواړې زموږ وینه

زموږ وینه ستا مینه
ستا مینه زموږ وینه

* * *

رګونه ډک د وینې سینې ډکې د مینې
په یو بل، کې خورې شوې دا مینې او دا وینې
نو رګونه خدای پرې مه کړه د داسې پاکې وینې
چې سترګې تیتې نه شي د دې پښتنې مینې

* * *

زمونږ د خښتن کوره
زمونږ د شهید کوره
د لمر سترګې برېښېږي
د دې کاله د اوره

داغونه آئینې شوې
چې خیرې مو سینې شوې
د وینو داغ ته ناست یو
د خپل څراغ ته ناست یو

* * *

په خاورو کې دې پایو
هم دا خاورې دې ستایو

د وینو داغ ځلیږي، د تیږو له تورتنه
دا وینې مو د تن دي زمونږ د تن وطنه

غاټول دې شرابي شو، رضا ده او که زور دی
خیبر دې د هسک بام دی شمشاد په سترو سور دی

پښور یونیورسټي-۱۹۸۰/٤/۲۸

تلې - او - راتلې

موسکا چې د حیا پردو کې غلې پټېدله
لیمو کې د څراوښکو قافلې تلې او راتلې
مړ شواندی غوندې ساه به د ژوندون وغېږ کې میشته شوه
وږمې چې به دې زلفو کې خورې تلې او راتلې
کږو غوندې کتو دې امیدونه راژوندي کړه
ستم کې هم د مینې ولولې تلې او راتلې
په هره اشاره کې د باڼو دې غلې غلې
ځما د لېونې خیال سلسلې تلې او راتلې
شرنګا ستا د والو کې انګازې به شولې جوړې
دا ځکه خو جنت کې زلزلې تلې او راتلې
د زلفو په تیرو کې به دې غلې ورکېدلې
سپوږمۍ به چې تروري پلوشې تلې او راتلې
ستا شونډو کې نغمه وه زما آه ترور ترور وُ
دنیا د اسویلو کې هم نغمې تلې او راتلې
پښتو به دې ماشوم حسن کې غلې ځلېدله
د سترو په جرګه کې مالیدې تلې او راتلې

ام ټولګی حبیبیه کابل

دالاړې مشکلې شوې

نورې راته دا لاړې مشکلې شوې
لړزنده د ژوند د قدم تلې شوې

نه ړپي، دې ستړګې، د زړه خوب ته مې
ښه شوه چې مې خپلې څرګې خپلې شوې

ودې سومه، او ردې کرم لمبه دې کړم
ته لکه د توروتیرو غلې شوې

لاس د سوال جدا شولن څیرې شوه
چاویل دعا ګانې مې منلې شوې!

پرېوتې مې اوښکه د لمر ستړګې ته
ستړګې او س پرېڅو اوښکو بلې شوې

نیسه د خیر لاس دوربل سیوریو ته
دېرې نذرانې د ښکلو ښکلې شوې

زړه یې په بار خود خنجر څیرې کړو
لیپې، لیپې وینې پکې بلې شوې

پېښور پوهنتون - ۱۹۸۰/ ۵/ ۱۹

دلبونو اوښکو بهير

دې ستا ککو ته مې ککې نيسم
ستورو ته نيسمه سينې د ستورو
ځيګر پر پياسمه د اوښکو تل ته
ګوګل ته نيسم آئينې د ستورو

زړه مې راډک شي تر ليمه راشي
دا ډک ليمه مې څڅېدل غواړي
اوښکو له راوړه د پېرونې پېڅکې
ستورې تر هسکه د رختل غواړي

د سره سالوله تاره بند جوړ کړه
دلبونو، اوښکو بهير تړه
د زلفو خيال دې زنځيرونه پرې کړل
اوس مې د زلفو په زنځير تړه

يو بيستوی:-

دا خړ غرونه راتوی کړه، په دې سپين څاڅکي شبنم کې
دا ستوري راتربل کړه، په دې توره شپه د غم کې

پېښور پوهنتون - ۱۹۸۰/ ۵/ ۲۲

غزل

قباد ژوند د شپېو تنکه شوله
ځئ چې د ور ځو کرېوانونه شلوو
تنکي شونډې لېمې ځولۍ ځيرې نه شي
اوس به د خپل ځيګر زخمونه شلوو
د ګل موسکا کې زمونږ وينه نښته
په شنو ازغو يې سره زګونه شلوو
چې د ژوند و خوښيد و سره وپېت کړو
ورله د ورو نو کفنونه شلوو
دوی د افغان د بچو کور ورانوي
ځئ چې د دوی د پلار قبرونه شلوو

مردان - ۱۹۸۰ / ۵ / ۲۲

غزل

وینه مې د رکړه د زړه له تله — لاره دې نیسه زماله پله
دخم د خرو خاورو پې وځښه — هغه چې غوا ړې د خم له مُلَه
ایرې مې پوکړې له سرو سکرو تو — که اورترې اخلې دستور وځله
د شهیدانو وینې څلیږي — دقام په لارو، له هره پَلَه
مونږ به اوس تندر، بیووکې سیزو — ته به بې ښکنګ وړې؟ د ریوو غله
لدې ازغنو څرېکویې واخله — موسکا د زخم د ښاځکې ګله
ځئ چې بې کورو خلکو له جور کړو — سل زره کوره، له یو محله
د آزادیو، مرې راپر پیووت — د سرو څپلو نولو له تور بورجله
کفن ترې پرې د حق شهید له — تارونه ورکړه، له تور وربله
چېرته یو کوټ کې لمبه شوه بله
څومره شوه کوره، د تیرو د لـه

پیښور پوهنتون-کهیځ - ۱۹۸۰/ ۵/ ۲٤

لنډیزه

ځوانی مرګ د جنون یاده — د ژوندو خونه په تا ښاده
ستاله خاورو مې زړه جوړ دی — ستاله ګرده پکې ساده

لنډیزه

چې راځې په خپله غاړه اوبزې راوړه — دې شهیدله په ماښام دیوکی راوړه !
چې دعرش نظرېې لارکې په تیندک شي — د کربت وزرله هغه بلې راوړه!

کوز تهکال - ۱۹۷۸

شهید ته

دا د طور د راپرېوتو لمبو ځل دئ
د زردشت د نغرو اور بلې بل دئ

دا ولس تقدیر، د دې ورغو وتل دئ
د آسمان ستوري، د ده د لارو پل دئ

دا شهید، دو بو، تړو لپښتنو دئ
دا د خدای شهید، شهید مې د پښتو دئ

له هغه و نو یې وطن له مې تن ورکړه
دا ولس تن له، له ده نه وطن ورکړه

د هېواد، د لوېو پټ سر توري مه شه
ځوان شهیده، یو ځپک د کفن ورکړه

د میوند د ملالې مېړنۍ ورې ورې
خدای د رکوري، سترګې پورته کړه ورکوره

تور سکوت د فولادي توروشړنګ غواړي
دوی د تورو، د بچورو نه جنګ غواړي

زور هېواد له موځوانانو وینې ورکړي
اوس به پورترې سره ګلونه د رنګ غواړي

مېړني دي چې ښکار بېړي په لښکر کې
اوس به بلې د یوې راوړي په پرهر کې

نوی کلی-شاهپور- سوات دواره اختر ورځ- ۱۹۸۰

پرېشاني

دافکر پرېشانه ، دالفاظو غوټې بندې
پلو د سحر نسيم د ماښام له توري کندې
په يوه موټې دستورو درنا کاروان بې ځانه
لمبه پرتکی پرېوت د تودو غرمو له شانه
وختونه د لې د لې ، تکني شو نه ولنو ته
د څنو توري څوکې يې لوګي کړه سپېلنو ته
آسمان په څمکه پرېوتو ، د سره وشرابو تاکه
دوی واک د خندا واخيست د پرهرسينو لمچاکه

پېښور ، يونيورسټي هاسټل نمبر ۵
۱۹۸۰

سره لار

يوه ساء وه چې د درد ، دا ندامونو
د ركونو په تارونوكې سره شوه
سره لمبه چې د درشې وتكې ښكاره وه
دكوشې په كړ ليچونوكې سره شوه
وررسيږه لېونتوبه چې موسكا يې
د سينې په پرهارونوكې سره شوه
جوړه زما د مينتوب اثر ښكاره شو
ثريا مې په داغونوكې سره شوه
ورشه اوردې دموسكاډيوولۀ كوره
اوښكه خپلوكړيوانونوكې سره شوه
ځۀ ، چې وينې د ساقي له شونډو زبښنو
دتاك وينه په جامونوكې سره شوه
ستا دسروغرمودلمرغرمنۍ وينه
دماښام په څراغونوكې سره شوه

پرده پوښه محبته ژار سپېره

رسوائي په بازارونو کې سره شوه

کوټ شراب مې د پرهر چاک کې راتوی کړه

توده ساه مې په رګونو کې سړه شوه

د ګناه اور دې له شونډو په ما پوکه

چې ځواني مې ثوابونو کې سره شوه

جوړ د ریاد شوم په لیمو دې او ښکې د زړه شوې

چې مې لار په قدمونو کې سره شوه

لنډیزه

دا ژمان د دیوکو رڼا تتېرې

ورله ځل د کهکشان له بریښنه راوره

زیرېځن شو انګی د ګل د مېنی

لپه وینه د ځیګر له ویخه راوړه

پښتور پوهنتون

۲۸ / ۹ /۱۹۸۰

غزل

ای زما کسوکې پته، ای له اوره ناخبره
زه مې کسو ته اور نیسم، ته لمن کړه له اوره که

له بامونو شراب توی شو، کنډولو کې چم ځائیږي
دا کوڅه په جنون مسته، هره تیږه له شوره که

ماساقي له کړوی ونیو، خم مې سترګو کې راتش که
او ښکو رنګ شرابي راوړه، پیمانه شوه په زوره که

مړتی غوښه د زړه اور شوه، د سینې اور کې درزیږي
اور ته پاڅي، اور ته کښیني، اور ته ناڅي له اوره که

د خمار بې پتو پیغلو، لیونی دار ته ورخیږي
په ځولو کې کنډولي وړي، لمن ستاسې په توره که

خیر دی وخانده موسکې شه، ماله پوره د ګناه راکه
د ځوانۍ پانه مې توره، د تورو نو په پوره که

ته دې کور د تورو، سترګو، لږ د خیال کوڅې له راوړه
چې دا کور شي په کوڅه کې، دا کوڅه شي په کوره که

پېښور ـ ۱۹۸۰/۱۱/۱۶

افغان شهيد ته!

داشعر دکابل دهغو ميړنو شهيدانو په نوم دی، چې د ۱۳۵۸ کال
دحوت په مياشت کې، د روسي ليوانو په خلاف په مظاهروکې شهيدان
شويدی

* * *

کفنونه مو زلمو له سره تاو کړل

اوس به سر د زورور له تن پرېوځي

دظلمت د تورو شپو په شهيد ستوري

د سهار د پلوشو کفن پرېوځي

* * *

په تور بخن وات مې شهيد را پرېووت

سلګی یې خاورو د وطن تولې کړې

زړلی بچوری یې توبتې، تو بتې شو

مور یې توکری توکرې د تن تولې کړې

* * *

غزل

پتنګ هله په راز د سوزوونکي مین پوه شو
چې اوښکې یې د شمع په لیمو کې ولیدې

زخمونه پرهرونه مې نګاره بیا تازه شو
چې سرې غوټۍ مې ستا تورو کمڅو کې ولیدې

زاهده دلته راشه چې دې پوه په فلسفه کړم
ما حورې د اشنا د خیرکو څوکې ولیدې

د نازه نه په شونډو کې موسکې شو مخ یې واړاو
ډالۍ چې یې د اوښکو په څولو کې ولیدې

د ښکلي مخ شوګیر کې د سپېږمۍ دنیا ته لاړم
رڼاوې مې د هجر په تیرو کې ولیدې

د ښکلو د حسن و غرور هله به نسکور شي
خودي که یې زخمي زړګو کې ولیدې

ننته «۱۲» د جنورۍ ۱۹۷۳

ایمان یې سروسترګو ته بند وتاړه
آمو داوښکو که کښې دکې کړي
دخپل شهید له یاقوتي خاورو نه
لیې دمیني لیونی دکې کړي

* * *

دګل په رنګ یې پرهارونه رنګ شو
د پرهارو وینه یې غوټی غوټی شوه
خوریې د وروور ګفن د سر سالو کړو
سایې په ستونی کې سلګی سلګی شوه

* * *

دآسمانونو تنې وخوځېدې
شو بل زلمی په وړاندې ګام کېښود
تیت شو، او خاوري د وطن یې ښکل کړې
حورو په مخکې ورته جام کېښود

* * *

ځمکه د لمر له سره وګرځېده
شپږ دوینو څراغونه بل کړه
دځوانیمرګي سحر خلاصو سترګو
ایله د تورماښام داغونه بل کړه

* * *

جو رد زندان د دیوالونو ویـــخ ته
د خپلواکیو کهکشان را پر یووت
د توري شپې په تور سپیره بوګن کې
د رڼا اووه پوره آسمان را پر یووت

* * *

په تور تتو یک پر هــار پر هــار سینه یې
د آزادی د لمبکړ نخښه شــــوله
د خدای جنډه یې په منګول کې کلکه
د مرګ په ســره ځیګرکي بنخه شوله

* * *

د ښکیــالو د وطن وچي د ښتي
د انقلاب د خُـــتن وربم لـــري
شهید یې ښخ کړلو په شــنه سالوکې
اوس هر سالو د کفــن وربم لـــري

* * *

په سرو بمونو وران کورونه کــوره
د آزادی زړوکي نیزي ښـــخې دی
په راکټونو غلبــل شوی ســینې
دا ددې ســرو د عدالت نخښې دی

* * *

زما وطن دشهیدانو وطن
دوږو تږو پښتنو خونه ده
دغه دلمر د راختلو چم دی
داد توحید د میړنو خونه ده

* * *

د جماتونو محرابي تندي یې
بل څراغونه دایمان لري
زمونږ په تورو قسمتونو مه شه
تورما نښامونه کهکشان لري

* * *

دا پیمانه زمونږ د وینو آمو
د آزادیو بهیر کښینه
چې د تاشقند په شپو کې لمر راخیږي
مونږ د هغو ورځو تقدیر کښینه

سید جمال الدین افغان
پنځم نمبر هاستل
پېښور پوهنتون
۱۹۸۰

لنډیزه

څوند یو سکوت وو، مرکونی تیرشو   چې څنګه تیرشو، هغسي هیر شو
هیره مې مه شه پښتنه مینه   زور د بیلتون یې رابانديې دیرشو

غزل

دېک شو زما د پرهار ونو کسي
اوس خوږې وکنده په تار د څمنو
د څمنو څوکې دې په خال خوږې کړه
ستورو ته لار، وکړه، په لار د څمنو
د ثوابونو تلې سپکې شولې
لږې درنې شه، په امبار د څمنو
خرو چینوکې لمبې وزغلیدې
جوړ پیرې پرېوتې، په ښار د څمنو
ته دې داشین سالو کفن کړه ماله
زه هم دا اوس ځانګم په دار د څمنو
نظرې ستا ترېخه لاره وکړه
د لارې څنګ ته شو ریبار د څمنو
په هر قدم یې لیونې پراته دي
بېلتونه تېر نشې په لار د څمنو
ښه ده، دامینه ځوانې مرګه ښه ده

خو:-
تور دې امبار مه شه په بار د څمنو
په دار دې وترلم، دار د څمنو
ګور ته مې کوز کړه، په هر تار د څمنو

پېښور پوهنتون-۱۹۸۱/۲/۲۲

سرې جنډې مو ورله دوه پوکه ایرې کړې

دفولادو د ټینکو نو خولې کړې شوې
د ماشوم واره افغان له یوه سوکه
اسرافیله مرتیا شقند ته په شپېلۍ کې
د پامیر د سر د رو سیلۍ ورپوکه
اوس څه خیر د زورورو د سر نشته
مونږ تر عرشه رسوو د شملو څوکه
د وارسا د زندانونو سکوت مات شو
د سرې شوکې په کور پرېوتله شوکه
مونږ د خپل شهید تر ګوره نذر یو وړه
په دروکې د ځلمو د تکبیر کوکه
نو - د هلال په تېغ مو خونې ورسپېرې کړې
سرې جنډې مو ورله دوه پوکه ایرې کړې

قافلې د آزادۍ خوځي له مونږ نه
د قدم له انګازو نه مو دم اخلي

په مړګی موکور د زر، د زور تالا کړو
دا تقدیر دی زور، زموږه نه غم اخلی
ګرمې وینې مو د خدای هیواد کې ډنډ کړې
دوارسا مځکې له دې ډنډه نم اخلي
په یو دم مو زرګلن جنون تازه شو
چاویل چې تم سیلاب به قدم اخلي
د هیواد پېغلې دې څښې نیم کښو کړې
سپین هلال به راختلو له چم اخلی
نو- بریښي د تورو څوکې زموږ د منزلونو
پسرلی موکو ګړي ښکول کړی د ګلونو
د توحید د میړنیو په رکاب دی
ابا سیند دی که فرات دی که چناب دی
آسمانونه مو د رب جنډو ته ټیټ کړه
دا د رب جنډې زموږ د تاریخ باب دی
ټول آمو د حرم خاورو ته ورمات کړې
نن خودغه د حرم د ختو آب دی
له دې اوره د سرو ځمکو تنې سیزو
موږ د لمر په تن کړلی انقلاب دی
کڼ لاسونه د شهید په کفن کېږدې
کڼ تارونه یې زموږ د خدای تناب دی

نوې دغه ستورې شهيدان دتوروشپو دی
جنازې به په اوږو دکوم سبا وړی
پرهرونه دځوانانو ښـــراغـــونه
دحرم له ميناروونه به رڼـا وړي

✤ ✤ ✤ ✤

دځلموتږوورځوځ، رګ به خــولـه شي
لمربه خوله په رخسارونو دسحرږ دي
دحرم بنياد په هغوتيږو جوړ شـه
چې شهيد پرې په وروستوسلګوکې سرږدي

۱۹۸۱ - سپتمبر ✤ ✤ ✤

خپلې خوږې مورته

ځان به مې مورې ستا دعاته پرېږدم
خوماسره څه دی چې يې تا ته پرېږدم ؟
چې ستا درشل مې قدمونه نيســـي
دژوند دا سترې لارې چا ته پرېږدم؟

دااختر دا گل زمونږ د قربانیو

دتوحید د مېړنو د ځوانو ژوند دی
څه به تېر شي چې د دار په څوکو نه وي؟
دا اختر دا گل زمونږ د قربانیو
را رژېږي که د خار په څوکو نه وي؟

ورزندی شه د گناه د زور احساس ته
د هېواد د حیا ناکو پېغلو پته
د وطن بچې د خدای په رضا ومره
د ایمان د ابراهیم له روایته

اوبه کېږدی د ځلمو وینو په دنډکې
د شفق دغه هلال به اختر راوړي
په بهونو د زخمي ماشوم له تنه
د توحید تنکي تېغونه به سر راوړي

پرسېتې به په قلم کوتو په خپله
له دې ستورو نه نیمزالو له خال کېږدی
دا بلې چې آسمانونو ته ور رسي
خدای بردلته دا ختر و هلال کېږدي

چې آسمان مود شهید و ده یو کېـــو
جنازې په شفقي کفن کې راوړي
یخ وهـلی توري پربنې هندوکش بـه
ترهغه اختره، لمر په تن کې راوړي

خو - دا خوږې وږې توکرې، توکرې وریځې
د توحید دیوه خم په تل کې توی شـه
لمر ته څېرد لمنو لـه پــیـــونـــده
په دې سیوروطن بچوړی لوی شـه

کنې دا خـواره خوبونه ګـنـاهـــونه
څُ دا زړکسی رانده کړو یو خوب واخلو
مونږ شهوندی د آزادی دلیـر نتـــوبه
په خپل سر به د خپل سرلیونتوب واخلو

بیا درب جنډې به یوسو تر آسمـــا نه
قرآنونه به د زړه وطن کې کـېږدو
لمر به سیځو - د خپلواک اختر ما بنام تـه
آسمانونه به د ځمکې تن کې کـېږدو

د ۱۹۸۱ کال د لوی اختر په مشه

همدا تاسو آزادي يئ همدا تاسو انقلاب يئ

شنه جوپه د آزادیو گرد د لاروکې ختن وري
چې د خدای ځلمي مې خدای له په کولو شپیللی تن وری

—— .... ——

دافغان هیواد بچوړی د ملالې په پل پل ږدي
لوېښتې له ملانه تاوکړي په سرونوتا وکفن وړي

—— .... ——

د سولو پړی وراسته شو د ځلمو عزم پرې کلک شو
زرغړی په دار سورې شوې یو پامیر تر هسکه هسک شو

—— .... ——

گرمې گرمې وینې تری شوې په آموکې سیلاب راغی
دافغان له انقلابه دانسان انقلاب راغی

—— .... ——

نری تار دلوکو وخوت د سرو، سورآسمان نسکور شو
لوېښتې ورته لوکی شوې د ځلمو پرهر تکور شو

—— .... ——

دوالوشرنگ

مراوي شړونډون به طوفاني غونډي شي
که طوفاني شرلو غورځنګ لېوني
تش د ښا ښت د سرو شرابو ساقي
لري کنه رباب و چنګ لېوني
ستا د محل نخښې به پاتې نشي
که لېونو واخيسته رنګ لېوني
د لوپټي دې زارکړيوان مې واخله
راشه چې درکړم اشنا ښکنګ لېوني
دچا دعشق دلېونتوب دې خير وي
ستاپه والوکې شرلو مشرنګ لېوني

لنډيزه

ورخود دار رسوله دروني منزل په لټه
د دې مرشړواندو سلګو دژوندون لارې لټوو
دچا شهيد دکفن پاکه لمن خير وو
د ترمو ترمووينو ترورې دارې لټوو

۱۹۷۲-دجنورۍ ۳۱ نېټه کابل

اوس د داغ وینو له تله   د ګلونو سره راخېژي
د شهید په تندی لیک وو   «په پامیر به لمر راخېژي»

ډک سرپټ خمان راتوی شو   سرمستي زمونږ د جام وه
په لمبو سره ستوري وسو   ابتدا د کوم قیام وه؟

مونږ د دار تختو له لاړو   دی راپرېوتو له تخته
اوس یې شنو کا نوکې وژنو   مږ به شکر له دې بخته

لمر دې درځو راخېژي   داد شرق داتل ګوردی
له کوځو یې عرش ته لاړ ده   سپین هلال یې په بام سور دی

د تېرو تورو وطن وُ   نه یې لوړ نه یې ښتک شو
د توحید خم ته راتوی شو   څه آموشو څه اتک شو

نو - پرګنې مو د خدای ښنګ ته   د هیواد له خوا نه پایي
دا د یوې چې شپوکې سېزو   دا زمونږ له سا نه پایي

په بونو وران کورونه   خیر که زخم د وطن دی
انقلاب مو ترې ښېرازه   آزادیوله ترې تن دی

چونک د وینو لپه لپه شرنک دتوروبه اوج اخلي
دماسکوچینی پخې کړه آموساه اخلی موج اخلي

دوارسا دزندان خلکو مونږ په مرګ کې ژوندون پالو
لږ څه ودرېږئ درسو زوږ دستورد پښتون پالو

چې د وینو څراغ بل کړي دایمان په محرابونو
چا هغه خلک وژلي؟ په سولو او په دارونو

اخیر مرګ اوسکوت مات شو دتیروتورو له شرنګه
خومات نشو سترې نشو دا دخدای اولس له جنګه

پام اولسه په شانشئ دې صفونو ته محراب یئ
همدا تاسو آزادی یئ همدا تاسو انقلاب یئ

١٤/٨/١٩٨١

په وړاندې

دا يو قدم په وړاندې دا بل قدم په وړاندې
د خدای د رحمت لاندې د هسک په بلو باندې

په وړاندې په وړاندې دا بل قدم په وړاندې
ځئ پل په وړاندې کېږدئ په خونړه د سبا کې
د لمر سترګه راخېژي د ګرد په خړه سا کې
چې ډکې لپې يوسي حسين د آزاديو
فرات د وينو مات کړئ د شړوند په کربلا کې
يو خال مو د نيمزالي د خپل شهيد له وينو
محراب د غيرت ودرېد په تنده د حيا کې
زندان يې ورله مات کړو مورچل بو ورله مات کړي
سرکښته ځلمي راغلل سرلوړي سينې چاکې
د مرګ توره سکوته د مرګ په خونخور شه
مونږ لار لټوو، ځانله د تورو په رڼا کې

نو- د دې تورو له شړنګه، د سرود مرګي ساندې
په ورانډې، په ورانډې دابل قدم په ورانډې

ځواني مه اوسه تاندې، د خدای د رحمت لاندې
په ورانډې، ښه ورانډې یو بل قدم په ورانډې

دا خلک ځي په ورانډې که ساه که تن کسر ځي
چې شپې تر کومه د رومي تر هغو به سحر ځي

سو ما د آزادۍ پې سرور بخښلی سر ته
د خدای په لار و د رومي بر بنه ځي که نهر ځي

پرونی د نیمزالو د خیر په هسک خوار کړی
زمونږ به له وطنه د شر بچي په شـــر ځي

آمو به په خپل ول کې داسره سرونه دل کړي
په پښو تر کوره راغي تر کوره به په سر ځي

دا د نکې سولې هتولي زمونږ نظر ته نیتېي
ستا دار تر پښو راسي داسره له ویاړه بر ځي

نو- د هر قدم په دارکه، غرې شئ او بزانـدې
خو- ورانډې، ښه ورانډې یو بل قدم په ورانډې
ځئ نیسئ د خدای مراندې د هسک په بلو باندې
په ورانډې په ورانډې دابل قدم په ورانډې

۱/۱۱/۱۹۸۱

پریشانی

ای زما ساقي یو بل کوټ شراب راکړه
دعذاب له خمه لږ ثواب راکړه

ما د خپله لاسه مړکړه په خپل ځنګ کښي
چې مي کړي سلګۍ تال شي ستا په چنګ کې

په دي اور دي سپږغوانګي سړه کړه
د دي مړ کو دا ير و تندي سپېره کړه

چې په تال د ساه د شړ ښنا پېړۍ پښي ږدي
پرېښتي به ورته خپلي برخي پرېږدي

که دا وخاندي سل ګلي موسکا راوړي
عزرائیل به خاورو شو له سا راوړي

خو دا نو ردي د دي يو وستړګې تو دي کړي
دا دیوي دي ظلمت مړي لحظي مړي کړي

چې دا تا ندۀ اسویلي پورته لاړ واخلي
د دي وخت د پسرلو نه انبار واخلي

دا رختلي دعا ګانې د چا یوسـي
د حیا پلو محراب د دعا یوسـي

د دې لنډو تنګو ورځو کوکې څـیره
دې شهید له سپین پلو د کوکې څیره

نو-دا خیالونه د سکنو تیرو داغـونه
دا څراغ به دا داغونه درنه مـرکـړي

تو ل کوثر که مې یو کوټ د پیالې نشو
ما بېتزي ګناهونه درنه مـرکـړي

۲۳/۱۱/۱۹۸۱ - پېښور پوهنتون پنځم نمبر هاستل

٭

لنډیزه

د مرګي د هدیرو تربله سره — سیني و سپېړۍ چې ساه مو خپه نشي
دانسان د خپلواکۍ په پاکو تـکو — پام خولګۍ مو د زخمونو تپه نشي

۲۵/۱۲/۱۹۸۱ - پېښور پوهنتون

٭٭٭

لنډیزه

دا چې کورې کورې راغلي په هسک وریځې
دغه وریځې دا زغو تقدیر د کـل کـه

که دې، مونږ ازغو، له څوکو ګلان توی کره
مونږ به هم تقدیر د پېغلو دکا کل کـه

۲۵/۱۲/۱۹۸۱

دکابل توره جمعه

شومه دم د مرگ سکوت ته   اوس به مات شي د ژوند دم ته
گورپا للی تښتي رغړي   د ژوندو قدم قدم ته

❖ ❖ ❖

د دردونو سینه چاکه   بر یښ د تندر به لار وکړي
وخت د ورانګو غشي راښکل   په بلا شپو به وار وکړي

❖ ❖ ❖

زنځیرونه مات نیمګړي   تندراور وړي له چراغه
لمرجنډه د هلال اخلي   دوه پرې د زړه له داغه

❖ ❖ ❖

څړیکو لاره ژوند له ورکړه   د پرهر ترلې چاک ته
خم د وینو خمار توی کړو   د زړې میکدې تاک ته

❖ ❖ ❖

ډیوټکي د نور جوپه وړي   له پرونه تر سحره
لا ر د لمر پل ته روښانه   د زخمونو له څیګره

❖ ❖ ❖

د خپلواك ژوندون په بیه   د سرونو سودا وشوه
دیوې سلګۍ له ساه نه   سل وژلو له ساه وشوه

❖ ❖ ❖

زندانونه خلکومات کړه   د توحید له برکته
دغه زر خبرې تهولې   دیوه تکي له فطرته

❖ ❖ ❖

څکڅکۍ نوی شو آسمانونه   دآمو د څپو ولې کې
د سوماغوبتي پرانیزي   د کوثر د جام په تل کې

❖ ❖ ❖

حلق دوینو تکبیر ولوست   د بلا د سکوت کور کې
دسبا قیام څلمی شو   د پرېوتې ورځې کور کې

❖ ❖ ❖

سست غلام وختونه شنده شو   د رحمت دورېځو نم ته
د نیستي ساندې پوره کړې   مرګ د مرګ د شیطان غم ته

❖ ❖ ❖

چې صفونه یې محراب ته   د شهید لیمه څراغ کړې
شپه به هلته څنګه ورشي   چې لحظې د سجود داغ کړې

چې د وخت په تسلسل کې   د شپو کام غوټه نه وړي
مرګ پالسلی انتها به   په سلګو کې هلته څه وړي؟

* * *

هلته چرته چې وختونه   مطمئنه پڅان سنوري
د خپلواک فطرت څنګ وینه   لکه لپه جهان سنوري

* * *

هلته لمر ختلی فکر   له شفقه سلام اخلي
په مرګې د شبخون صف یې   صحیفې د الهام اخلي

* * *

وخت له خپل کړده چوړ لکه   چوړ لیدلی هلته ورشي
د پردې ابده ستړې   خپله خپل ازل ته ورشي

* * *

هلته پنډ د خړو خاورو   د قبرونو په سر بار دي
خو بولو شاه ځلمو ته   د تاریخ نیلی ایسار دي

* * *

هلته ګڼې دیوې وروړې   زړه مور لاس رپیدلی
زړه د توروشپو چاودلی   ځل دستورو ورکتلی

* * *

نو هلته ګوره شهیدانو   چې وطن پرې حساب اخلي
صف د وخت دانقلاب یې   له خازونه محراب اخلي

* * *

هغو زرو شهیدانو چې سلګی وطن له ورکړی
د کابل پټ مننو لوړنو لو پټې کفن له ورکړی

* * *

د ملالی د ناهیدې لوپټه د خدای جنډه شوه
مرګ په تورو سرکونو د کابل توره جمعه شوه

* * *

نو- دا خبره پیکه مه شه جبرئیل به تري راز اخلي
یو حدیث د آزادی دی له ازله آغاز اخلي

* * *

چې- پولینډ وښورید له مونږ نه د سره زور زوال پوره شو
خیرکه توره جمعه راغله د شهیدمې کال پوره شو

۱۹۸۱/۱۱/۲۵ سحرلس بجې- دا تواروځ

پېښور- یونیورسټی

لنډیزه

مونږ د زور د آسماني ثوکوله بامه
د ورو خونو پر پوتی بلی غوا ړو
دا یو ګل د سلو ګلو په خون ګل شو
په دې ګل د سروسکرو تو بلی غوارو

۱۹۸۰/۷/۲۲- شاپور- کانړا- سوات

د ز ړه څوب

څو مره نظري چې خوږې خوږې شوې
هومره څولي څولي غمونه ډېر شو
هره غمزه دې څوب د زړه شوه آشنا
دا خوله هيلونه دردونه ډېر شو
وږمو دې بيا زلفې خورې ورې کړې
خدايږو زما د خيال تالونه ډېر شو
ستا د حيا د سر پړوني شولو
خيرکه مې څيرې کړېوانونه ډېر شو

اتم توکي

لنډيزه

يوه شيبه دا ستا د پاکې مينې
دارمانونو تلوسو ډکه ده
خدايږو بيلتون راته پښتو پښتو شې
مينه دې تول له پښتو ډکه ده

۱۳۵۰

غزل

دا چې نن په سوال د بل د شال سیوروته ودرېږي
دوی به، بیا زمونږه د دېوال سیوروته ودرېږي

اوس سپرغو پوکلی ساه د اور ته کونه کرم کړه
شپې دي ترابده د مشال سوروته ودرېږي

لاس زما په کورکې د پښتو په وینو لړي
ستا د پښتنې تنده د خال سوروته ودرېږي

ستا په لوېښه یې ستا د مینې رسوا وتړل
اوس به خلقې ستا د دېوال سیوروته ودرېږي

صف چې د شهید له پرهرونو محراب بیاموي
خلک د زخمونو د کمال سیوروته و درېږي

لاړل لېونی د زور د دار پړې یې وشلول
راغلل چې د دار څنو د تال سیوروته ودرېږي

پاکُ توبې توبې پلو د خدای په شهید پرېوتو
اوس به فرښتې د چا د شال سیوروته ودرېږي ؟

ستا ځوانۍ زما د زولنو سیوروته ودرېده
څوک به لېونی داسې په کال سیوروته ودرېږي
دا اجل نیولی جل وهلی فکرڅه وېسي ؟؟...
خو بس هسې د سرو شوندو د خیال سیوروته ودرېږي
کور سیوري د دار زلفو په مراوو ستر کو پرېوتل
اوس به شهیدان هم د وبال سیوروته ودرېږي
پرېږدئ د کاندولوتوکرو کې زړه توټې توټې کړمه
هسې نه چې بیا د چا کولال سیوروته ودرېږي

لنډیزه

ډګران هېواد مېړنی مري بې نومه
په وچو شوندو او سپېرو برېتوکې
دلته اولس ژوندی د بېرو په تار
هلته وطن ګیر شو په سرو برېتوکې

⁂

د روس دیوه تورېځې نوکر په نوم

ای د سره فکر، مخ تورېځې لولی
پټه په توره چادری کې راځې
چې مونږ درځو په سپین کفن کې درځو
چې ته راځې په سره ډولۍ کې راځې
۱۹۸۲/۱۲/۷ - پېښور پوهنتون

غزل

ستا له آسمانه راپرېوتی مینه
زما په څمکه غورېدلی څولی
دا په څولی د ګلو او ښکې پرتې
دا په ګلو کې غرېدلی څولی
دوموه څولی لمده په اوښکو شوله
لکه په خپله ژرېدلی څولی
قدم نیولی دوریځ لمنو
دلوړو غرونو نرېدلی څولی
ما ته یې دارکړه د سالو تارونه
زما پرې تړوله غورېدلی څولی

۱۹۸۲ ❖❖❖

غزل

تا ځان له نوی حرم جوړ کړ لو د سرو وطن کي
دي سړو په مونږ او روته بل کړه د پښتو وطن کي

ته د شهیدو پرهرونو کسی نه شي لیدی
تا توري تیرې ټکولی د ګلو وطن کي

زما د میني د پښتو زړګی ټوټې ټوټې شو
تا د توپت خالونه جوړ کړه د چړو وطن کي

سر توری ګرځي مي د خدای د شهیدانو خوینديي
د سور تکر د شهیدانو لو پټو وطن کي

تا دا زغن بار خوله ګوره شپوله څه را کړي ؟
خو تشو غشو ته پرانته یو د بنو وطن کي

خدایزده د زوړ خوګلن یو څو سپرغی به وی او که نه
خو ستا اېري زړګی راسپړو د سیلو وطن کي

د ګل غوټو د څوانیمرګو درمندونو وینې
توګلي په شاړو راوریږي دا زغو وطن کي

د زلفو خم ته دي د مسکي شملي ول رامات که
څو مره پیکه تاوان دي ورکړو د پیکو وطن کي

ساه دوربل په تارکې نښلي دتندي په مځکو
کوم مسيحا به دارته خېژي دکعبو وطن کې
روغه تنه اندام اندام شوه د ننتکي په پرو
مم دزړګي پرې پرې شو د ننتکو وطن کې
خيرکه په سرو غشو کنهو د پرهرونو شو ندې
خو پيزوانونه سلامت شو د درخو وطن کې
نو: ځو سر بېرې لېونی له تا نه هسې تاودی
په تا خو خاورې امبار شوې د پښتو وطن کې

۱۰/۳/۱۹۸۳ - پېښور پوهنتون - دحقوقو پوهنځي
په مشاعره کې ولوستل شو

ٿ ٿ ٿ

لنډيزې

دغه غرونه، غرونه پوره ته
دا سمان ترسره لاس وړي
غاټول خولې په پرخو ډکې
درمندونه، دالماس وړي

.....

کاش دا اورمو د خپل کور په نغري کې
ساه د خدای له رضا را کاږي تازه شي
لو ر يا ميرد ا د ننګ محراب دلوړو غرونو
په کلکو نو شهيدانو دې خازه شي

———...———

زمونږ چاپېريال

ښومره ژيم سکوت
دوخت د ټک قدم تري نښتي
او د شپو د خوځيدو د ساه رګونو ته تري غوږ ږي پرتي
نظر په کي
د تورو تپکو د بي ځانه تن د خول زندانی
اوږ بي وچي
او فکر لنده
لکه داورې د غرمو لمر ته
د کل د بوټي دوري ځوانۍ
يو ښيک سيوري
او د سيوري ويخ ته
زما دليک د قلم ښنه غندله
د سپين کاغذ د پانو پنده نيولي

او د تخیل ځیلی مې
د چاپېرچل د خړو ځمکو د ورغوی د ډنډ
د مورګو نم نیولی
خوب نیم نم نیمګړی دا نمر
د نشت له ویری
د مرګ په غم
د خیم چو پټیا په خول کې
د هسک داوړی د لمر
د پلوشو د جولاګو تنستو جالو کې تم
نو ـ زړونو داژوند
اوږ دې اوښتې شپې
ستړې او مړه وختونه
د خړ کاغذ په پڼه کې
د فکر بند کامونه
پرېکړې ، نښتې ژبې
ګرم ضمیرونه
د ماتو ګوتو منځ کې
پټ قلمونه
د جنګ د بوال زرونه
په هر ور نهیت سرونه

او د چاپېرچل دخرو ځکو منځ کې
ولاړ ايسار ړندونه
ورته پرتې د تږو خلکو ډلې
ورته پرانه وچ او سپېره حلقونه
نو دلته دا ژوند -
يوه تس نس شوې لړۍ
بې ساه پې ټولې کړې
څه د تنک نښتې سپينې
څه د چوپتيا کړې
او د فکرونو لړې
دخپل هوا د ړندو مورګونه لمدې نه شوې
خو- په ليک پيوې پرېوځي.
ژوندی پرتې دي د قلم په ستونی
او د زورورو غرمې
ټولې خروبې دی دنم په ستونی

✣ ✣ ✣

سهار نه بجې ډاکټرز هاسټل پېښور
٣/٦/٨٣

غزل

چې ځان نه پېژني هغه خلک ځان خوري
ټول بې خدایه اولسونه انسانان خوري

که نهرله تسبیح ورکړي غنم نه وي
د جومات میشتېږ هم د خدای قرآن خوري

چې یوسر راځي که لمروي مه یې غواړه
په راتلو به دانه ستوری د آسمان خوري

بې نیازه فقر هیڅ د لوږې نه مري
غا ټول څه خوري یو څو څاڅکی د باران خوري

چې لاره وروي خدای پاللی خپلواکي له
هغه لارې خپل پاللی رېباران خوري

بېلتانه پاللي مینې رار سېږه
چې د وصل ګناه ونه یې جانان خوري

د ډېرې ژالې روایت ما ښام تت شو
چاویل چې ګوري شپې به کهکشان خوري

مونږ ه هسې د زړه ګرمې وینې ورکړې
د کوکي شونډې د سرو نرو پېزوان خوري

غټ کبان د سمندر واړه کبان خوري
په دې نوم ما سکونږ مونږ ه بدخشان خوري

۱۹/۷/۱۹۸۳

غزل

ساقي که ستا داخوي دپوره وي
زما به ستاکلي کې کوره وي

ست به دې کړي وو دشونډو څوکو
که پرې دسرو دپزوان زوره وي

چې دې رسوا کړي دراتللو ښکالو
ستادپاولو خوله کې دې شوره وي

زه به هم غلوم دمحراب ددېوو
که داد عشق دکفر توره وي

ما به نيولي وي د پېڅکولړې
که شين سالو دې سوال ته خوړ وي

مونږه به ستا له سره لمر ته کتل
که تورېکي دې په تيک سوره وي

سپرغۍ به ستاغوندي ماهم پوکلي
که مې دزوړ نغري اوره وي

مابه کوتلي وې دشونډو څوکې
که يې په سترگوکې پېغوره وي

ستاله چرگي دې ستوروا ور غوښتلي
خو زما دې خپل نغري توره وي

تندي دزور په دروازوکې تيت شول
کاش په دې چم کې دخداى کوره وي

۲۵ / ۷ / ۱۹۸۳

د فروري شپږم

۱۹۷۲

د هجر شپې

پرېږده چې نېشو کې يمه مست مستي مې خوښه ده
شېخه نور د حورو د ښکلا خبرې پرېږده

خوندکوي غمونه او ژړا د خوښو ډکه ده
چوپ شه لېونيه د خندا خبرې پرېږده

پرېږده چې پتنګ غوندې د يار له حسنه وګرځم
ماته د ژوندون او د بقا خبرې پرېږده

ګوره محبت کې د مستي خبرې خوندکوي
اى د حيا ډکې د حيا خبرې پرېږده

ډکې خو د هجر توري شپې دي له هستيو نه
غلې شه پتنګه د رڼا خبرې پرېږده

دلته خو «اكبره» يو جهان د فريبونو دى
بس که لېونيه د رښتيا خبرې پرېږده

دلارپوښتنه مه کوه

دلته دلار وركونه د لارپوښتنه مه کوه
لوټ بهیر ته کوره دسالارپوښتنه مه کوه

ټول دضمیر زرېي په کوټه کا سیره وپلورل
نرورونه د نرخ او دبازارپوښتنه مه کوه

څوك بر پټو زندی کړل، څوك دبیرو مراند و وترل
دي بدبختو خلکو کې د دارپوښتنه مه کوه

سترګې دی پیغوردی، اوسالودي مخ ته شپول نسي
یاره، اوس په دوی کې داغیارپوښتنه مه کوه

بس په یوه ځوکه یې ایمان او وجدان غوټه کړ
کوم ځای ته رسیږي، ددې تارپوښتنه مه کوه

موټی غنم واخله دوزخي لوږه دی غلی کړه
پورته په امبار دپروت ښامارپوښتنه مه کوه

هریو خپله لارلري، دخپل شیطان درشلي ته
خوله درله کندي، د خدای د لارپوښتنه مه کوه

مرګ د ضمیر وکړه د امیر د هوس خو نه کې
سر دې ورله ورکړه، د سردار پوښتنه مه کوه
ستا تنګه لمن ده او قبا خواري ول لري
ته دې لپه واخله، د خوار پوښتنه مه کوه
نو چې ستا د کمتو د مونډ لو دعا سپکه شي
پام پیره زمونږه د آزار پوښتنه مه کوه
وار د شهیدانو د پوښتنو خولا لرې دئ
اوس باده ګوزار کوه د وار پوښتنه مه کوه
ځه د هیواد ځوانه چې زړګی د خوګلن وسپړو
تشه دا یرونه د انکار پوښتنه مه کوه
نو: لوټ شوي د لوټ مارونه د لار پوښتنه مه کوه
هسې له چړونه د پرهار، پوښتنه مه کوه

٦/٨/١٩٨٣ ـ سحر اووه بجې، د اکټرز هاسټل پېښور ـ پنځم کال

***

لنډیزې

زمونږ په سر سیوری د خدای — زمونږ په ژبو توری د خدای
زمونږه زړونه د خدای له کوره — زمونږه لارې، لوری د خدای

❖ ❖ ❖

ته زما د اسویلو تقدیر ته ګوره — لا یې اوراخستی نه وی چې ساړه شي
اندېښنې چې تیندکونه خوري غورځیږي — قلمونه له فکرونو نه واره شي

افغان ولس ته غږ

د درو په تورو تیږو تورتېنکونه ورسوري کړي
سرو بور جلو کې خون وکړي د بوالونو ورسوري کړي
تور زندان یې ورله مات کړي تور زخمونه ورسوري کړي
د میوند په وچو غنو د دوی زړونه ورسوري کړي
د دوی زړونه ورسوري کړي د هیواد د ننګ بچوړو
د میرویس د فکر ځېلو د نازو د ثنګ بچوړو

په کورونو یې اوربل کړي په لښکرو یې یرغل کړي
د سرو وینو لمبې واخلي سپین فکرونه ورته بل کړي
تور تېنکونه ورله مات کړي هره تیږه ورته چل کړي
هره لاره کې یې مړه کړي هره لاره داجل کړي
چې یې سر د تن جدا شي خپل سرونه په دارلګ کړي
دا یې خدایه دومره مړه کړي چې د خدای هیواد یې پړه کړي
د تیرو تورو په څوکو دامرکوني سکوت خور کړي
سور ریبار د تور مرګي دی د تیرو چم کې یې تور کړي

دمحل دېوال ته زور کړئ سور محل پرې رانسکور کړئ
دمانۍ ویخ ته يې مرکړئ خپله خپوره لکور کړئ

دافغان بیرغ اوچت کړئ دآسمان په سرېې سور کړئ
داشهيدې ګرمې وينې دسرو رکونو اور کړئ

دخپښتن ساه مې توده شوه دشهيدې ساه له دمه
مونږ مشکوره داویارلي خدای خوشحاله دې غمه

بزګرانو بېل راواخلئ لرکينو تبر ته لاس کړئ
دهمت دخولوڅاڅکي دتارخه تندر الماس کړئ

ددې تږوفقيرانو، ددعا سنګرمو خلاص کړئ
دايمانه عمل جوړ کړئ سينې دکې په اخلاص کړئ

دا کومل، دستورولاړ کړئ داپامیر، دلمړه پاس کړئ
دښکېلاک دزنځيرونو، ددې محکواولس خلاص کړئ

څوځپه دخولو بوځئ دسروو ينو ترسيلا به
کاينات انقلابي کړئ، داسلام له انقلا به

۲۴/۱۰/۱۹۸٤

د ایمان تلې

یو څو کولمې د ډکېدو عادت دی
یو څو تنې د غځېدو عادت دي
یو څو برجونه له دې وريځو نه بر
یو څو چینې د نرېدو عادت دي
څه آسمانونه د زور لوړ دي آشنا
څه دا تندي د ټیټېدو عادت دي
څه ښاماران دي په کندوانو پراته
څه دا چمونه د دې غلو عادت دي
څه په لاړ ورکو سالارانو پسې
څه دا جوړې د لوټېدو عادت دي
یو څو خبرې د کولو نه دی
یو څو کیسې د پټېدو عادت دي
څه د وروړو حوصلې غځې نه دي
یو څه دا غټ د غځېدو عادت دي
څه قباګانې او شالونه کلک دي
څه دا شرې د شوکېدو عادت دي

څه کلمات دي د ایمان تلوکې

څه سوداګانې د پیسو عادت دي

څه څوک سرې داوریدلو نشته

څه دا ستهیجونه ددې خرو عادت دي

څه داظهار د جرأت خولې ما تیږي

څه دا شیبې د کنهېدو عادت دي

څه د شهوندون د آرزو پاتې نه دي

خوبس ککې د غړېدو عادت دي

څه په بازار د قباګانو زور دی

څه دا پګړې د زړېدو عادت دي

یو څه د غور تالی حلوا خوره ده

څه دا مچان د بنهېدو عادت دي

یو خود برېتو برکت ته ناست دي

یو څود بزیرواوبز دېدو عادت دي

ټول انهیبنتونه د وفا په دار شو

څه که خالونه د چړو عادت دي

نو جرمونه ټول د هیرېدو عادت دي

چا ویل چې غله د ویرېدو عادت دي؟!

١٧/١٠/١٩٨٤ * * *

دیوه خوربن ملګري دواده دمحفل په ویار

مسته، مسته دا ځواني
دا ځواني او دا خاني
دا دګلو ګیډۍ ګښې
دا دمیو ارزاني
دساقي لدیوه دمه
دبې دمو ودانې
ددې تاندې، تندې زورکې
ددې خم حکمراني
دجنون نخزانې ده کې
سپیره عقل تاواني
دوصال فرښتې خلاصې
دبېلتون دیو زنداني
غمې سرې شرابې سترګې
اننګې ارغواني

دکوکۍ په هرقدم کې
يولک حورې آسماني
ننني ارمان ومه ينه (ومه وينه)
عذابونه پخواني
نوراځه پيره پرېږدو پرې
د مردو مسلماني
د مردو مسلماني او د توبو پښيماني
د توبو پښيماني او د خيرونو بې ځاني
تېښک تکور دئ او جانان دئ
تال دئ سر دئ او ارمان دئ
نور دئ اور دئ او سرور دئ
نغرې د يو افغان دئ
په ورغوي کې مو مزکه
په قدم کې مو آسمان دئ
د د پوال د تاخ ډيوه ده
که کوم ستورې اويزان دئ
د ښايست خيال ته ټول ښارې
په يوه کل خو مره باران دئ
درنه و کړ ځم خوله راکړه
بخت مې وينښ لکه پېزوان دئ

نو- راځه پیره چې څښو یې
د اساقي موخپل جانان دئ
خیر که نه یان مو د ایمان دئ
خو سوما ساه ده، سوما ځان دئ
د لته شرنګ دئ په هر ترنګ دئ
په کتو دستر ګو جنګ دئ
ګرېوانو نه تول پاره دي
چې د زړونو کورپرې تنګ دئ
سپرلي غاړې پېغلتوب دئ
سپرلي رنګي د یار رنګ دئ
نه وې خُم دئ د شرابو
نه وې ډک د رمن د بنګ دئ
مست شو ګروه یې پاره کړه
ساقي هم د چاملنګ دئ
د لته هره غېږ د مینې
د لته هر شنګ د یار شنګ دئ
خیال دې ونښت په اوږې کې
فکر د رمن د لونګ دئ
نو- پیره لاس به په زړه کېږدو- په همدې کعبه مونږ دئ
چې یې مینې نه زړه تنګ دئ - د هغوسره موجنګ دئ
۱۹۸۵/۱۰/۳۱- پېښور

غزل

شـــال په ولو پروت دی وربل اخوادی
ځې لیونو ستا سواجل اخوا دی

خور دې پلو یوسه په دې راه درځـم
اوس مې له دې ستورونه پل اخـوا دی

زړه دې غل دحُسن، حُسن غل د زړه
دې خوا دې داغل که داغل اخـوا دی

ځې چې یې د سترګو خُمار وکـوټو
اخوا دې دیغلو وربل اخـوا دی

لاس مې ستا دزلفو په ول اخوا دی
ګلې لا نور شو مره مـنزل اخوا دی

❖ ❖ ❖ ۱۹۸۴- نومبر

ترږمۍ اوښکې

کوکې د ترږمو اوښکو امیلونو پورې خاندي
موسکی شوه د زړګوټي په غمونو پورې خاندي

له نازه چې په سترګو کې رقیب ته په خندا شي
نور څه نه دي خوښ زما آهونو پورې خاندي

ویل یار چې په کې نشته نو په حورو به زه څه کړم
زاهده اوس خو مینه جنتونو پورې خاندي

نغمو او سرودونو نه به څه جوړ کړې بلبله !
غوټۍ چې واکیدو کې ستا په وینو پوری خاندي

د ګلو د سور رنګ به ورله ولې قدر ور شي
د شونډو سورکی رنګ چې یې لالونو پورې خاندي

خودي هله په مینه غلبه وکړي اکبره
چې ښکلي دې په څیرو ګریوانونو پورې خاندي

۱۳۵۰ / ۱۱ / ۱۷

اتم ټولګی

غزل

لږ مې کاته کلوته پرېږده د ښو په څوکو
نظر له لارې جوړومه داز غو په څوکو

د خپل شهید د کفن ول له د سالو له تاره
د بیوستون بخې پوره کړه د بارخو په څوکو

تر هسکه وختې د شپو د د پوالو نو تنې
څله راخېژې سپوږمې مخې د بلو په څوکو

ما خو دمینې مرې خښ کړو د کفن په ول کې
تا دې اوس څله سالو خور کړو د خازو په څوکو

ستا د پېزوان پرې د ښار سرې خورو وخورې
مونږه به خپلې شونډې پرې کړو د چړو په څوکو

دوی د وطن د ښامارانو له خولو زهر کوتې
دا چې لالونډې پې تومبلې د نښتکو په څوکو

لاخو یوه لپه وینه شته د موږ تې زړه په چنګ کې
ته د حیا سرخې ساته د اننګو په څوکو

د خندا کانو درمن لوټ شو د سپرلې په څمکه
د ګل غوټو جنازې باردې د ازغو په څوکو

خیر که دې دنګې شوې دخنود ارونو لړه
دا لېونې به ورته و درېږي د لښو په څوکو

شاهین ټاون - پېښور - ۱۹۸۶ - ۳ - ۲٤

لنډیزې

توري تیږې دوزخي شیبې بربنډې
داغ ترې مه شه د سجود د لحظو تنډې
خیرکه دادګناهونو لښکرګڼې شو
لاخوشته دی د زړګي دکعبو څنډې

....

سړه سړه چوپتیا مرګونې، د تودو کړیکو حسرته
دغه غرخاموشي څیره، د دې غریو له برکته
خیرکه توروشیبوګڼ کړه مرګ پاللې ګناهونه
درنیا په چاره څیره د شهید سباز خمونه

....

لږ خوراوګوره دڅیرو پرهرونو کلې
کسې زما دزنځیرونو په کړوکې کیږده
مونږ پې دمینې له تومته دارته وترلو
دښمنه پلو پیڅکې زمونږ په هتکړوکې کیږده
راشه دتانده پیغلتوب نیمګړې پت پوره کړه
داشین خالې تنده په څوکو دچړوکې کیږده

* * *

۱۹۸۶

غزل

بیا چې بېلتون ستا د چم کوږونه ونیول
ټول لېونو د غرو سرونه ونیول

مونږ ه نوی لاري د جنون چرګې ته جوړې کړې
تا په پردی لار د پردو پلونه ونیول

هله ځوانه فکره د دې وړانګو زیلې وزبېښه
خیال د ګڼو کورو څنډو لونه ونیول

چا کمڅی زما د اسویلی سواره ته ګوري کړې
چا د هسک الوتي نیلي ملونه ونیول

ستا د شنو بنګړو د سرساتني دعاوشوله
پیرونه ولنو ته مو لاسونه ونیول

۱۹۸۶

زما ماشومې او افغانۍ خورې

ته اې زما د نیمو شپو د تصور ملګرې
زما مظلومې او افغانۍ خورې
زما د څریکو څوب او ږدې سندرې
ته - ساه دې ماته مه شه
ته - ګام دې مه نسبله
ته - پښې دې پرې مه وځه
ته چې په پښیابلو پایو
پل - پل په وراندې اخلې
او په ورو چاچوکو
د ماتو ښاتکو د ترلو کیږو
او یاد ژیرو ژیړلو پایو
د روند پنه په سرامبار کړې

* *

کاش هغه تول

هغه چې اورکړي دخیر په ځمکو

او دپامیر مرۍ ته

د تینګ دپیرزنځیر زندۍ پرېباسي

او بیازما د میړنو

د کیر وکنډول کې

د خپل هوس د تالاشوي نړۍ

د بې لمنې حسن

د جوته شوې خولې

خمار ګوټ کړي

دامن مورمړه کړي

د مرګ د سره شیطان دلور په څوکه

او دخپلواکۍ په خوله کې ژبې میخ کړي

د پولادي څټک د زور په څوکه

* *

کاش هغه تول

هغه چې نور وژني او ځان ساتي

او په جنتي هبواد مو

دا خپل زرګونه دوزخیان ساتي

د ژوند دامن په خوندي سیمه کې

زمونږ په وینو سره پسوځیان ساتي
زمونږ د وینو سودا نوکري ي
د خپل بادار دا یتمي منګول د چتړ ویخ ته
په خپلو لاسو
د هندوکش له سینې زړه وباسي
او دا بې پلاره
د خپل ابا له کوره
د خپل ابا سنګلي واره وباسي
نو- ته اې وړې خورکې
لکه د ګلو د تنکی کوکی- د پرخې د رنښت
چرته د بل وطن د ګڼ ښار د سړک په قیرو
د ګرم اورې د تود و پلو شو براس نه شې
زما د ژوند د نیمو شپو د تصور ملګرې
چرته د وړځولو ته پرې نه وځې ستړې نه شې
چرته ناروغه نه شې، د مرګ د لاس نه شې
کاش چې ریښې، ریښې لمنه زما
خورکې چرته په تا چتړ شولې
او کاش- هغه تول
هغه چې تا خوري-
هغه چې ما خوري

له ما نه تا خوري
له تا نه ما خوري
زيري تروې ژبې يې
زونږ د زخم په سينه پرتې دي
او دوزخي ګيډه يې
د شهيدانو
د پاکو وينو په چينه پرتې دي
هغه چې سر يې
د زور د تور شيطان تر دره رسي
او د ګناه سرې تن يې
د زور په زرسته،
د خدای د پاک کاله تر وره رسي
هغه شيطان چې په محراب کې اوسي
هغه چې اوسي دريا په خول کې
او زما په خدای مين ښاغلی زلمی
ومري د ده د جهالت په تول کې
د ده پټکی او قبا
د شهيدانو کفنونو غلا ده
او د ده دا ارته لمن
زما د کونډو د پړونو غلا ده

نو- ته دې پرونی په سرسم کړه خورې
لږ دې ګامونه ترما ، تم کړه خورې
سنه کښ خس ټول کړه
دغه د زړه نه د قلم واخله
واخله دخپل شهید له توغه لړګي
او په بمونو
دکنډوالو سوې بړګې راوړه
د مهاجر دکېږدی لاړې غونډه کړه
او د شهید دکټ بازو رامات که
سنه کښ لړګي راټول کړه
یوه سپرغۍ کړه دلوغونی چرګی
بل د شهید دګورلیتکي راواخله
نو خورکی !
نو رد دې خسو په غونډه شوې پنډه کې
داتوری زیری سره بریښونه سیزو
مونږه بې کوره په بیدیا خوشحاله
خو د دوی چتر او چتونه سیزو-

۱۱/۲/۱۹۸۶

د نهې ورځ - پېښور

د شهيدلوړکه دامن مور

خوږخوږغږونه تورې لړې پرې دپاسه
لکه هسکې چې مزکه ونيسي د لاسه

لمر د وړيځ د پاغوندو د جوپې لاندې
په شنه مزکه د نښترو لړې تاندې

پلوشې په ويلو پرخوکې ايسارې
داوبو کوټ کې داور د لمبو لاړې

له هرڅکه د سپرلي د سوماڅکو
جوړ د خداى له ساه نه شوندته د ساه څکو

د هسک پيڅکوته د وړيځو پلو سورو
کور د لمر د شپې په داسې راتلو چورو

چې بوډى ى د زرغون تال ليندى راښکلي
غشي وړانګې يې له چونګ او بوو ښکلي

کړې سپین خولې ماشومان په بلوګه وو
په دې چم په هغه چم په دلوګه وو

لاس ترلاسه وې دونوخړې دننګې
څنګ د خاوړو بچوړلې غړې دنګې

چې د مینې دلبکرو ترې برې و
دښروند مزکه وه د مرګ په کې لرې و

پرګنې وې چې د ماتې مخ ترې تور و
په تنو کې یې د خدای د ممتوڼ ور و

هره لاره یې د مینې تر درشله
هره تیره یې د خدای د پل له تله

د چمونو په چنو کې یې ویسا وه
په هر کړه کې یې د پاکې وینا سا وه

جنګ ته وتو شاه ځلمو به یې له کوره
لار د خدای تر کوره وه له خپله کوره

خو ناڅاپه دښروند سیمه مرګي لوټ کړه
د شپو تورښامار سینه د سپیدو کوټ کړه

سپرلي مرګي سیلۍ یووړه د سوما ګل
له پیغلوکو پیکو پرېووت د ځلما ګل

تو د خوبلن داور، د خړو خاورو ویخ شو
په څپک څپک د مزکې اندام میخ شو

چېرته یم

ناامیده شان امیدیم امیدونو کې پټ شوی
که نا شونې غوندې خیال یم په خیالونو کې پټ شوی

څه یو سوی شان له آه یم د چاړزړه کې غلی غلی
یا ښکاریږم بې منزله منزلونو کې پټ شوی

یا یو خیال ستا دادایم ، غلی ، غلی ، غلی ، غلی
ښکلی ستا په ښکلو ښکلو مکیزونو کې پټ شوی

یا یوه لو ښکه چې توییږي په کریوان د مظلومانو
که او به څاڅکی د پرخې چې ګلونو کې پټ شوی

یا آغاز یمه داو ښکو چې انجام مې خپل کریوان شي
یا ارمان د چا د مینې په دردونو کې پټ شوی

لکه یوه قطره شبنم چې د غنچې پاڼو کې پټ شي
داسې زه هم یمه یاره ستا خیالونو کې پټ شوی

۹ فروري ۱۹۷۲

مړې سرې سرې ته کړې د بم خولې شوې
مړې تنې د میرخمن د غم خوړې شوې

ماتې توري شوبلې پرېوتې پرکاله
توري تیرې دې خدایوله پاتاله

ګڼې سترګې وې دوینو د داغونو
تیارو ښبلې وې لمبې دښراغونو

په ګولو د سرو پاڼو تور وړغوي
چې پرې سترګې وړپوزې زړه پرې چوي

وران کورونه د چمونلړې ماتې
شل لاسونه پرې سرونه غړې ماتې

ما شوان پرهر پرهر شل اندامونه
لکه مات کړي د ښوندون تنکې تیغونه

چې سپږې دکوډ ماشوم دکتوتال وور
ګرمواوښکوېې د مورله زړني خال وور

تاومور چې وې د ځلمود خدای له کوره
لکه ګڼ بچړې تاوناست وي له موره

مات تندي چې دجومات په درشل پاس وو
مروبچوا یښې د مور په سالو لاس وو

سپاپیرې دخپلواکۍ وه د یو نیولې
دښوند هره سا له مرګه غږیږ نیولې

خم نسکور و کنډه ولې د مینې مات وو
موسکا مړه وه د غوټو کلي میرات وو

په هر پل د خدای د مړو هدیرې وې
مړې ډیوې وران نغرې سړې ایرې وې

ستورې هسې وو د هسک تاخ ته ختلي
لکه چا په بېدیا کښې کاڼي ویشتلي

هسې مړه د سپوږمۍ مخ و مکېزونه
لکه کوري، چې بې کوډه و تاویزونه

د ښایست هیلې د زړه تل کې سړې وې
دومره مړه وو چې د مرګ سترګې مړې وې

چې په دې کې د ټپې ای له ښنګه
یوه ماشومه غوټۍ نو مې غوټۍ ړنګه

د دې مړو منځ ته په منډه منډه راغله
تاویل جوړ د سپوږمۍ ماته خنده راغله

په دې منډو یې څادر له سره پرېووت
حاجي غانښی د بالغړه پرېووت

د سپېځلي شنه ښونه تانده تنه وه
د پیرزو د پرښتو لاسو کې شنه وه

په یو - یو مړي پرېوځي ورته ژړا ړي
سپېرې لپې ورته نیسي څه ترې غواړي

د شهید و شاه ځلموله سره تاوشي
ته وې جوړاو وراوړکې د لمره تاوشي

چې سرووینو ته وره بنا پېری ځیرشي
نښتې پښې یې خپله خپل پلتې زنځیر شي

سر پرې چورلي را پرېوزي خوپل اخلي
ژوندله مرګه پټیلي بدل اخلي

خپل وزر پرې جبرائیل د پاسه نیسي
د چامتېه د چالاس د لاسه نیسي

ټوله سیمه لوېشت په لوېشت له بمه ډکه
داوړه سینه له غتېه غمه ډکه

هسک او ځمکه د ګولولو له اوره سوېږي
د شیطان کانې د پت په جوپراوري

په هرکام ورته د سرووینو منګې دي
په سکروټو د ګولو نو اښکې دي

که د هسک له تندي ټول ستوري پرېوزي
خو ولاړ شپه د لمر پښو ته کېوزي

که په سرووینو د سیمې ماتم کېږي
خو د زور د سور غلیم کره غم کېږي

داغو ټې د مرګ له غمه ناخبره
له پرهره له مرهمه ناخبره

ډیوه کې د کرمو وینو به کړي بلې
چې ټخمونو له ورورې چاچې اتلې

اوس به ستوري ورته ټیټ شي پل پې ښکل کړي
داسې څوړې پلوشې ددې تکل کړي

نړۍ سپینه چې د میاشتې تنه برېښي
سپین سوچه زرد غوټۍ والوله زېښي

اخوا دې خوا غوټۍ کرځې په هر لوري
خدایږده څه دي لا د چا مړي به ګوري

د زخمونو درداو چغو په چم کرځې
داوړه حوره د څه شي په غم کرځې

په هر لوري سل او زر مړي پراته دی
د شپې ګیډه کې د لمر مړي پراته دی

د تیاره ولړمون د جنګ په خونړلن توددی
د ګولو په اور د ټخم برېښن لا رښو ددی

له همدې برېښنه غوټۍ ځي لاره اخلي
د تود وو وینو له چړه داره اخلي

مخ او تن په وینو سره ، سره یې لاسونه
وړاندې ځي خو ځي د کلو درمندونه

تن یې و موند اوس د مړه بابا سر ګوري
دالاکوم اوداورکی دی چې لمر ګوري

تن يې دلته لږ څه اخوا يې سر پروت و
د بلا شپې په کولموکې سحر پروت و

په ړانده لاس يې د تن سره سر کېښود
په وړه وړه منګولو يې غوږ کېښود

لور د مړه بابا په مړي راخوره شوه
د شيطان په سر سوحوره غرغره شوه

بابا پاڅه! بابا پاڅه! ورته ژاړي
په وړو چاچوکو پلار پاڅول غواړي

بابا پاڅه! بيو راغې تا به وخوري
کوږ ته څو بابا داړېږم ما به وخوري

بابا هلته به د مور خواکې ويده شو
ته خو پاڅه هسې نه چې دلته مړ شو

د بابا کالي راکاږي ورته ژاړي
لېونۍ سناپېرۍ څه له مړي غواړي

خود چاره چې د خدای دراتلو وروي
هغه مړي له بچورو څه خبروي

چې د خدای د ساله وږمه نه سا اخلي
لمر د هغو له زخمو نور رڼا اخلي

ژړغونې لور د پلار څنګ ته پرته ده
ته وای حوره د شيطان جنګ ته پرته ده

هر یو مړي ته ودرېږي ورته ژاړي
سپېرې لېچې ورته نیسي څه تري غواړي

جوړ د درد برېښ ته خندلی رامېل غواړي
په وصل وچا چو دستورو امېل غواړي

یا د لمر ذري تري غواړي بلېدو له
د دې تورو وېښو خونو رڼېدو له

یا تري جوړ د سبا ستر که خال له غواړي
یا تري کړې د لمر وړانګې تال له غواړي

یا په هر پل د رمندونه د ګل غواړي
ابدیت تري د ځلما د کاکل غواړي

یا په ستوري کې تري کړن کورونه غواړي
یا د حورونه د بڼ کورونه غواړي

په هر مړي وریږوځي ورته ژاړي
دا وړه ښنا پېړی څه له مړو غواړي

له شهیدو سره زخمونو پېپه اخلي
جوړ د ګل له درمندونو لېپه اخلي

ګله سره وینو ته کله ځان ته ځیر شي
مرګ په وړه شي چې داګله په ویر شي

خپلو لېچو ته اوسره وینو ته ګوري
د سلګونه يې د مړو زړګي ښوري

لوړي پاڅېده په غېږ کې دېلار سر بږدي
په لاس ونړود پامير په لمن لمر بړ دي

او- د شهيد بابا په لاس کې يې نينځکه
تورور ينبم ښې، وړوکی تنه سپکه

دا يې لور له وه اخستي په بازار کې
د وړو ښکلو کوچنو ښا يېرو ښار کې

د ننګ توره لا په وينو وه رنګ نه وه
خو نينځکه يې په وينو کې رنګ نه وه

لور د پلار په سينه پرېوته د پاسه
او سکو ړی اخلي د مړه بابا د لاسه

په اسمان کې لا داور جوپي خوځېږي
په خوږ ومزکو د وينو سيند خورېږي

چې په دې کې يوه کرمه کولي راغله
پرښتې له د دوزخه لولي راغله

د ماشومې پرښتې په تن سره شوه
د شهيد بابا ترڅنګه غوټۍ مړه شوه

د نينځکې تن په کرمو وينو سور شو
د پېرزو و روستني کلي و وچې چور شو

د نينځکې د توبرا ايره شوه پاتې
د ژوندون خونه آخر سپيره شوه پاتې

اور- ایرې خاورې اوو یني سره یو شوې

اوس ایله چې چېرته مېنې سره یو شوې

په دې وینو د نـکریزو پـورپوره شو

لاس یې سره شو د شهیدې کورپوره شو

برېښ وو، وځلید، سلګۍ وه چې سره شوه

د شهید لورکه دامورد امن مـره شـوه؟

د ۱۳٦٦ وری

پېښور

پرېوتې پُل

پرېوتی تندر به سیپی ماتې کړي
لـه ملغلرو نه به آب یـوسـي
په یوه شیبه کې به د سیند ترمنځه
په سیند پرېوتي پُل سیلاب یوسي
نو! سترېه ساقي بېرته کاله ته ستون شه
هسې نه خُم درنه دریاب یوسي
اوس به څوک څه تاله کلونه راوړي ؟
اوس به څوک څه ستانه شراب یوسي؟

* * *

۱۹۸۷-اپریل

زه او ته

ته - یو ګل دغره په سر کې
او زه - یو وړو کی شپونکی
زما نظر - زما له لاسو اوږد
تا ته در رسي
او زما د فکر دا بې پره وړانګې
خوا ته در رسي
خو - نه زه درتلی شم - نه در ختی شم
نه مې لاس رسي نه دې نیوی شم
زما نظر ستا د وجود په احساس
د سپرلو درمن زما خیال ته بخښي
او دا سپیلنی آرزو مې
چې څه هم مومي -
ستا د ښایست د نظر ما تې په نوم
ستا د ښایست د فن کمال ته بخښي
زما او ستا تر منځ زر کوږنه کامه
د هر یو کام وهل زر کاله غواړي
او دا تیاره زړګی مې - یو څوا نخښلی او سوچه پلوشي

انتظار

انتظار کې زما دوه سترګې څلور شوې
خوګوښتی مې د امید کله ګل کېږي
میخانې ته راشه وګوره زاهده
زما جام کې پټه ستا کعبه ځلېږي
کله ستا خیالونه پټ شي زما زړه کې
کله زړه مې غلی ستا خیال کې پټېږي
په جګړه د محبت او د خودۍ کې
زور د حسن او پښتو به معلومېږي

اتم ټولګی - ١٦/٢/١٩٧٢

لنډیزه

شپه را اوږده شوه تر ولاړ سحره
وربل د خونو ګل تنده ي له لاړ
پښنیا بله نظر د ځمو ځنده ته کوري
د کهکشان د نیلی منده ي له لاړ

بسم الله الرحمن الرحيم

لوی خدای

امېلونو کې د ستورو د شواو ښکو سلسلو کې
پټ ږولې د ثريا کې د وږمو په قافلو کې
د شپونکي د بين نغمه کې د مزدور تودو خولو کې
حيا کانو کې د پېغلو د زلمو په ولولو کې

څه بې ساري شان ږنه ده څه بې ساري شان نګينه
يوه ږنا غوندې خوشته دي لړۍ لړۍ سپينه سپينه

چې نغمه شي د بلبلو د ګلونو تبسم شي
د نيمزالې کوندې آه شي د يتيم د سترګو نم شي
پټ شي مينه د پتنګ کې په سلګو د شمعې نغښتې
عجيبه يې فلسفه ده هم مين شي هم صنم شي

لامحدوده شان هستي ده خپله مينه کې سنګينه
يوه رڼا غوندې خوشته دي لړۍ لړۍ سپينه سپينه

ستا په ګکو - دراختلي سپوږمۍ
د ږرږري وړانګوله جاله غواړي
زه - تش تالیدی شم
دغره د ډنګ ګمر په لوړه څرکه
څه که دا زړه - ستا د ساتني ارزوګاني لري
او دا سر ستا په وږمو کې
د سارا ښکلو سوداګانې لري
خو - نه زه درتلی شم نه درختی شم
نه مې لاس رسي نه دې نیوی شم
او - لارې زما او ستا تر منځه اوږدې
څه په زړګونو ګامه
چې د هر ګام وهل کلونه غواړي
دا ټول وختونه شنه - په ځای ولاړ دي
او فاصلې ثابتې
نو ای د ډنګ ګمر د څوکې ګله
تاله به درشم -
خو - که هغه خدای چې ستا د حسن د کمال خالق دی
د کن فیکون په رپ کې
په خپلو ټاندو او ږدو نرمو ګوتو
په خپله پرانیزي زمونږ نښتې ګامونه
په لنډو راکاږي دزمکو تناوونه

۱۹۸۷

قلم او علم

ځئ د ختو د محراب د یوکی کښیږدو
د مظلومو زندانی پرکینو چم کې
چې د مرګ بلا د زورکیږی وخوري
دالحاد، د دوزخي چم په ستم کې
د هغه چم و بېي مره شوماره نشو
تشي مالکې یې دوریږي په ملهم کې
دانسان دخپلواکۍ ساه تنه موهي
دشهید له خاو روجوړ ختومم کې
داقیام دئ داتکبیر دانقلاب به
اوږده ساه آخلي، دلنډ وسلکودم کې
انقلاب یې دهغو ځلمو له دمه
چې زړې ابي یې پرېښودی په غم کې
سر ایږي ستوري د سرو جنډو خالونه
دایمان د ببرښنو په قدم کې
خیرکه سره زوریې سر تږ ورقلم کړه
خوتر اوسه قلمونه وړې علم کې

۱۹۸۷

«دا شونتي مابله کړه»

د خوږغږو د شهید وینه څه وه
د - یری زوی مری ابی
د لاس دیوه وه
د خدای دپاکي پیرزو ساه بله کړه
او د سره د ښمن د شوبلي بله لمبه
چي دزلمي شهید په تن سره یده
د دوزخونو سره توده تیږه وه
د جنتونو په وطن سره یده
د شوبلي بله لمبه
د مرګ سپیري شومي بلا بله کړه
د نن سکښي ماښام
د یوه غریب شهید دکوندي سلګو
د یوي تیاري کیږدۍ چنړ ته ودراو

٭ ٭ ٭ ٭

نه د کېږدۍ دیوګی تېل لرل

نه یې د فرش چرګی کې اور بلېده

تول شراغونه درناو ښکلا

ګرمو ورغوو کې د زور بلېده

نو ـ د سلګواو دتیارو په منځ کې

او د کېږدۍ له وره نه

د ماښامی په کږ لیچنه لاره

یوه نیمزالي

چې خزاني یې د حیا لرلې

او صحیفې یې

د اولسونو د بقا لرلې

په وړاندې ولاړه

وړاندې

له کېږدۍ دېره لرې

لکه شفق د غره له څوکو اخوا

هلته یو ګور ؤ

او د نیمزالي لاسو

د تورشادر غوټه پلو پرانیستو

په کې یو څولیتکی شونتی پرتې وې

شونتی یې بلې کړلي

او شهید په ګور یې کېښودلي

د شپې په زړه کې یې رڼا بله کړه
او دې، د حیا پرېښتې ـ د خدای د پاکې پېرزو ساه بله کړه

* * *

یوې تورې شوېلې خېټه وړاندې راښکه
تن ورنه وخوځېد د یخې سیلۍ
او د غرځې د پلو د بند د ننه
جلاد فطرتې د ښمن
په سپېرو کوټو
د یوه ځلمي د زندۍ مړاندې راښکه
بیا هم تن وخوځېد د یخې سیلۍ
او یوه پېرځتي ـ د وسلې سوداګر
په پالنګي کټ کې
توره پګړۍ ګوزار کړه
له دې هم تن د سیلۍ وخوځېده
د خبرلوځو لفاظي بېغله شوه
او د ورځپاڼو پاڼې وخوځېدې
او د ستېجونو په سر
د شعارونو د هستو د ننه
په چیغو ناستو ستونو
چې کومې ساه پوکړې
او چې د وړو شهیدانو د خیرات په نامه

او خوار وچ دیګ مار وورته پوکي ورپوکړل
نو - له دغو ټولو پوکو
د سیلۍ تن وخوزېد
او هغه سیلۍ
په وراندې ولاړه
د ما ښامي په کږ لېچنه لاره
او هلته ورسېده
چرته چې بلې کړې نیمزالې پېغلې
یو څو شونتۍ د خپل شهید په خاورو
او دې سیلۍ هغه شونتۍ مړې کړې
خو - پېغله وروراندې شوله
شونتۍ یې بیا بله کړه
او کړیکه یې کړه
ته داو ښلی نه شې
دا شونتۍ ما بله کړه
دا شونتۍ خدای په خپله ساه بله کړه
دا یتیمانو په ژړا بله کړه
دا یوې کونډې په دُعا بله کړه
یوې نیمزالې په حیا بله کړه

پېښور - ۲۳/۳/۸۸

فارسي غزل

ماکفن بر شانه ها آورده ایم
لرزش کاشانه ها آورده ایم

شی از سجده های نیمه شب
در دل بت خانه ها آورده ایم

بازگیر از ظلمتش دامان صبح
مشت اسفند دانه ها آورده ایم

در نگه دایم، گره از زلف یار
خون در پیمانه ها آورده ایم

چیرکن امشب گریبان سبا
نور بام لانه ها آورده ایم

لحظهٔ سوز نفس از ما بگیر
پیک از ویرانه ها آورده ایم

خیز تا تاریکی ها آتش ببر
ما چراغ خانه ها آورده ایم

پوهنتون پشاور ۱۹۷۹/۴/۹

داشعر د هغه مرګونی امن په غندنه کې لیکل شوی چې د جینوا د تړون سوغات ؤ.

«مرګ پالونکی امن»

دا زما په هیواد
دا زما د ګړنو د ساه په خرک
د مرګ د تیرو دا خیم ښیي

* * *

داد زور د پا سوال
د ځړې کمال
چې د دار د رسو د تال تاریخ
د مړه مات امن
کافوري کفن
د بلا سکوت - د دلی ځنو
په ګړنو ونو تنسته تړي

* * *

او چې د خدای د پیغزو
په اسرو پایي

ARIC
B
3.532
AKB
2640

ډاکټر محمد اکبر اکبر

د یا میږ د ځوکو په سر بنایي
د شهید له وینو خړوبه شي
نن هغه بوټي د شړتیا نوکر
د شیطان په بیت
د مرګي په نږیږو تنسترتړي

* * *

دا سرو په پنجره کي
د ګیر طوطی
د وینا او پیښو
ورډ تنګه خوله
د سرو زور پاسوال
د شیطان په کمال
د فریبواو دروغو په شنه بڼ کي
په یوځو دانو د پیستوتړي

* * *

۱۲/٤/۱۹۸۸

پیښور

غزل

ځومره چې مې اوښکې زیاتېدو کې شوې
هومره دا موسکې شوه خندېده پسې
شوندو کې یې پټ د ناز جامونه وو
څه خوموسکا هم کړېده پسې
خوا کې یې پتنګ ایرې ایرې پروت وو
شمع په تیرو کې ژړېده پسې
خیال کې یې د زلفو د لیدو په یاد
شمع دا مید مې مړه کېده پسې
ځومره چې ظلمونه دیار زیات شولو
دا سې زما مینه زیاتېده پسې
هومره امیدونه مې ژوندي شولو
ځومره چې مکېزکې پټېده پسې

۱۳۵۰ د حوت ۱۴ نېټه

جلال آباد

موسکا

ستا له خوږې خوږې موسکانه آشنا
ما ته په مینه کې غمونه جوړ شو
چې ستا خیالونه لېونی شو ګُلې
هله ترې زړه کې امیدونه جوړ شو
چې زما مینه سپېلنۍ غوندې شوه
نو ترې د ښکلو ستمونه جوړ شو
د ښکلو ښکلو په کړو وکتلـــــو
د لېونو د خیال تالونه جوړ شو
د چا دمینې محبت خاطـــرې
د چا په زړه سوی داغونه جوړ شو

لنډیزه :

لکه یو زړه چې لېونی کړي مینه
د معشوقې د خیال کوڅو ته ګوري
داسې زما د او ښکو ډکې سترګې
ستا د ښکلاؤ پلوشو ته ګـــوري

نهم تولګی د حمل ۲۰ نېټه ۱۳۵۱

لېونیه!

ستا نیمزالي غوندې هیلې په مایوسو قافلو کې
یا د پېغلې شینکی خال کې یا د حسن پلوشو کې
د مستۍ په نامه مستې د مستۍ تشو پیالو کې
خپل منزل ورځنې ورک شي د پانزېبو په ښکالو کې

پاریدونکي دې زړګي کې چې د مینې ولولې شي
د ښکلا په دنیا ګۍ کې ورنه جوړې زلزلې شي

جوړ جهان د تخیل کړې نیمو نیمو خړو شپو کې
یا کندول کې یا مستۍ کې یا کړوو وړو باڼو کې
یا په تال د کمځوځانګې یا په غېږ د محبوبو کې
ځنګ رنګینو باندې سرشې په دنیا د لېونو کې

پټه پټه مسته مینه دې په زړه کې په مستۍ شي
بس د چا په څو نظرو له مستۍ نه لېونۍ شي

چه تیرېږي د زلفو یو شي هله جوړېږي ستا سحر شي
هغه ټول شي مینه مینه چې یو ځل پرې ستا نظر شي
ستا په مستو مستۍ مست شي کنه ولې په ګډا سر شي
د مستیو خوږې دومره میخانه کې هم اثر شي

میخانې درنه لوګي شه شنه جامونه درنه زار شه
ای د مینې لېونیه جنتونه درنه زار شه

د خوبونو یو تعبیر یې د خیالونو په ځولۍ کې
یا پیغام د سپین سهار یې د تیرو په دنیاګۍ کې
یا استازی یې د مینې پټ د حسن رنګینۍ کې
یا خوره وره مسکا یې پټو شونډو د غوټۍ کې

یوه نخښه یې د مینې د نازونو پیمانه کې
عجیبه ښکلې ساقي یې د سرو شونډو میخانه کې

کله دومره ځان کې ورک شي د شاعر د خیال دنیا شي
کله سوی محبت شي چې په اوښکو کې رسوا شي
یا یو آه شي غلی غلی یا ساماتې غونډې ساه شي
یا د مات زړګي په تل کې ماته ګوډه تمنا شي

یا ته زیری د سپرلی شي چي د ګل غنچي کي پيته شي
که یو سوز د رڅنی جوړ شي د رباب نغمي کي پيته شي

د خوبونو د خیالو نوله مستیو جوړ جهان یي
ټول یي هیله هیله هیله ټول امید یي ټول ارمان یي
د مستي په سمندر کي د غرور نه جوړ طوفان یي
خو یو څو څاڅکي د اوښکو په حضور کي د جانان یي

بهیدونکي ترمه اوښکه په ګریوان دي دردانه ده
عجیبه جوړه د میني ستا د میني افسانه ده

لنډیزه

زاهد تش په خوله د خدای نومونه اخلي
کمني دي خو د غلمانو په خیال مست دي
څوک د خیال بت لیوني کړي په کعبه کي
څوک په جوړه بت خانه کي بت پرست دي

دلیونو چیغه

موږ ځکه چې خپل سرور ته اوروو ته کړو
د خپل جانان شونډې موسکی موسکی کړو
ده ږي تور خال کې چې حوره ځای کړو
شیخي د شیخ ورته لولی لولی کړو
آه چې ورته مه کړو د ګڼو کوڅو کسې
د شپه رو ښي تیارې سپوږمۍ سپوږمۍ کړو
ساقي دیار ښایست ته وپسخو
د کوډو ان اوښکې چې کوکې کوکې کړو
موږ لیونی دکوم سپرلي په تمه
داد از غو جهان غوټی غوټی کړو
نهم ټولګی حبیبیه کابل

لنډیزه :-

د زور خاوند د زر خاوند را ونیو
ورله د زرو هټکرې کوري
د ځوند د وږو د وږو خونو خلک
د عرش بامونو کې مرۍ کوري

خیرخانه مینه
۱۶ / ٤ / ۱۳۵٦

څه یم...؟

یا یو آه یم چې د کونډې زړه د بدلی ساه کې پټ شم
یا د ورک شپونکی شپیلۍ کې چې نغمه شي پټه پټه
یا یوه سلګۍ د مینې د پتنګ له ایرو پاځي
ترموا ښکوکې د شمع چې سره شي پټه پټه
یا یوه لړزنده برښنا چې زړه د وریځو را سوری کړي
د آسمان په شنه څولۍ کې ځي خوره شي پټه پټه
یا آهو نه سوي لوي چې له خولې د زیارکښ وځي
د سپېرو شونډو د پاسه زمزمه شي پټه پټه
یا ارمان د چا د حسن د پرهار خړیکه کې ورک شي
که ارزو کې له غوږو نه چې وږمه شي پټه پټه
یا یوه کړیکه طوفاني چې د ځوانۍ د ژوندون ساه شي
یا له مړوا یرونه پورته یوه لمبه شي پټه پټه
یا د پرخې یوه اوښکه د سهار سپېڅلي غېږ کې
د غوټۍ خندلې خوله کې ځي خوره شي پټه پټه
یا کوکۍ چې خپل مین ته د سرو شونډو پیالې راوړي
له مکېزه تورو سترګو کې ترخه شي پټه پټه

یا د چاد پاولو شرنګ چې یو لېوال زړه ته ښکالو شي
را پیدا د خیال دنیا کې هنګامه شي پټه پټه
یا یوه خپه سلګۍ چې غلاده مینې راښکاره کړي
له حیا نه په مرۍ کې غرغره شي پټه پټه
نو !؟
وړوکی بس هم دا مې ژوند دی دا مې پټه خزانه ده
اوس نو وایاست چې موسکا ده که داوښکو پیمانه ده؟

لنډیزه

لکه آغاز د زړه د ځړیکې اشنا
پخپل انجام کې ځړیکه شومه
یا د نیمزالې هیلې مات احساس وم
شو نه وله راغلمه سوې کړیکه شومه

حبیبیه، نهم ټولګی

۱۳۵۱

غزل

هله مې پاکه مینه پاکه شوله
یکې دیار چې فریبونه پټ شو
ستا په کړو وړو وکتو کې اشنا
زما نیمزالي ارمانونه پټ شو
نغمه دې پرېوته په شونډو داسې
لکه وږمو کې چې ګلونه پټ شو
هره ادادې دزړکي څړیکه شي
ګوره ارزوکې هم دردونه پټ شو
دچا د تورو کمڅو تل کې خدایږو
دچا لاروکي امیدونه پټ شو
ستا موسکېدوکې خاطرې مستې شوې
داخو په مینه کې غمونه پټ شو
شېخ له کعبې نه میخانې ته راغی
چې مې کندول کې جنتونه پټ شو

۱۳۵۱ کال دجوزا دریمه نېټه کابل - حبیبه اتم ټوکې

غزل

د خو مايو سوار مانونو غېږ کې
د يو ځوا ونکو څخېدو په خاطر
د غه زرې پيمانې ماتې کړه ته
ساقي د نوو کندولو په خاطر
خپلې ځوانۍ ستا موسکا به يو کړم
تش د خيالونو خوړېدو په خاطر
يو ځو خو بونه دي تر نس غوندې شه
اشنا زما د شوګېرو په خاطر
ساقي ديار شونډو نښه نښه کړم
ستا د کندول د ماتېدو په خاطر
اسويلو لږ څه ګرندي غوندې شئ
د تورو زلفو خورېدو په خاطر

د جوزا دريمه ۱۳۵۱
حبيبيه - اتم متولکی

کله تالنده برښنا شي تندرونه ورکې ورک شي
کله اوښکه د شبنم شي سره ګلونه ورکې ورک شي
کله خیال د لېونو شي تورو زلفو کې ورک ېږي
کله آه د بې وسې شي طوفانونه ورکې ورک شي

لکه خیال د تورو سترګو هم خوږ ونکې هم حسینه
یوه رڼا غونډې خوشته دی لرې لرې سپینه سپینه

بت خانې د تصور کې د آشنا د شونډو رنګ شي
خماري غونډې نظر شي د کوکې د بنګړو شرنګ شي
یا یوه څړیکه د زړګي شي ورکه ورکه تمنا کې
یا ښکالو په انتظار کې کله لرې کله څنګ شي

که حیا د ښکلي پېغلې هم مستي شي او هم مینه
یوه رڼا غونډې خوشته دی لرې لرې سپینه سپینه

تورو وریځو کې رانغښتې بارانونو کې یې ژوند دی
د پرهر موسکا کې ورک شي ارمانونو کې یې ژوند دی
پټو پټو خاطرو کې د غمژن ژوندانه راز شي
د خوښیو تمنا ده په غمونو کې یې ژوند دی

دمیني غرور

ما چې داوښکو څڅېدوکې پټ که
که څه هم حسن دې طوفان شو
پاکې حیا یې مدهوشي راکړله
نن تخیل چې مې جانان جانان شو
پرهار د زړه یې راتازه غوندې کړو
دیدن یې هم راته هجران هجران شو
ماترلمنې یوړې څېرې کړلو
چې ستا بېړونې مې کړېوان کړېوان شو
اوښکې سرې چې مې کلوکې راوړې
ستا یست دیار ورته حیران حیران شو
ستاد ښکلا غرور نس غوندې شو
غرور دمینې چې افغان افغان شو

۱۳۵۱/۳/۲۸

حبیبیه کالج ـ کابل

غزل

زما مستۍ کې لیونتوب پیدا شو
دا د حیا نه چې موسکۍ غوندې شوه
څوکې په تل کې د لمځو پېټه کړه
چې مې آرزو وغوټۍ غوټۍ غوندې شوه
د پتنګ مینه چې لوګی لوګی شوه
او ښکود شمعې کې سلګۍ غوندې شوه
کله دې شوندو کله سترګو کې وې
اشنا دا مینه څوکوچنۍ غوندې شوه
ستا خاطر وکې څما ترمه اوښکه
تروږه پر پوټه موسکۍ غوندې شوه

۱۹۷۲ داګست لومړۍ نېټه
کابل

نره

اسویلی ځما نغمه ده یو څو اوښکې مې تصویر دی
هسې جوړ یم له مستیو د غرور هغه جنون یم

د نیا ګڼه کې دیوې او ښکې څه ترو رغونده احساس یم
طوفانونه چې ترې تښتي ستا د غېږ هغه سکون یم
تکنی غونډې سلګۍ مې ژوند د سترو رود نڅا شي
عجیبه مې فلسفه ده چې په مرګ کې هم ژوندون یم
ترمه وینه د زړګي مې د چا شین پرونی سور کړي
(نو:) د آشنا په شینکي خال کې زه د مات احساس شېخون یم
دا خیالونه مې تالاکړه دا ځوانی ځما لوګي کړه
خوشمله مې تېته نکړې ګوري پام کوه پښتون یم

د ۱۹۷۲ کال د اګست ۲۴ نېټه، کابل

لنډېزه

د چا د سرو شونډو رنګین خیالونه
په شوګیرو کې رنګیني راولي
شبخه پناه شه سپیلنی به دې کړي
دلته کې مینه لېونې راولي

مراحساس

لکه مړ شوه وانده اسوېلي له سپېرو شونډو پاڅي
د ېر ځوا ونکو سلسلو کې پټه دل غواړي

یا د سپوږمۍ له حسنه پورته پلوشې غوندې شي
د تورو شپو د لارې لیت شي ځلېدل غواړي

یا د سکنۍ ماښام شفق د ښکلو ستورو منځ کې
په شنو خالونو د آسمان کې ورکېدل غواړي

یا لکه مستې هنګامې دلیونیو هیلو
د زړه لړزانده دنیا ګې کې لړزېدل غواړي

یا د یوې د تورې شپې چوپه چوپتیا کې خدایږو
تش په هوس د سپین سهار چې سوزېدل غواړي

دا سې د مړاو وارزوګانو مر احساس هم آشنا
د زړه مړ شوې وانده دنیا ګې کې غوړېدل غواړي

۱۳۵۱ د جدی ۱۶ نېټه

زلمي شاعر ته

ای د زلمی شاعر احساسه را شه
داسې د مینې یو جهان جوړ کړه
چې د ستم د ښروند بقا ورک کړي
د تخیل نه دې طوفان جوړ کړه

د کوږو کوږو تورو زلفو په مخ
د پاکې مینې لېونتوب شه را شه
د چا فرهاد د حوصلو په خاطر
د چا شیرینې مینتوب شه را شه

تش د سورکو شونډو خیالونه پرېږده
د سپېرو شونډو ونه ګلونه جوړ کړه
ترمه خوله شه د بزګر په تندي
چیو چیو کې سیلابونه جوړ کړه

چې داازغی ازغی ماحول وخاندي
یوځوموسکې موسکې ګلونه راوړي
چې د سپرلي ساقي دمیو په تول
په کنډولوکې جنتونه راوړي

چې دخواوښکوپه ډولوکې پټې
د ننګینیو قافلې را شي
په وچوکانړووچود ښتوباندې
د ننګ غیرت ډکې وږمې را شي

چې د سپین غرد د نګوڅوکومنځ کې
دعظمتونو سره ګلونه ګل شي
دا با سین درنودرنو څپوکې
دځوانوزړونو همتونه ګل شي

چې د بخدي"۱" په مقدسه غیږ کې
د پښتونوالي ډیوګې بلې شي
هره سپرغۍ لمبه لمبه غوندې شي
خړوایروکې لمبګۍ بلې شي

"۱" بخدی - دافغانستان داوسنی بلخ پخوانی نوم

د خیبر تړې د آسمان لمن شي
پکې د ستورو اتڼونه جوړ شي
د کوندې آه د شنه سپرلي وږمې شي
د رحمتونو بارانونه جوړ شي

وراني جونګړي توري سمڅې
د وروولۍ په ډیوګوړ ښا شي
د تورو شپو تیری تیری لمنې
د سباوون په پلوشو ښا شي

توپتي توپتي کنډول ساقي شي
په کاڼو بوټو کې مستي خوره شي
سپېرو ملنګو کې غاټول وخاندي
د زړه داغونو کې هستي خوره شي

د هندوکش د غرو غرونو غېږ له
د پښتونخوا ناوې سینګار شي راشي
د سره ګلاب پاڼو کې پټه پرخه
وږمه وږمه بهار بهار شي راشي

د سوات ځانګړې د حسنونو پېغله
دطبیعت د ترنم زېرې شي
د تیراوال شپونکی لارورکی آواز
نغموکې پټ د زیروبم زېرې شي

چې د بامیان د بتکدو په غېږ کې
د پاکې مینې خاطرې ژوندۍ شي
د روهستان خوره وره سینه کې
د سروګلونو قافلې ژوندۍ شي

چې د خوشحال د نغرې بڅرکې
په نوې سوز کې نوې ساز راکړي
چې د رحمن د هدیرې ډیوکې
د حقیقې ژوندانه راز راکړي

چې د کونړ د مستو پېغلو نڅا
د مینې شور د غیرت زور جوړ شي
چې د تیرو دغه منزل مو پرې شي
په سپینو سترو کې مو کور جوړ شي

نو !

احساس داسي تقاضي نوې کړه
چې نوي سازکې حوصلې لوبوي
هغه مستي دې راښکاره غونډې کړه
چې تندرونه زلزلې لوبوي

ننګرهار

۱۳۵۱ د حوت اتمه نېټه

لنډېزه

ته ما ته مه ګوره تا نشم کتی
زما نظر رنډ دواسرو ته ګوري
که ما را ګوري نو زما کلی شه
زما کلی خپلو کلکو ته ګوري

۱۳۵۶/۱۱/۵

غورځنګ

جام کې د ميو رڼه کېدلې نشي
دا د غورځنګ د لولو قافلې
ډروند منزل ته رسېدل غواړي
د مظلومانو د سلګو قافلې
په تور اوربل کې پرک د ستورو کوري
کوکې زما د شوګيرو قافلې
نن د آسمان په لمن اورلګوي
د انقلاب د سرو لمبو قافلې
دلته اغزو، اغزو کې ورکې شولې
ځېښتنه ستا د پسرلو قافلې
دې ترږمي کې سپوږمۍ ته شوله
که راخورې شوې د کمخو قافلې
نور دې ترږندون کې يو بدلون راولي
دليونتوب د تلوسو قافلې

لنډيزه

ښکاريږي چې په مينه کې پښتو راسره ملګرې
دا ځکه د زړه شريکه مې خو د داره غونډې شي

۱۹۷۳ د مارچ ۲۵ ښيټه لسم توکې

د دیوې سلګو سلګو کی کله ژوند شي کله مړینه
یوه رنا غونډې خوشته دی لړې لړې سپینه سپینه

په تیرو د تورو شپو کې پلوشو د سباوون کې
په دنیا د اسویلو کې له سلګو نه ډک ژوندون کې
د شیخانو په کعبه کې د رندانو میخانــــو کې
د شاعر لیونی خیال کې فلسفو د افلاطون کې

د عرفان د شمعې پرک شي هڅو ړانګه یې زړه ینه
یوه رنا غونډې خوشته دی لړې لړې سپینه سپینه

نو !
ای دلړې رنا راشه دا تیرې تېرې فنا کړه
د یتیم په اسویلو کې د سرور دنیا پیدا کړه
د دې شپو زړکی سوری کړه د سبا دستړکي ځلا شه
د دې سپینو ستورو پرک شه کائنات رنا رنا کړه

ورور ولی راکې پیدا کړه بس د مینې یو تړون شه
ای د ټول جهان ځیښتنه یو سپرلی شه یو ژوندون شه

دپرهار سینه

دپرهار ونو ترمې سینې
ستا هره ځریکه کې طوفان پروت دی
غوټۍ موسکۍ شه ستا موسکا کې خدای بو
دشپې دخوا وښکو جهان پروت دی
ماشوم نظر کې مستـه مینه راکړه
داګیر چاپیره خو هجران پروت دی
هر تخیل مې دجنون دنیا شوه
چېرته خودي، چېرته جانان پروت دی

لسم ټولګی حبیبیه کالج کابل
۱۳۵۲

پاکه مینه

دا خود مینې ژنکلینې وه ساقي
چې له مستیو نه طوفان جوړ شو
توري اوښکې یکې ورکې شولې
ستا لو پته زما گریوان جوړ شو
د پاکې مینې لیونتوب دې پیره
دا چې هجران راته جانان جوړ شو
تنکی نیشې د جومات ورله بوتلم
کوردِ الله کې مې جهان جوړ شو
او توې اوښکې یکې وځلیدې
ځیرې لمن کې مې آسمان جوړ شو

لسم ټولگی حبیبیه کالج - ۱۳۵۲

لیونۍ کرېکه

دچا دسو و اسویلو په تل کې
دچا په سروشونډو نغمه پرېوته
کمڅۍ په مخ خورې ورې زلفې شوې
په سپین سهارې توره شپه پرېوته
دکونډې آه دچا شتمن ما نوکې
لیونۍ کرېکه شوه لړزه پرېوته
اوښکوکې پټې موسکې شونډې شولې
خیرې گرېوان کې مې نښه پرېوته
اظهار دمینې د زړه داغ شو آشنا
حیا مې پښوکې زولنه پرېوته

کابل - ۱۹۷۳

لنډېزه

ای د رنگینو رنگینو خاوندو
دچا سپېرې شونډې خوږې وکړه
چې تل کا ته کوې سرکو شونډو ته
ایرې ایرې شونډې خوږې وکړه

بدلون

توري توري لړي راغلي
ددې تورو غرونو سرله
طوفانونو غېږې ورکړي
خاموشي د سمندر له

بوګنيدلي غوندې هيله
يو بوګن غوندې شوخ ورشو
د سباد سترګې ځل هم
د تيرو په تهمت تور شو

د ښکلا د ډولۍ ناوې
د حيا ډالو کې پټه
د اغيار ګلي له لاره
د غرور تالو کې پټه

د ماښام خړه فضا کې
د شفق دنيا تالا شوه
د پرهر زړګوټي وچا ورد
څو سلګۍ د مينې سا شوه

د وختونو جادوګـــري
د تدبیر ستړګي ړندي کړي
د ستم خمارو ستړګو
د ضمیر ستړګي ړندي کړي

خپله مینه راته اور شوه
دما شوم زړګـو ته تل کي
ارمانونه غرغره شـــول
ستا د تورو زلفو ول کي

اسویلي لوګي لوګي شـــو
امیدونه سپیلني شـــو
اشنا ته چي خوشحالېږي
خیرکه مونږه لیوني شو

خو! که یو ځل دوینو ښاڅکي
ددي سپینو تورو آب شي
سري لمبې د انقلاب به
د تاریخ خونړي باب شي

لسم ټولګی حبیبیه کالج کابل - ۱۳۵۲

غزل

د حرم کښې چې بلدې دي ګلـــــــې
کعبه کې جام، جام کې کعبې دي ګلې

وروسته سلګوته مې موسکې غوندې شه
یو څو شېبو له مېلمنې دي ګلـــــــې

د تېک چار ګل سیورې پرې وغورځــوه
دلته یو څو ځړېکې ویدې دي ګلې

تالا او الا شړلو د او ښکو بهــــیر
دا موسکې شوندې څومره غلې دي ګلې

واه د خورو، ورو کمځو دې خیر وي
شپو کې سبا، سبا کې شپې دي ګلې

نسیم په سرو غوټو شبخون کړی دی
تنکې تنکې پاڼې یې سرې دي ګلـــې

ماته خوبس دژوند خمار ښکاري

چاویل چې ستا سترګې لمبې دي ګلې؟

دشملې ول کې خپل پرهوني را کړه

چې تلوسې مې پښتنې دي ګلې

۱۳۵۲/۱۱/۲٦

لنډیزه

څرانی موشوله له باکه پاکه

کړیوان موخیرې سینه موچاکه

ساقي په مُلومُو سود، ونه شو

یو لپه ترې وینې دې راکه

کابل

۱۳۵٤/۹/٤

غزل

د مریمي پېغلتوب دې د مستۍ ډکه حیا ده
پیره! وایه چې دا څه دې تقدس دی که ګناه ده؟

غلچکو غوندې کتو یې د ژوندون آرزو ژوندۍ کړه
په دې سحر یې پوه نه شوم چې وفا وه که جفا ده؟

یو ارمان د موسکو شونډو سره او ښکو ته سور او ژړ شو
دا لا څنګه محبت دی دا لا څنګه تمنـــــا ده؟

د پتنګ سپیلنۍ مینه د ډیوې لیمو کې ناڅي
تر پېډل د ځنګدن دی که د نوي ژوندون وسا ده

چې ځواني مې پرې تالا کړم دا په سترګو کې موسکۍ شي
عجیبه غوندې کمال دی عجیبه غوندې سودا ده؟

تر مه او ښکه ثریا شوه د کړیوان خیرې سینه کې
ابتدا د لیونتوب ده، که د مینې انتها ده ؟

د نسیم پر وني پرېوت د سبا سپینو پایو کې
څو مره تانده خود، داري ده څومره ښکلې التجا ده

لېونۍ سپېلنۍ مینه بندګي نه ده نو څه دی
زمارېه او س به کورو کوکې ستا ده که زما ده

۲۸ / ۱۱ / ۱۳۵۲ - ننګرهار

غزل

کاږه کاته يې تکني غوندې کړه
بيا د خود دارو اسويلو دنيا ګی

شرنګ د زنځير ساقي ښکالو کښې اوس
د ماتو ماتو زړونو دنيا ګی

مخ له مکيزه په پروني پټ کړې
ادا يې هم شي د ښپېتو دنيا ګی

سپرغۍ، سپرغۍ، دوزخ دې پټ وساته
موږ کې لاشته دی دلبو دنيا ګی

پام د ښکلا پلوشو ورکې نشۍ
ډېرې تيرې دي د دې شپو دنيا ګی

مطبعهٔ دولتی حبیبیه - کابل

۱۳۵۲

خونړۍ لمبه

دا چې شوه څپېرته خونړۍ لمبه د شپو زړګي کې
ګلي نورڅه دی د سحر لیمو مې اور واخیسته
په لمر سپوږمۍ باندې يې خپله زما داغ پرېوته
ما چې پخپله لمن ستا د مینې تور واخیسته
سوړ اسويلي مې د منزل په تندي پل کېښووده
ستا د کمڅو تورو کوڅو کې چې مې کور واخیسته
د پرخې اوښکه د ګلاب په تندي پرېوتله
لکه غوټۍ چې د سبا د سترګو تور واخیسته
چې محشرونه راولاړ کړل پښتنې ځوانۍ دې
د جنت حورو در نه موږ تې ښایست پور واخیسته
يوه زلزله به شمه ستا د محلونو زړه کې
که زولنو مې د لیلا د بنګړو شور واخیسته

۱۳۵۲/۱/۶

د میلادالنبیؐ په ویاړ:

ځوانه ته څوک یې؟؟؟!

د ستورو لاندې
دې نیمه شپه کې
چې خوب هړوکوته د سبار کوز شوی
ستا له اوږونه زما بار کوز شوی
او هغه بار کوز کړو
بار د زړې بوډۍ
د کالو پنډه زوړ
لکه د عمر وروستنی کلونه
ګازه لوښی
یو داو بوکنډول . مورګې یې ماتې
لکه بې لاسو تنه ، په سر زخمي غوربونه
او ځوان بار کوز کړو
د هغه تلو د پښو
شګو کې پل جوړ کړی
او لرادو یې مرګ له اجل جوړ کړی
نیغو بار خوته یې آسمان تېت شوی

زه او ته

آشنا ته، ته یې اوزه، زه یو سره

ته د خمار وسترګو، یوه خوبولې نخا
زه د ځوانۍ د غورځنګ یو طوفاني اسویلی
ته د مستۍ په تندۍ څاڅکی خوله د حیا
زه د لبونۍ تلوسه، یو ارماني اسویلی
ته د سهار د ستوری، یوه خوریدونکې وړانګه
زه د مظلوم په شونډو یو لا فاني اسویلی
ته تس نس شوی ګیله، یوه لاروړکي ادا
زه د پامیر سندره، یو افغاني اسویلی
نور:- آشنا ته، ته یې، اوزه زه یو سره

ته د شبنم اوښکه یې له تبسم نه ډکه
زه د بهار په شونډو د چا د کړیکو بیلګه
ته د تنکۍ محبت تنکۍ نښه یې ګلې
زه لېونتوب د مینې د تود وځړیکو بیلګه

ف:- د قسمتونو ویش دی دغسې ښه یو سره
آشنا، ته، ته یې، او زه، زه یو سره

ته د بدنامه ساقي د کنډولونو کډه ا
زه د خیام جنون یم - له سرو اوږونو ډک
ته د مایوسې میني یولړ نږېدلی نظر
زما قانون انقلاب له طوفانونو ډک
ته د ګریوان په خندو یوه ملغلره پرته
زما داغ داره زړګی له سرو لالونو ډک
ته د وږمو قافله راغلې اولاړه به شي
زه د سپرلي تقدیر یم، له سرو ګلونو ډک
لکه تروره کاته تش په لیمه یو سره
آشنا - ته - ته یې، او زه، زه یو سره

ته د ماښومې ښکلا غلې مدهوشه چپه
زه پرک د تاندې مینې ستا د نظر سینه کې
ته د خاموشي ځوانۍ یو تړېدلی سکون
زه چورلېدونکی تندر، د زور او زور سینه کې
ته د وختونو په مخ د مایوسۍ تصویر
زه د موجونو تپ د سمندر سینه کې

ته خزانه د حسن د ما تو زړو نو خوب شي
زه د احساس لمبه شم ستا د خیګر سینه کې
پو هیږو دواړه ګله، چیرته او څه یو سره
اشنا ته - ته یې، او زه، زه یو سره

خو - نا -

ای د ګلو نو غنچې، ای د پرهار نا وې
ای د نغمو تیند که - ای د بهار نا وې
ای لکه سپینه او ښکه پاکې ماشومې کوکې
ای د ساقي منګولې، ای د خمار نا وې
راځه چې یو شو سره، یو هستي غوندې شو
چې دا پستي ورکې کړو، داسې مستي غوندې شو

نو ! - ته د مسیح اثر شه د لا لهاندو آه کښې
زه یې له تر مواو ښکو د خپښتن نور جوړوم
ته د شمشاد په تندي خوري وري کڅې شه
زه د خیبر تر وکې بل کوه طور جوړوم
ته د خمار و لو ته لاس د نیمزالی سوه کړه
زه یې د خال له تر و ښا یست د حور جوړوم
ته د شهید په وینو وروستی سلګی لمبوه
زه د یتیم التجا د چا غرور جوړوم
بیا به زه ته یم آشنا، او ته به زه یو سره
چاویل ته - ته یې، او زه، زه یو سره

زه به قلم شپیلی کړم د هندوکش شپونکی ته
ته به یې نغموله ورکړې د سُراو چنګ خزانې

زه به دُر خوشحالوندی کړم د آدم خان سینه کې
ته به کودرله ورکړې د شرنګا شرنګ خزانې

زه به دا ستوری ګډ کړم د باړې خوږ زړګي کې
ته یې، سیلوله ورکړه د ګل د رنګ خزانې

زه به تقدیر موسکی کړم، د چا مزدور منګول کې
ته دالار ورکې مست کړه، واخله د بنګ خزانې

نوټ:- مرګ له به غاړه ورکړو، د بلوشوندو په خاطر
ګل به از غو کې تړ کوو د خپل جنون په خاطر
خواره به یو کړو سره د روڼ منزل په لټه
راځه چې یوشو آشنا د نوي یون په خاطر

۱۳۵۳/۱/۱٤

لنډیزه

دځیګروینه شوه له اوره ډکه
د جانان غمه چې د زړه کور ته شوې
درنځیدلو ارمانونو سترګې
دځوانۍ لاروته ایله پورته شوې

د مينې اوج

دا په خپله ځوانه وينه رنګين چاکړم ګلګون چا کړم؟
د مړ شوي ارزو زړه کې، بقا چا کړم ژوندون چاکړم؟

دا که رنګ د سور کوشونډو د پرهار سينه کې نه وي
نو ای د سر سرور خاونده ته بې زه د شبخون چاکړم؟

چې سکوت مې طوفاني شي انګازه يې دوالوشم
دا ديوې ښکالو په لټه شړنګا چاکړم سکون چا کړم؟

د بلبل د وينو رنګ چې دا زغو په څوکو کله شو
ګلاب پټ ماليار ته ووې، سپرلی څه وي زرغون چاکړم؟

دا که پرک د مينې نه وي د يې رندې غونډې دنيا کې
نو، ته مور د حسن چاکړې، او زه پلار د جنون چاکړم؟

دا چې خيال کوکې کوکې کړم، له حيا مې بانه تيټ شي
دې بيلتون کې مينه چاکړم، محبت کې بيلتون چاکړم؟

دا خوستا د مينې اوج وم چې ستا مينې غرغره کړم
کني ای د جلاد ربه، منصور څوک وو، هارون چاکړم؟

کابل - ۲۰/۱/۱۳۵۳

غزل

ستر کې لیمو کې د عقاب واچوه
نظر په دې خانه خراب واچوه
ورېږي یې بوی د تورو څڼو لرې
شاهینه خپل وزرکې تاب واچوه
او ښکوله رنګ د چادشونډو ورکوم
ساقي ګکو کې مې شراب واچوه
غږ شو د شپو زړګي کې لمړ وځلېد
زرشه په سپین مخ دې نقاب واچوه
زنګ مې له تورو زنځیرونو واخله
شرنګ د بنګړو کې انقلاب واچوه

۱۳۵۲/۱/۲۸

رسوامینه

اوښکه لیموکې په نڅا شوه آشنا
ښه شوه چې دامینه رسوا شوه آشنا

خونکار نظر دې دلبونه ډک دی
ما نه خوستا ښکلا بلا شوه آشنا

بیاد تنکي احساس بې داغ لمن
دارمانونو قتلګاه شوه آشنا

داسویلو پوخوږې سوزه نغمې
دوروستنو سلګو ادا شوه آشنا

یو ولسم تیرلګی

لالیه

خونکار نظر دې موسکی نه شو د پرهار سترګوکې
نور به دې ګډیږه لالیه د اغیار سترګوکې

د ګل له پانو شرابې اوښکې د پرخې څاڅي
داغروڅوکې راټوکیږي د خمار سترګوکې

دعطر به پښتنو ځوانوکې شړوندوغړیږه
دلیونو سلګی موسکی شولې د دار سترګوکې

۱۳۵۳/۲/۲۸

لیونۍ تنده

ستا تورې سترګې مې سرې نه شوې اسویلو ی اوروانه خیست
دا مې تنده لیونۍ شوه، که کنډول کې شراب نشته ؟

په بلې د میکدې دې دا زلموټې وینې توی کړه
ګني دې سپیرو چنوکې ساقي رنګ د شباب نشته

تورې ځمکې شین لوګی کړه په سپېرغو دا سویلو دې
هسې نه ځانګه موسکی شي، چې آهونو کې تاب نشته

د شبنم داوښکو ځاڅکی، دا زغو په ځوکو بار شو
د رګ رګ مراندې یې پرې شوې، اننګی د ګلاب نشته

ځنګه ستا خونکاره حسن پټې سترګې پرې راپرېووت
چې د ځوانو وینو رنګ کې بې رنګي د ثواب نشته

ای دلمرد وړانګو زېلو، زما لارو کې خورې شئ
چاویل چې مې و زړکي ارادې د عقاب نشته

د هلمند طوفاني ژونده دزلمو تلو سوسا شه
ګني زړنګ د زړو لنو کې رنګ د بل انقلاب نشته

۱/٤/۱۳۵۳

خیرخانه - کابل

غزل

زمانصیب دی چې تر څه تېرېږي
په تادې ټول عمر خوږه تېرېږي
د زلفو کور سیوری دې تا نه اوسه
کله نا کله به مې شپه تېرېږي
او به تیری یې، خیال د زلفو جوړ شي
د رندو کسو شپه خوږه تېرېږي
د کړېوان تاره ورته بند و تره
ټول اباسین یوه چپه تېرېږي
نظرې ستاد اوربل بریښ کې نښلي
تو ده غرمه څومره اوږده تېرېږي

۱۳۵۴/۲/۸ خیرخانه - کابل

لنډېزه

زړګی یو څو غوټه خبرې لري
داچې راکوري ځکه غلی شمه
کنی که وائې ستا د مینې په تور
د دار تختو ته ورختلی شمه

بې لارې

حسن بې داغ نشي سکڼي ځوانۍ ته
ختنه د عشق بې اوم غلنه پاتې
دا د بېلتون ګوڅوکې ورک لالې مې
په پولادي بیټر[1] د ننه پاتې

د تورو ګرو وسینې سرې وینې شي
د تور بار خو جلادي داري څاري
د تور قسمتو ګسو تورکې او به
د تورو سترګو د خیال لارې څارې

د سپینو زړو اوبړی ننه ځلیږي
څنګ به د زلفو ول کې خال ګورو
مونږه په خپلو او ښکو خپله مین
په خپلو اوښکو کې دې خیال ګورو

---

(۱) له شنو لښتو نه اودلی «اوبدلی» دیوال ته ویلی کیږي .

او قلمي کوتوبې . . .
په نرو شوکو . . .
د خدای له میني
په خدای مینو له ازل جوړ کړی
شپه د مکې کړ.و، کو شوکې تاو شوه
او ځوان . . .
دیوې کوڅې له خمکې
د ښار آسمان ته کتل
د هسک له خلاصو کړکو
دستورو کرمې رڼا
لکه ارزو د سترمنو پیغلو
د دیوالونو د تنو له چاوده
کړ.و، کوشوکې کور د جانان ته کتل
او چې ساه . . .
د زړې شپې ماته شوه
نو، یوه ساه ماتې بوړی
په سرې پنه پروت
امسا کړه کېږ.دي
پل یې ترې کوږ شي
ځوان ورته لنډه شو

چې ته پېرې خوبش یې مونږ دې سره لمبه شو
راکړه، د مړو کتو اجل لا لیـــه
دارا دو یا پې دې مه راکاږه
ای د نیمګړو لارو مل لا لیـه

لږ د بار خوځوکې دې مراوې نیسه
د اخریکې پام زړه په خنجر وهـي
اغیار د یار د سرو منګولو ګل شو
نور مې د زړ په توره سـر وهي

خُم له چپو چپو شرابو ډک شو
هره چپه یې انقلاب لـري
د هغو شنو جامونو خیر دې راوړي
چې د ساقي د شونډو تاب لـري

د چالاړو کوموټی زړونه مست شو
د لوړیو خلکو له کوځو راتښتي
سړې بلا د چا د زلفو اخـلی
چا ویل؟ د دار له تنستو راتښتي

دا تنکي ګُل ویلي لمبې لري
ساقي دا یخې اوښکې اورخري
خال دکوکو په تندو بیا وځلیږد
زلمی دزرد خاوند نه‌و رخري

ګُل یې دطورکړۍ دنظر سپیلني
وري وري ارادې غرجوړېږي
پامیر دې کورکړه دخیبر ګُر بته
سالنګ په کور دننه ورجوړېږي

ته یې نیمزالې ارزوګانې ګڼه
مونږه خوزړه لرو ارمان لرو
چې دې خواګوري غرې هسکه نیسه
ورانو جونګړو کې اسمان لرو

پام خفه نشې دمانو جانانه
ته دجونګړو مینه نه پیژنې
ای دخیام دجام په ګُل مینه
ته داورونو وینه څه پیژنې ؟

نو !

دناز ځولی کې لوبېدلیه اشنا
په لېونو دې ترمتونه بار شه
زمونږ د ترمو ترمو وینو سرخې
ستا په نظر پېتې د سره خمار شه

خیرخانه ـ کابل
۱۸ / ٤ / ١٣٥٤

لنډیزه

تاند شه ترهسکه، د کوّرو تاکه
پاکه تر سپینو پرښتو پاکه
د دار په سر د سلکو ستوني وچ شو
دا په زنځیر ترلی خُم دی واکه

۱۳۵٦/۱۱/۵

غزل

د سبا په سپینو څیرو بیا تیرې جوړه جوړه شوې

تا چې زلفې خورولې، تا چې سترګې تورولې

چې د سرو شونډو موسکا دې د کنډول مورګی رڼې کړې

د سرو مُلو خیمې تندی، په سرو مُلو پربوتلې

شوګیرې مې سپیلنۍ شوې، ستا د خیال رڼو کلکو ته

د ماښام کورې تیرې وې روڼ سهار ته نڅېدلې

ماویل جوړه په سره شفق کې د هلال خنجر بربنډ شو

چې د خیال د ځینګرونې په اوږې دې ځځېدلې

د تر خو کتلو خیاله لړ شمکو نظر له راشه

را نه کسې پربوتلې چې ستا لارې مې کتلې

له پښتون اسویلی زار شم توری څنې بې پښتې کړې

څه په تیک خوږې ورې شوې، څه په تهنده پربوتلې

۷ / ۲ /۱۹۷۶

غزل

دګوګل تورتیږي تت شول، د بدرنګه تهمت رنګ کې
د سکوت زرګوتي وچاود، دغلام دزنځیرشرنګ کې

دګروبار خولسنکري تریخ نظرته بدرګه شو
دنغمې شربه تغمه شوه، د ساقي په ګونګي چنګ کې

خورې ځمنې دي کمځي شه ای تنکی نوخېزه یاره
هسې نه خال دې پیکه شي دتندی او زلفوجنګ کې

خیال دحسن دې رامه شه دزندان تورو تمبوله
داوږی خیال دې زنګ واخیست د سپېرو زولنو زنګ کې

زندانې کاته مې لوټ شوای دجګو ما نو یاره
ستا دلوړ دېوال په څوکو، ستا ددنګې بلې ځنګ کې

دزړینو شپېلو شپو د انغمې موسرې لمبې کړې
او ردیغ اسوېلي واخلئ له لاروکونه قلنګ کې

۱۹۷۶/ ۸/ ۲

۱۹ / ۱۱ / ۱۳۵٤

خیرخانه - کابل

تلوسې

د شبنم د اوښکو څاڅکي
په دلو دلو را څاڅي
دغوټو په موسکو شونډو
چالیدلي په یوترنګ کې ژړېده، او موسېده؟

د پتنګ لېونۍ مینه
د بېړۍ له لیمو کرځي
په سلګو یې ورکېږي
دالاڅوک بایلي په اوښکو، ګډېده اونڅېده؟

بیا خورې ورې پرتې وې
ګورې ګورې تورې څڼې
د ګمځو د ګل په سپین مخ
چادورځې ستورې ولید، ځلیده او تورېده؟

چې د سرو شونډو سندره
پټه پټه کونګوسه شوه
د والو په شرنګا شرنګ کې
اسویلي مې په سینه کې غورځېده او پاڅېده

په مکیز مکیز چې راشي
تمکني شي ځما خوا کې
غلی غلی راته ګوري
خدایږو نشم کوکې نشم د الیده داو درېده

ستا د زلفو توره شپه کې
دا زما په سپېرو شونډو
اسویلي که ناځي څه دي؟
شین لوګی د ماز دیګر، او توري شپې ته رسیده؟

ماله خپلو خاورو جوړ کړ
د منګولو خرمنګی دې
چې مې مات کړو کنډولی شو
ټول د دې ګوټو کمال وو، جوړېده او ماتېده

ستا د تېک ارته سینه کې
د ږوښانو وړانګو جال کې
د همدې هما منزل و
په کلو کې چې مې پټ و، ستا تندی کې ځلېده

دا خوار ه خوار ه چې ګورې
تهمتونه دې په ما شه
لوټه خونیم کښېوکړه
رسوایي د مینې نه ده که د حسن پټېده؟

د ګلچین نشه مړونده
ږژوه خیر ږژوه ته
ارادې مولا ژوندۍ دي
مونږ له زیری نژوندون دی، ستا له لاسه ژړېده؟

کابل - پوهنتون د پوهنې پوهنځی جبیبه
۱۳۵۵ / ۱ / ۲۷

غزل

اوربل دې برېښ دز پرړو کلو خپل کړه
جوړ توري شپې ز پړ ماز یګر راووړ
پښتنو شرندو کې شباب موسکی شو
ماچې ټوټې ټوټې ځیګر راووړ
زما غوټی غوټی پرهار وخندل
ستا داوړی ځیر و سحر راوړ
دلوپټې سیوری پرې وغورځوه
سینه کې ماختلی لمر راووړ
دلېونی چم له دې بیا راشه
چې ستا درشل له یې نظر راووړه

یو بیتوی:

پښتنه ځواني دې سروې تا نده اوسه
هسې نه چې خوله دې اخلم سرې تیټ شي

۱/۵/۱۹۷٦

غزل

میکده ټوله لمبه شوه، هره تیږه یې سور اور شو
چې د سرو سترګو په خیال کې جام د سرو ملونو سکور شو

دا په اوښکو لانده کسی تا په سره سالو را وچ کړه
کې تور د تورو سترګو، ستا په سپینه لمن تور شو

لا ګلوکې رسوا نه وې، چې لیمو کې شولې ورکې
سپیرکوټو اوښکو ته ګوره، چې دا خپل کور ورته ګور شو

چې په سرو پانو د ګل کې د بورا ځوانی شوه ورکه
سوی سکور وو، اور ته پرېوت سر لمبه شو سپېرې کې اور شو

د ما نور رقیب دې وا وري دا ښکالو مو د جنون ده
دلته شرنګ د زولنو شو، هلته بیا د بنګړو شور شو

مینه زور نه ده زور دا و پام دا چم د پښتنو دی
محبت به پښتون نه وی، چې په زر شو چې په زور شو

۱۳۵۵/۴/۷

او درې پله شو
په یوه کوڅه کې
درې قدمونه شو په توره شپه کې
دا مسا تک ...

دبوډې پل ...
دځوان گامونه ...
او دگامونو آواز . . .

اوس د زړې شپې
سکوت تغمه کړو
موږي له خپله ښاره چیرته وځي؟
له کوره وتي دچا در ته وځـــي؟
ځوانه! دوخت له پیغمبره تښتم
وایي دې ښار ته جادوگر راغلی
جادو په زړونو پوکی ...
دهغه تانده ځواني ...
او بادامي لـیمه ...
سترگې ککی دسبا ...
اوماښامي ویښته
ځواني یې پاکه بې داغه
اوخبري یې لکه دژوند داخوت سندرې

بې وسي

ډېر دې په غلو سترګو ځما په لور خواږه وکاته
ډېر شوه ژوند ځما بې وسه ځواني وځپله
شونډو دې ډېر تانده ستونه نيمه خوا وېرل
ډېر دې ژوندی نظر ځما بې ځاني وځپله

زه ترتا وګرځمه ستا تر حيا وګـــرځمه
تقدير به څه وي د څو تورو سپيلنو دلوګو؟
که دې کاته ورته آشنا د مرګ دست پلمه شي
څه ميلمنه غونډې ځواني ده د مجبورو سلګو

سالو دې لرې خوځوه ښماله ځيرې ځولی
چې بې وسي مې زوولني ستا پېغلتوب ته نشي
ته دې غوټې غندل ځواني غنوټه مشپول کړه
زړه د ازغوا چې د ګلو مينتوب ته نشي

ته د دې مرې کوڅې په خاورو نظر مه زغلوه
دامات وزړې خیال دی نور تر چمه نشی درتلی
ستا د موسکا ریبارې بیا د زړه تر کوره راغې
له غمه ډک زړګی مې ستا تر غمه نشې درتلی — خو

ورنګرې شنه، د خال د خیال دې بې سره وزړه له
چې مې بې داغ ځوانی ستا په ملن داغ نشي
د دې ډیرې تقدیر د مرې هدیرې شني شناختی دی
دا به د سپین عمل زرګوټی کې څراغ نشي

د نیمه خوا دیدن آرزوګی نیمه خوا پاتې شي
مو بیا کره مه راځه چې دې زړګي له صبر راشي
دا سپینې اوښکې پڅپل ویلې سپین کفن کې ښې دي
ښه ده چې دې کسوله هم تیرې د قبر راشي

غوټۍ غوړیږه د دې شنو پاڼو په یخ ګوګل کې
د غه از غنه غېږ به تا غیږه کې څه ونیسي
دا سوي سکور ځوانې مې ګوره زړه مې مه لټوه
هسې نه ګنډوکې د زهرو څوک خوږه ونیسي

خیال ته دې وایه د بار خو بیترکې لاړ نه کوي
زه د جونګړې ورته م خو د زړه ورڅه کړمه ؟
دا ننګو سرخې دې بیا ګل د موسکا راوړي
ما پوی کړه زه خندلې شونډې د پرهر څه کړمه؟

نور په نیم ژوبلو شان زخمونو مالګې مه دوروه
اوس مو پرده د زړه پرده شوه د پرهر ستر ګو ته
په تور وشپو مې غلي غلي غونډي د پرهر وشړل
خو سپینې اوښکې مې پیکه شوې د سحر ستر ګو ته

د خدای رحمت دې راوریږه په خمار پیغلتوب
کوکې د کسو وچ زړګو ټې کې نور نم نشته دی
څښې د باد په لور خورې کړه د ور مو لاړو ته
ځما بجبور و اسو یلو کې دومره دم نشته دی

ګنې نو، دومره غونډي صبر شه چې هیلې ګل شي
دا همتونه دې مایوس ژوندون له رنګ ورکړي
ځما ګکي به د رحمت داوږ ده ګل ډنې کړي
دا زولنې به ستا بنګړو له نوی شرنګ ورکړي

د شنبې ورځ ـ خیرخانه ـ ۱۶ ، ۵/ ۱۳۵۵

کاواکي

ای لوغړنوارادوسترګي په چل غړوې
نور مو دخپل جانان په چم کوڅه پیرې پرتې دي

د هسک د ټټنه وشهزاد ګانو دلمبونه جرړو
د ژوند دیووکي مړد مړه ارمانا یرې پرتې دي
ورېمو ګل پاڼې خورې کړې دازغو په څوکو
ځیرو ورغوو کې دخپل ځیګر قطرې پرتې دي
راشئ منګولې د تقدیر په خپلو وینو سرې کړئ
چاویل چې ویرته دځوانی موخوشبې پرتې دي
دچاساقي دکنډول مورکوشراب ړېروختل
خمان راتش کړئ د درشل دورې سپېرې پرتې دي
دي لېونی به کنی خدایګو ځان ښخوار سوا کړي
خو.ـ ورته دچا دپاک لمنې ژوند اسرې پرتې دي

دروژې روسې شپه، خیرخانه ـ کابل ۱۳۵۵/۶/۹

یوه څپه

ږنګ د ګل د موسکا ستا شونډو پیکه که
د ساقي د کنډولو شراب ږ پاند شو
غوټۍ، ستا زلفو ته پریوتې کمڅې شوې
اوس ایله د ږولو یادونه تاند شو

د زندان د تور ماحول زنداني یاده
د سپرلي منګولو سرې لمبکۍ دروږې
دیو موټې زړګي ترمې پر هر ګل شو
چا غوټۍ د موسکو مستو شونډو وروږې؟

توري توري څپې لاړلې خوري شوې
سمندر د شپوکې بیا سحر ښکاره شو
نیم کښوځمنې یې خال ته سپیلنۍ شوې
بس ایله د چا د آه اثر ښکاره شو

ما د لمر تر زړې خپل نظر ورسیخ که
تا د سپینې اوږې شیرو کې لار اکړه
ستا له سرو شونډو مې شونډو قلنګ وا خیست
څنګه داد بهار وینه بهار ړاکړه

یو ارمان دار ما نجن زړګی پوره شو
حیا ناکې پیغلې داسې پورته کوره
هسې نه بار خودې زېږمټو کې درانه شي
دزلمي نظر بې زره زور ته کوره

۱۳۵۶/۱/۱
ننګرهار

دري ایزه

لکه رنګ چې د ګل ویلې شي او به شي
دیوې پانې په تنده کې خال جوړ کړي
ما ته هم زما دا خیال له خپله خیاله
کله کله ستا دغلو کتو خیال جوړ کړي
نو بیا دا کولال د خپل کندول له خاورو
په کولالو کوتو نوي کولال جوړ کړي

۱۳۵۶/۲/۱۴

(۱) زړنی: زېږمې

غزل

موسکا د زړه د پرهرشوندې بنکل کړه
ددې یو څو تیرو شپېو په خاطر
د ننازغیه زړه کې ښه راسیخ شه
د سبانو تاندو سپرلو په خاطر
د منزل لارو نورې هم مزې شی
زما د خوځنده آرزو په خاطر
تیروراکورې شی، اولا تورې شی
ددې رڼا د رنیو په خاطر
څوک وهه دی د زنځیرونو زړه کې
داوږې خیاله د لیلو په خاطر
څو مره خمار لارم د دار تر مراندو
ستاد کږوو وړو کتو په خاطر
بې ننګې څه که مې په ژوند رانغلې
په مرګ مې راشه د پښتو په خاطر

۱۱/ ۲/ ۱۳۵۶

مړژواندي هيله

ارزوې لنډه شوه او ځوکه شوه د تيغ د څوکې
دارادو د ښو تنها کوله چا و د وړ ن ړاغی
زما ځلمي ژوندون يو څاڅکی شو په خاورو پريوت
زما مرګ يه ايله تاله اوس ژوندون ړاغی

زما د پل پاڼې ړانيسي دا درنې ژولـــنې
ستا دروازو ته د پولادو زنځيرونه پراته
ستا په تومت دې زه د دار په سر تالونه خورمه
ستا په مړي دې د رقيب لاس امېلونه پراته

لکه نظر چې به لار وړکی شو ترتا در ته
زما ګيلونه هم قسم دی داسې لار ورکه شوه
چې زه پرې تلم، او درختلم، ان د دار تر څوکو
هغه ارزو رانه په څوکو کې د دار ورکه شوه

کم بختي لږ د پښتني يارانې پت وساته
پدې سرکوشونډو دې مړاوي غوندې ست وساتم
لوېته راکا ږه سوګندمې په شمله پورته کړه
لږ مې نظر دې رقيبانو ته اوچت وساته

۱۰/ ۳/ ۱۳۵۶

لنډيزه

د تيک په مخ د څنو غوټې واشوې
لمر دو لاړو سيورو ويخ ته کښېناست
د ګلو وږم له ګلونو پا څيد
ستا د چارګل د زړو مېخ ته کښېناست

۵/۱۱/۱۳۵۶

بغاوت

ځوند د درد ځریکه شوه د سا سینه کې
د ځوانۍ برېښ د مرګ سکون لټه شوه
پیکه موسکا د زړه د داغ په شونډو
د مرګ ځیګر کې د ژوندون لټه شوه

هسک د تیرو په تصور مین شو
ستوروله خپلې رڼا تېښته وکړه
اوښکې کلوکې د سبا وچې شوې
د ګل لېمه له خندا تېښته وکړه

هغه سل ګلي موسکا بیا پیکه شوه
راغورېدلې ځولۍ غونډې شولې
د رڼا پېغلې د تیرو هوس ته
تورو چمنو کې بربنډې شولې

خو، خلک د پلار نیکه له دینه اړي

«ښه - نو، موري سترې به شې داپنډ دې مسله راکړه!»

پوخ دبوډۍ احساس

دځوان آواز... ځانته نغمه کړو

او دګامونوغږ اوس د زړې شپې سکوت نغمه کړو

نو، په یوه کوڅه کې...

په توره شپه کې...

درې قدمونه یوشو..

دامسا ټک...

دبوډۍ پل...

دځوان ګامونه

چې زنځیرونه یخ شو..

دد روازو په دړو...

ښکالو دګام...

له ښاره لرې...

دژوند ښکالوشوه...

او بوډۍ . . .

یو، ښه هډوکی . . .

چا چې، پاپې...

بند - بند . . .

زړه د ښيښتن تر کوره ورغلمه
هغه چې خوا مې وو، تر زړه راغلي
ما يې پاپوکي ځواني و ښندله
زما داغونو يې ښايست داغلي

زما کلکوکي زما او ښکې رسوا
د هغه شونډې له حيا موسکې وې
د کهکشان د نرو ستورو لړې
د شرابي سترګو کلکې کلې وې

زړه لاړم ماويل ته تر مونږه راشه
هغه راتير شو د بار خو تر شپوله
په تورو غنو يې پا پې کيښودې
راغې تو زړه خو ما ويل ما د ربوله

ماويل داورې اندامونه مړه دي
اې د دې مړوو وپه مينه هوره
نور هغه نه پريږدو چې مونږ نه پريږدي
خو ته راځه لږ مو غمونه توروه

ریبنې ریبنې شملې ترهسکه ریي
شنې لوپټې ترولو بیا نه راځي
د سرټیوب د پرهارونو زره لـه
خدایه راځه ګنې نو سا نه راځي

هغه سرونه به تر ژونده ورشي
چې دي دژوند ترجنازې ورغلي
لږ موده رنګې خونې ورله راشه
پنډونه هیلې ترکوڅې درغلي

لنډېزه

داغ د پرهرګل د موسکا راوړه
خال به په تنده د دلبر ښکاره شو
د ساقي سترګو کې جامونه نڅي
دلبونو سترګو اثر ښکاره شو

خیرخانه مینه ـ کابل

۲۲ / ۳ / ۱۳۵۶

غزل

ستا د خیال لمبې ځاځي چې مې نم د کسو ور کړم
په بارخو سکرو مې انهوم په داوړداو بوګر کړم
که مې یوه لپه د وینې په منګول کې د یوې راوړي
د خنجر څوکې به نم شي، د دې دار مراندې بر ز کړم
شرابي حسن دی ګوټ کړم ځواني دوه پوکه لوګي شي
عجیبه لیوني غل یم، څه راچور کړم څه ور کړم
ستا خونکار حسن عادت دی د لکونو ځاځکو وینو
د لته بول ځاځکی مل اخلي څه به کړي، که ځاځکی د ز کړم
ګل د څنو مړاوی مه شه له تیرو ستوري راځاځي
د غه شپه څومره خوږه ده، چې په یو آه یې سحر کړم
د لته هر شرنګ بغاوت دی د لته هر جرس ګونګی دی
په دې کوږ ماحول کې ځنګه لیوني نغمه مې سر کړم

۱۴ / ٦ / ۱۹۷۷

خیرخانه - کابل

د جونګړو ډیوه

د بېرغنو د جونګړو ډیوې
ای د سرتورو وار مانونو څرګه
پام نغښتي تېر چاپېر پراته دي درنه
د شپې رګونه د تیرو تنستي

کاش چې د کورو تیرو تور ګوګل کې
درونې سحر سره شفقي لیمه شي
ستا د لبر دادا ګانو چور لک
ستا د ربښمینو پلو شو تنستي

چې لېوني د کړېوانونو په څای
د چاپه سپینه قبا اور پورې کړي
چې دوړې لیلو ربښمینه تال شي
د لړزېدلوا سویلو تنستي

چې د غوټې د پرخو سره شا خکوته
جام په منګول کې د انار غوناڅي
نرمې ګځې شي د نرلمو غرېه ته
د دار د مراندو درسو تنستي

چې د ساقي اوراوړكى نظرې
له ويلو شوو لبو جام را ډك كړي
چې دليلو داوږى بريښ رابنكول كړي
دا د تومت د زهولنو تنستې

چې د جونګړي د يخ سيورې غېږ كې
دلمر د ځريكو پيغلتوب پرېوځي
درنجو خط شي د سبا ستركې ته
دا ستاد ښوينده لوكو تنستې

د پولادي ديوال په خروځوكو
د نور پاپولــه ليكه لارجوړه شي
چيرته د سپيني اوږى ځل راپرې كړي
د ژوند د سترو شوكيرو تنستې

د خپلو سرو شوندو په توركګړ شي
د دې نوخېزه يار پې مخې نظر
چې د لار ور كوتهكنى منده شي
ورته زنځير شي د كمڅو تنستې

او ... !　　بیابه زه هغه ستالیموکې کورم
محمود چې زړه کې دا یاز کتله
خدای دې پرې نکړي د بارخو په څوکو
دادلیدو دادکتو تنستي

نو ! -　　چې دهسک سپین ستوری ترې پورواخلي
ډیوې څلیږه داسې اورشیسنده
لیلو دخپل مړوند بنګړي نوي کړه
دې زنځیرونوکې ترې شورشینده

وړانګې دیار ترمانهوورسوه
مرمري دړې یې رنها نلري
ددار له مراندوتار د زلفونغاره
چاویل؟ دمرګ چم کې ژوند سانلري

دتوربخنوماښامونو یار له
ډیوې په روڼ تندي کې اوریوسه
دبندیوانوارزوګانو سرب له
دزرمنیزو کړو شورریوسه

ـــــ ١٦/٤/١٣٥٦ - خیرخانه مینه کابل

غزل

خالونو د جبین ته د تیک څل ورسېده
دې تانده کهکشان ته د چاپل ورسېده

ستا څښې کورې اوسه آه مې خپله لاړه اخلي
د شپو چیم پرېشان مه شه که غل ورسېده

ساقي تر زړو سلکوته د جنون مرې وچېږي
دا بیا چې تر جلا دو شونډو مُل ورسېده

د دار مراندې د زهرو په ککړ خنجر امبار شوي
د مړاوو یار خوږ خوکو ته وربل ورسېده

رسوا اوښکې مې وچې شوې حیا دې پیکه مه شه
ایله دې ځواني مرګو ته اجل ورسېده

۱۳۵٦/٤/۱٦

خیرخانه-کابل

غزل

رنګيني د تخيل مې پرپرا نيزي
زنداني فضاکې داوزروامه شه

دليمه تر هلالي کچکوله راشه
زورور خياله دزروګدامه شه

سمينه ناک نظر بارخوکې پل[1] پاپې شو
دکږوتورو په څوکو رسوامه شه

دکمڅو سيورې دې ګورشي دنور ربه
تورې شپې دې تانده اوسې سبامه شه

دزړګي داغ مې ايله دارزو ګورشو
هديروکې تيارو بنه وي رڼامه شه

۱۳۵۶/۴/۲۴

پوښتوی:

په انګوڅا څکې داوښکو رغړي
زما دصبر پيماني ډکې شوې

---

(۱) پل پاپې: کله چې ماشوم درومبی ځل دپاره قدم واخلي.

سرکشي

دزندان د فضا ګانو سا خپه شوه
د سرکشو زولنو د شرنګ زړګی چوي

د تب ژنو غوږو پاڼ د شوندو خاندي
هسې نه چې د موسکا د رنګ زړګی چوي

د ستم اورکې زمونږ غیرت پا یې
چاویل د دې کوڅې د ننګ زړګی چوي؟

د ښیښې پیڅې دې کوز کړه له نظره
نور زمونږ دلېونو د بنګ زړګی چوي

زمونږ وینې د غوږو د ترونداو به شوې
زما نې ستا د ګل مرکې ترنګ زړګی چوي

د مود و کونګو نغمو سرکشي وکړه
ساقي! اوس به د خاموشه چنګ زړګی چوي

د بنکرو شرنګ کې دې خل د پېزوان ګل شه
د دې تورو د تورو رنګی زنګ زړګی چوي

خیرخانه کابل - ۲۵/ ٤ / ۱۳۵٦

تالنده سکون

ستا تصویر دې رب وانخلي د دې اوښکو له جنونه
چې ته تندر غشی نشي له دې تالنده سکونه
د یو ګړۍ یې تته مه شه د ما ښام په تروږمو کې
لېونی ستوري مې سرشو کوروکوروتوروشپو کې
داز ما د مزار خاوره ستا د مینې ورو ستی نښه
چې ته یوه قطره د پرخې د طوفان چور لاک کې خښه
ترېدلی اسویلي مې د سبا ګرېوان را نیسي
د درشل د ګردنیلی به اوس دا هسک آسمان رانیسي
اوښکې خپل عکس کړي غبرګې د جنون په آئینو کې
د نېښې لمبو سرو که د خپم وینو په سینو کې
په خرچم دې قدم کېښود، ای د سپینې خولې ربار
داز غوځو کې چې ګل شوې، غوټۍ پرېوتې له خاره

ساه ماته . . .
دخولې ترخې لارې . . .
دلاړو سپورخوند . . .
په تلوسووه . . .
وراندې په تلووه . . .
دڅوکجورود بنګی په لورې . . .
اوځوان وربسې روان ؤ . . .
لکه دژوندځوانی . . .
چې د زربښت پوندې . . .
دپښو دګوتو په تلوانیسی . . .
آسمان په تورو پړو
بوږلی کټ وو . . .
دشپې درګ په ريښو
نیستی دمړو لحظوکفن له
ګنې تور تیکونه ورکړل
او په غړ مات شوی سکوت
دګام ښکالو وخوړه
یوه دکجورې ونه
لکه دمځکو جنډه
تر آسمانونو تللی

دا زړګی مې لېونی دی، دې ځیګر کې د طوفان دی
دا په اور کې ژوندون پایي که دا اور په ژوندون بل دی
د مستې ځولی خوره ده د ښکلا قلنګ دې راکه
ای خاموش لېونی حسنه! شور دې راکه شرنګ دې راکه

۱۴/ ۵/ ۱۳۵٦

لنډیزه

دا مرکوني فضا ستا قضا کې نښته
ای زلمیه آزاد و مره آزاد اوسه
د هلمند د طوفاني موجونو اوجه
هسکه څوکه د پامیر شه شمشاد اوسه

لنډیزه:

د ګل کیدو په تمه زړه د دې غوټی ونه چاود
سرو آهونو یې ګی سر ما ښام مره کړه
زما نظر د ګل غوټی کې ستا نظر ته څور شو
یوه اراده وه د ګربت چې دې په دام مره کړه

دوشنبه - خیرخانه

۱۸/ ۵/ ۱۳۵۵

ګیله

لیکم یې ستا د عظمتونو په نوم
د خپلو خاورو ارمانونو په نوم
راشئ ځوانی د سپیلنولو ګی کړو
د توروشوو تقدیرونو په نوم

چې د دې عرش د بلې یار له ورشو
په وازولیو کې یې وینې توی کړو
د ارمانونو له شپیللي هـــــه نه
د ټومت چینو غوښو مینې توی کړو

ورشو په اور یې جنتونه اور کړو
د عرش د سپینو د پوالونه تور کړو
څرکې د زره په درزیدو کې ومرې
د یارسالو په مړو دردونو خور کړو

ورځود تورو قسمتونو سري
د چادسپين محل تروره ورځو
چې دايو ښاڅکې آب په خاورو توی کړه
د خپلې مينې ترګوهره ورځو

نو زما همته ماله ژوند راکړه
ژوند به ترګومه له چامره غوارمه
څو به د ګرمو اسويلو بدل کې
رتې ځوابونه ترې ساره غوارمه

چې ده ته وښايم دا مينه څه ده ؟
ځوانو ګونوکې مې وينه څه ده ؟
د زړه داغونوکې ډيوې بلې کړم
ورته لتکی ګيلې بلې کړم

درونټه- ننګرهار/ ٦/ ٨/ ١٣٥٦

لنډيزه

څو مره راګور شود وختونو ستم
د څو سلګو د پاره سا نلرم
له تا به وګرځم له تا به زار شم
ستم د نيشت دی ګله تا نلرم

٢٧ دلو ١٣٥٦ - ننګرهار

یو احساس

ستوروپه لپو لپواوښکي توی کړي
ساقي له سپین مُله کاسې ډکې کړي
سپینو غوټو په تکو سپینو لاړو
دسپینو زرو پیاسې ډکې کړي

ځوندیو چوړلک شو دبوراو زړکي
ډکل له شنه ډنډره وکړ ځیده
ستوروپه تورو تیرو پښې راښکودې
مرګی له خپله سره وکړ ځیده

آه مې دعرش په بلی خط جوړ کړو
ما دلبر دشونډو خوږکې ښکل کړي
داغ مې دزړه ستا په موسکا روڼ شو
تا چې زما غمجنې کوکې ښکل کړي

یوه آرزو یم ما زړګي کې ځای کړه
زما د پل په مونو پل جوړ کړه
توري[1] کړه دا خورې ورې زلفې دې
ماله په دې تورو، ازل جوړ کړه

وربل د څنو د ګل ټنډې له لاړ
شپه را اوږده شوه تر ولاړ سحره
لږ د شملې څوکه مې سنبه غښنه کړه
نظر دې راغی د شمشاد تر سره

پیره! د بنګو کنه ولی نوی کړه
د لېونو زړګي نښتوته کېږي
په هغه خیال به څڼګه شیش را کاږي
چې زنځیرونو کې شیشوته کېږي

ګل به په تورو خاورو وغوړېږي
اوس به د غنو په سر پښې کېږدي
څوک لېوني د چا دیدن له ورځي
په رنډو کسو به دیوې کېږدي

(۱) توري: حرف Letter

د شپې اووه نیمې بجې درونټه ننګرهار میډیکل کالج
۱۲ / ۹ / ۱۳۵۶

غزل

د وخت له سترګو د نور اوري، وورېد
زما لمنه کې ستا تور ووريـــد

د شونډو خيال کې دې ګلې را ډنډ شوې
د سترګو کسې مې په اور وورېد

ګمان تره شراب دې سا نـــلري
ساقي کندول کې ګرد د کور وورېد

ستا د لمدو شونډو د نم دې خير وي
دا پسرلی څومره سمسور وورېد

نسيم د بندو غوټيو وره له راغــی
څاڅکی شبنم داورپه کور وورېد

د شرابي سترګو بلا دې واخلم
د خليتوب په کور مې اور وورېد

ننګرهار

۱۳۵٦/۱۱/۸

غزل

څومره اوږدې د بېلتانه لارې شوې
ستړې شوې ټولې د جنون قافلې
د آه په لار چې ځي د ځنځونو نسکي!
بې لارې مه شه ستا د یون قافلې
په کتورو سترګو دې سترګې نښلي
او بوله راغلې د جنون قافلې
څومره پیوستې مې ځیګر له راغلې
د تور یار خو د پیوستون قافلې
داد، له بې باکه پیغلتوبه اخله
لوټه زړونه د سکون قافلې
په ټولو لارو لیونۍ پراته دي
تېرې به نه شي د بېلتون قافلې
څرک دې د ټیک په تار د زلفو تړې
په شپو کې نښلې د شبخون قافلې

ننګرهار - ۲ / ۱۲ / ۱۳۵۶

غزل

تور سمندر ته کوه طور پرېووت
ستا د خمار سره ، سرور پرېووت

نظرې ستا په شونډو بستنې وهي
په شرابي کنډولو چور پرېووت

پرخې د ګل پاڼو له سترګې ورکړې
په هره څانګه څاڅکی نور پرېووت

تارخه دې وګټل خوږه شې خوږ شوم
د سرا يله جبره سرور پرېووت

دژوند په رګ دې توري چونغتي تره
د دار په مراندو کې منصور پرېووت

دوربل څوکو دې خالونه چور کړه
نښه شوه د چور په کاله چور پرېووت

چې مې شمله ستاد لمنځو سالو شوه
ايله د لور آسمان غرور پرېووت

د استبداد په سکرو شور کسو
تناک ورغوی د مزدور پرېووت

ننګرهار - ۱۱/۱۲/۱۳۵٦

غزل

شپه په دوه ستورو رڼا ده چې پرېوځي له دریابه
د ساقي لېمه راڅاڅي ستا د شونډو له شرابه

ستا له تورو سترګو ګرځم په دې تور ترڅار ورخېږم
ته په سرو سترګو راښيې چې سلګۍ نشي بېتابه

خاله دوه، د نظر واخله دا مې نذر د ځوانۍ دی
ستا له تورې ټنډې ګرځم، ای داور د کور نوابه

په دې ښېغولا روګوره د خودۍ شهزادګان ناست دي
لږ کا ته وره پام پرېوځي، ستا ولاړ بار خو له تابه

ستا د شونډو داور لیکې ستا د مخ سپینوکې کورم
چې داور په لته ګرځي کټه وکړي له آفتابه

د ځوانۍ هره ادا دې جوړ زمونږه توبې وژني
ستا پرونۍ هوا خورګرو، ونږم راغی له شبابه

ستا تراخه کاته خوږېږي، زه په دوی پسې خوږېږم
د خواږه شونډو اوبه اخلم له خواږه واړه دریابه

د دې وږو وړانو خونو په هرکاږي خمان ماتکړو!
چې په وږو قسمتونو عذاب وریښي ثوابه!

ننګرهار - ۲۶/ ۱۲/ ۱۳۵۶

غزل

زړه دړوند دستر ولاړو په هر پل کې
داحساس د ترورږمو په تل کې کړم

لاړوي یم په ما شپې د پرې اوږدې شوې
ستا دخمو د هرتار په ول کې کړم

دسروشوندو په امید دې سترګې کورم
جل وهلی یم پڅپل اجل کې کړم

دځوانی اسویلی خپلو اوښکولوند کړو
دبنګ دودیم دخمانو مُل کې کړم

له آسمانه راپرېوتې دیرې کورم
دسرو اوښکو دڅاڅکو ځل کې کړم

اوس دهسک دکهکشان تناو راکاږم
ګلې ستا په پښتانه وربل کې کړم

۱/۱/۱۳۵۷

دغرمې دوولس بجې جلال آباد

او ځوان يې ډېر ته
دبوډې پېټي کېښود
بوډۍ، يو دوه درهمه
ګرد، هوسناکه . . .
چې دوخت په بازار کې
دنرخ دتلو، دوه تنګ چابرې وو
ځوان ته ورورانديې کړل
«موري!»
دځلمي غږ سکوت نغمه کړو . . .
اودبوډۍ زوړ احساس.
هغه آواز ځانته نغمه کړو . . .
«زه درهم نه اخلم -»
دځوان په شونډو
ملکوتي موسکا . . .
برېښي دغاښونو، سپينه جوپه کړو . . .
بوډۍ حيرانه . . .
تاند ځليتوب ته -
دا بادامي لېمه -
سترګې دابلې ډيوې . . .
چې دسباله ستورو پورنه وړي.

زه وړوکی وم چې په شاعرۍ می شروع وکړه د ښوونځي په څلورم ټولګی کې مې سبق ویلو- پلار مې یو ادیب ،لیکونکی او ډراما نویست دی، او ما هم لاشعوراً د هغه د اظهار او څرګندونې د پاره د ادب لار غوره کړه کوم چې ما له خپل چاپیریاله اخستل - ضروری نه ده چې د پلار لیکوالی مې د مې زما د شاعری دلیل شي البته دا هم یو کوټلی واقعیت دی چې زه د لیکوالی او ادب څخه د هغه ترون له امله چې پلار مې ورسره لرلو بې اثره نشوم پاتې کېدی - یا په بله ژبه که چیرې زما په شاعری کې د هغه خاص - استعداد ونه وي حتی وي چې یو شاعرې لرې نو له هغې برخې به هم انکار کول ګران وي کومه چې مې پلار ما له زما د شعرونو د اصلاح ،زما د ژبې د پخلی او د کلماتو او الفاظو د سم او پر ځای د استعمال کولو د زده کړې په شکل راکړې ده .

* * *

مرا ندې زما د هغو شعرونو د مجموعې نوم دی کوم چې ما له اتم ټولګی نه یعنی د کال ۱۳۵۰ هـ ش یا کال ۷۱ - ۱۹۷۰ میلادی یا د خپل عمر له څوارلسم کاله را په دې خوا لا تر اوسه پورې لیکلی دی له هغې نه وړاندې زما د شعرونو یو دفتر کوټی یا یوه ورو کاپی چې د څلورم ټولګي نه تر اووم ټولګي پورې په کې زما شعرونه راغونډه شوي وو- او همدا رنګه زما د شعرونو یو بل دفتر هم کوم چې زما د ژوند د لس کلن یا د ښوونځی له څلورم ټولګی نیولی د طب د پوهنځی د لومړي کاله پورې په کې زما مختلف شعرونه لیکل شوی او راغونډ شوی وو- او ما خپل ملګري ډاکټر غیرت خان ته هغه وخت د امانت په توګه پرېښودل کله چې مونږ په افغانستان کې د کمونیستي کودتا په دریمه میاشت وغوښتل چې پاکستان ته د خپل هجرت پریکړه عملي کړو- خوله بده مرغه هغه وخت چې ډاکټر غیرت د کمونیستي رژیم د پولیسو له خوا ونیول شو او د هغه په کور چاپه وغورځېده نو د ډاکټر غیرت د وینا سره سم په څه ډېر شم

سم، دواړه کاپي د هغه د يو شمېر نورو کتابونو سره يوځای پوليسو د ځانسره يووړې - او په دې ډول د شعرونو هغه دواړه کاپي د هغو سلګونو او زرګونو ورکو په ډله کې راغلې کوم چې د کي، جي، بي دا ايجنټانو په لاس د روسي ښکيلاک د سرې بلا په پښو کې قرباني شول -

بده به نه وي که دا خبره په ګوته کړم چې ترکال ۱۳۵۳ هـ ش پورې زما د شعرونو ليکل شوي مجموعې د «سوما» په نوم د نه چاپ شوي کتاب په شکل په ټول افغانستان کې - په پښتو ژبه کې ديوه ليکل شوي اثر او شعري مجموعې په توګه - د هغه وخت د اطلاعاتو او کلتور له وزارت څخه د دويمه مطبوعاتي جايزه تر لاسه کړې ده

* * *

مراندې زما د شعرونو لومړنی چاپ شوی کتاب دی، لکه څنګه چې وخت په ورانډې وخوځېد او ديوڅو کالو په لنډه، تنګه موده کې زموږ په اولس پرته له کوم ارتقايي او وړاندې خوځې تسلسله د روس د سره ښکيلاک په کته بېل بېل نظامونه راوتپل شول - همدارنګه دا شعري مجموعه تقريباً تر يوه زياته حده د همدې کلونو زېږنده او محصول دی - هر هغه څه چې ما د خپل اولس په ټولنيزژوندکې ليدلي هغه مې انځور کړي دي - څه چې ماته بد برېښېدلي او د خپل اولس د سپېرګړتيا او - بدبختۍ دليل مې ګڼلي . هغه مې رټلي او هر هغه څه چې د خپل اولس د پاره زما اېډيالي ياتې شوي هغه مې ستايلي او ښکلي کړي دي .

مراندې زما د ذهنيت، فکر، آرزوګانو او د هغو ټولو تأثيراتو يوه تنبېدنه، انعکاس او ترجماني ده کوم چې ما د دې ګڼو کلونو په اوږدو کې له خپلې خوا او شا او له خپل چاپېرياله اخستي - او دا ارزوګانې، فکر او ذهنيت کښ ارخونه او ډېرې

شينه ډېر شم

خپله ژبه او د خپلې ژبې کلمات متروک او ورځنی ادب له هره نرخه په پیاسي. داعمل ژبه هماسې خوري لکه څنګه چې زنګ او سپنه خوري او له منځه یې وړي چې ښکاره مثال یې په لرو پښتنو کې حق په پښتو ژبه کې د شمېرې او حسابي اعدادو دګنلو هیرول دي

* * *

په آخرکې غواړم د ښاغلي محقق او فاضل ورور محترم حبیب الله «رفیع» او د محترم مشر شاعر، لیکوال او مؤرخ ښاغلي شېرزمان خان طائیزي صاحب او د نورو ټولو هغو ورونو له زیاتو زحمتو منته وکړم چې د دې کتاب د سمون ترتیب او کتابت په چارو کې یې زما سره لاس مرسته کړې او له کتورولا ړښوونو یې برخه من او مستفیض شوی یم. درناوی

اکبر

۱۹۸۸/ ۴ / ۳۰

شاهین ټاون - پېښور

اتردیوشم

عنوان	مخ
غزل	١٦٠
غزل	١٦٢
غزل	١٦٣
زموږ چاپېریال	١٦٥
غزل	١٦٨
غزل	١٦٩
د لار پوښتنه مه کوه	١٧٠
افغان اولس ته غږ	١٧٣
د ایمان تلې	١٧٤
د واده محفل	١٧٦
غزل	١٧٩

عنوان	مخ
غزل	١٨٠
لنډیزې	١٨١
غزل	١٨٢
زما ماشومې او افغانۍ خورې	١٨٣
د شهید لور که د امن مور	١٨٨
پرېوتي پل	١٩٨
زه او ته	١٩٩
قلم او علم	٢٠١
دا شوښتنې ما بله کړه	٢٠٢
فارسي غزل	٢٠٦
مرګ پالونکی امن	٢٠٧

بسم الله الرحمن الرحیم

پیش نامه

زما مجبوري يې بولئ او که د حالاتو تقاضا - خو دا حقيقت دی چې تر اوسه کوم افغان شاعر ما ته په کتاب د څه ليکلو د پاره ويلي دی ، نو د کتاب د مسودې لوستلو نه وړاندې نه پوهېږم زما فکر ولې هغه خاورې ته لاړ شي ، د کومې نه چې د وينو دا ډک د خاورې انسان نما جام روغ دی ؟ شايد ځکه چې دا وينه د غه جام د يو وخت د پاره خپل مقدس امانت ګڼلی دی او هم د دغه خاورې د آزادۍ سپرلي د پاره د هرې خطرې په وخت د تويولو او نذرانې په فلسفه خومره چې د دې جام خاوره پوهېږي ، شايد چې بله يوه وي.

کېدی شي چې لوستونکي دا مبالغه وګڼي او يا شاعرانه تخيل ، خو داسې نه ده . ځکه چې زه د خيبر په خوله کې د يو کلي په مات ګوډ کور کې اوسېږم - يا هغه وخت و چې د دغه خاورې د کوچيانو جوپې - جوپې قافلې به زموږ د کور له مخه تېرېدې - د قافلو مستې جونه او زلمي به د وطن د مينې او آزادۍ پسند رولکه د سپرلي د رنګينو او خوشبويه جونګو داسې مست او بېغمه روان وو - لکه د آزادۍ له

لومړی

نعمته سیوا چې د دنیا له باقي ټولو نعمتونو بې نیاز وو.

د افغانستان مستۍ او آزاده هواګانې د خپلې خاورې په خوشبو کې نغښتې لکه د غزنوي او ابدالي د لښکرو به له خیبره راولوېدې او رنګینو خوشبویو خوږولو سره به مخ په ښکته روانې وې. زما احساس به یې راوپارولو، زما ذهن به یې معطر کړو او زما د فخر، خودۍ او انا شمله به یې تر ثریا ورسوله.

اوس هم زه د هغه خیبر د خولې هم په هغه وړه کوڅه کې اوسېږم. ولې د تېرو لسو کلونو راهیسې نه خو د کوچیانو هغه قافلې زما د کاله له مخه تېرېږي او نه د هغوی د ملو او جونو د جوش او مستۍ نه ډکې هغه سندرې اورم. بلکې د دغو هر څه په ځای هم په هغو راتېریدونکو هواګانو کې د افغانانو د وریتو غوښو او بارود د ګډ بوی نه مسموم. د وینو بوی د دغه خاورې د خوشبوۍ سره اخښلی دی. او دا ځکه چې د پېښو حالاتو پېش نظر یو ځل بیا افغانان لګیا دي د واخان په تندی په خپلو وینو د خپل عظمت د یو لازوال د ستاینې په لیکلو مصروف دي. په قدم قدم سرونه قلم له تنولو بېږي. ولې د آزادۍ علم د یو لاس نه بل لاس ته منتقلېږي او لحظه په لحظه د بلندوله منزلونو تېرېږي، چې دا دی نن د دنیا د ملتونو د بیرغونو په قطار کې د افغاني ننګ او غیرت له برکته د ټولو نه جګ، بلند او څرګند دی.

نو ځکه زه مجبورېږم چې د حالاتو له مخه د کوم افغان شاعر په شاعرانه فن د شعر لیکلونه وړاندې د هغه خاورې عظمت او تقدس ته سلام وکړم، د کومې له خاورې او خټې چې دی روغ دی.

دوهم

ډاکټر اکبر د ننګ یوسفزي زوی دی. د ننګ چې هم د دغه خاورې په ننګ او ناموس رنګ دی - په حیث د یو شاعر د دغه د قلم، په حیث د یو ډاکټر د دغه د نشتر او په حیث د یو افغان د دغه د ځوانې وینې پټوله متاع د دغه د فن او احساس په آئینه کې د خپل ملک او ملت د زوړ آن او شان د بازیا بې او برقرارۍ د پاره بیقراره لیدلی شي - منم چې په حیث د یو شاعر د ښاغلی اکبر فن پرته د ملی شاعرۍ نه د انساني ژوند د نورو ګڼو اړخونو عکاسي هم کوي، خو د خیبر له خوا د راتیږید ونکو تودو تودو هواګانو د تودو څپو تقاضې دي چې زه د افغانستان په ننني دغه عظیمه حادثه د شاعر هغه ژوبل، خوږ وقاره، پر امیده او مستقبل د فتح مندۍ په نور تابناکه او تابانه، نا قابل شکست احساس ستاسو وړاندې کړم، چې د موصوف د خپلې خاورې د آزادۍ سره د مینې او سرشیندنې د آرزوګانو آئینه دار دی.

اکبر یو بیدار ذهنه شاعر دی او خپلې وینې تقاضې او غوښتنې یې د خپلو پیشرفتو په لار بیایي - هم دغه وجه ده چې په اوومه صدۍ هجرۍ کې دارغنداو په غاړو غرونو هم د موجوده پیښې هسې یو غلیم وبلوسیدو، نو بابا هوتک ملت ته غږ کړو چې:

پر سور غر بل راته ننګ اور دی
وګړ یه! جوړ راته پیغور دی
پر کلی کور باندې مغل راغی
هم په غزنې هم په کابل راغی

غښتلیو ننګ کړئ دا مو وار دی
مغل راغلی په تلوار دی

په پښتونخوا کې یې ناتار دی
پر کلي کور باندې مغل راغی

آ، د مورغې غښتلیو راسئ
پر ننګ ولاړ د پښتونخوا سئ

توري تېرې، غشي تر ملا سئ
پر کلي کور باندې مغل راغی

زلمو په غشیو کړئ وارونه
د تېرو تورو ګوزارونه

وروړاندې کړئ خپل ټټرونه
پر کلي کور باندې مغل راغی

زما د زلمو وینې بهېږي
غرونه او زمکه په سره کېږي

مېرڅې زغلي او ترهېږي
پر کلي کور باندې مغل راغی

پښتنو هلئ پر غره جنګ دی
سور غر په وینو د دوی رنګ دی

مهال د توري دی د ننګ دی
پر کلي کور باندې مغل راغی

څلورم

زلمو پر ننګ ځانونه مړه کړئ
دښمن په غشیو مو پیه کړئ
د پښتونخوا زمکې ساته کړئ
پر کلي کور باندي باندي مغل راغی
اوس چې تاریخ لکیا دی دکردان حقیقت ثنایي ښاغلی اکبر
د بابا هوتک هسې یاد په دې ډول تازه کوي:
د درو په تورو تیرو وتوره تینګونه ورسوري کړئ
سرو بور جلو کې خون وکړئ د دېوالونو ورسوري کړئ
تور زندان یې ور له مات کړئ تور زخمونو ورسوري کړئ
د میوند په وچو غنو د دوی زړونه ورسوري کړئ
د دوی زړونه ورسوري کړئ د هیواد د ننګ بچورو
د میرویس د فکر خپلو د نازو د شڼک بچورو
په کورونو یې اور بل کړئ په لښکرو یې یرغل کړئ
د سرو شولو یې واخلئ سپین فکرونه ورته بل کړئ
تور تینګونه ور له مات کړئ هر تیرې ورته چل کړئ
هره لاره کې یې مړه کړئ هره لاري داجل کړئ
چې یې سر د تن جدا شي خپل سرونه پر دار لګ کړئ
دا بې خدایه دوی مړه کړئ چې د خدای هیواد یې ړنګ کړئ
د تیرو تورو په شوکو دا مرګوني سکوت خور کړئ
سور روبار د تور مرګي دی د تیرو چم کې یې تور کړئ
د محل دېوال ته زور کړئ سور محل پرې رانسکور کړئ
پنځم

مرانډې
ډاکټر محمد اکبر اکبر

د ماښي ويخ نه يې مړ کړي خپله خونه ورله ګور کړي
دافغان بيرغ اوچت کړې دآسمان په سر يې سور کړي
داشهيدې کرمې وينې د سرو رګونو اور کړي

او هر کله چې دافغان توره زنګ ونيسي، نو چرته نه چرته پرې څوک داقتدار په هوس وبلوسېږي او دافغانستان دخوږو لستوني ګولونه وړانـدې نه صرف خپله دستوني تېر شي، بلکه وينه يې هم د دغه تورې دځلا او برېښنا سوب شي. يو ځل چې داتوره زنګ شوه، نو ديو نانيانو وينې پکار شوې بيا چې زنګ شوه، نو د چنګېزيانو په وينو سپينه شوه. بيا چې زنګ شوه، مغل يې پرې راپيښ کړه. بيا چې زنګ شوه پېرنګي يې وروستو او بيا چې زنګ شوه، نو سره وروبلوسېدل خودغه وار افغاني شجاعت او شهامت نه صرف خپله توره په تشو وينو سپينه کړه بلکې دهغه دزړه له غوښو يې هم کار واخستو ځکه دافغان غازي توره مقابلتاً نن ډېره شوخه سپينه ده. اوزه وايم داسې به بل څوک وي چې زما دغازي دتورې مخ رومنۍ دپاره يو ځل بيا دده په مقدسه خاوره وبلوسې؟

دافغانۍ تورې د ننني جاودانه مېړانې سره پخپله توره جوړه دافغاني قلم کردار وګورئ چې د دښمن د بلوسې نه وړاندې ديو باکرداره او آزاد خويه هسې په سپينه ډاګه خپل درياېي افکار، عظمت او ايمان په دې خيال وربه ګوته کوي چې سبا بيا داونه وايي چې دهغه دناقابل شکست حوصلې د وړاندې د دښمن متوقع شکست دهغه دعسکري سازو سامان کمي وو. ځکه زما دوراندېش شاعر

شپږم

اکبر د ورانديې نه په دغو الفاظو خپل غليم ته هرکلی وايي:

د مليت مهرمې تورو دغزا راخستي
اغياره! دلته کړ راځې نو بې ځيګره راځه

—

په مخ د تورو مود ځوانو وينو رنګ تازه دی
د زخميو ونو په کړ وجامو کې رنګ تازه دی

—

هره ذره د افغانی کوڅو سپرغۍ دغيرت
دا هره تيږه د رنا له کوه طور جوړه ده

—

اودې هرڅه پس هم چې هغه محض د خپل افرادي قوت د
د برښت او جديدو وسلو د امبار په نشه مست د شاعر د وطن د آزادۍ
په لمن د دست درازۍ په خيال د ارتکاب هڅه کوي، نو بيا د غازيانو د
سرو وينو مشالونو د کچه سرو رنګونو حقيقت په ډاګه کړي. دا کچه
سرو تول رنګونه کچه پيکه شي او غازيان د وطن زمکه د خپلو وينو
په ستوري د سپا يست هغه انتها ته ورسوي چې نه صرف د شپې په
ستورو د آسمان له حسنه خراجونه واخلي - بلکې سپرلی تري هم د
خپلې شوخۍ او تابانۍ د پاره رنګونه پور وي، او هم دا هغه منظر دی
چې د شاعر تخيل په دې ډول بيان کړی دی:

نور هيواد له موځوانانو وينې ورکړي
اوس به پور تري سره رنګونه د رنګ غواړي

اووم

مېړني دي چې ښکاريږي په لښکر کې
اوس به بلې ډيوې لاوري په پرهر کې

—

د جماتونو محرابي تندي يې - بل څراغونه د ايمان لري
ږمونږ په تورو قسمتونو مشه - تورماښامونه کهکشان لري

—

او داد افغانستان د تاريخي حقيقتونو برکت دی چې دخپلې -
خاورې ږښتې يې د خود اعتمادي معراج ته رسولی دی
چې دښمن که هرڅومره هم لوی شي ولې بيا هم دهغه د افغانيت او
ايمان په مقابل کې ډېر کمکی وی - هم دغه وجه ده چې د افغانانو
ښتی دښمن دخپل لوی والي باوجود دوی ته هيڅ نه ښکاري او داځکه چې د دوی په قاموس کې
د « شکست » لفظ هډو د سره خپل وجود نلري - او هم داهغه احساس
دی چې د خپل فاتحانه کردار سره سره اوس خپل وجود
او هستی د ګاونډي قومونو د آزادۍ تقدير هم ګڼي چې
ښاغلی اکبر ورته داسې اشاره کړېده :

دا پيمانه ږمونږ د وينو آمو
د آزادۍ يو بهير وګڼه
چې د تاشقند په شپو کې لمر راخيژي
مونږ دهغو ورځو تقدير وګڼه

همېش خليل

۲۴ اګست ۱۹۸۸

اتم

یو نظر

د ډاکټر محمد اکبر اکبر یوسفزی د شعرونو دا مجموعه چې ماد نظره او وښته ، د اکبر تقریباً د شپاړسو کالو د زیار نتیجه ده - دې کې ځنې شعرونه کال ۱۹۷۲ کې لیکلي شوي دي. هغه وخت اکبر دا تم ټولګې زده کوونکی ؤ. یعني په عمر تقریباً پنځلس کلن و ، د پنځلس کالو په عمر کې شعر لیکل ، هغه هم شعري غوښتنو سره سم ، ښايي چې اکبر له خدای پاک شعري صلاحیت ور بخښلی دي - خو تښوچې دې خدايي ورکړې سره نوره زده کړه او موافق چاپېریال نه وي انسان دې نه زړه - منلی کېږه نه شي اخستلی - د اکبر پلار فاتح الملک ننګ یوسفزی پخپله د افغانستان ادبي حلقوکې منلی لیکوال دی. او د هغه د برکته دې کورنۍ کې د علم و ادب پلوشي خپرېږي . چې د ده د بچوتنکی ذهنونه ورته خوشالیدل او تنکي ذهنونه یې روښانېدل خو هغه ورځوکې چې اکبر ښوونځی او بیا لیسې ته تلو د کابل پاکې او زړه راښکونې هواکې د ځنې انساني ستونځوچې یونالیدلی

ښکیل رامنځ ته کوي او و- یوې خواته

ښکیل رامنځ ته کړي او و- چې عام ذهن هیڅ نه شو درک کولی- ولې یو روښانه او حساس ذهن ترهغه لی ضرور و- یوې خواته د نار سېدلو سیمو او لس دلوږو تندو دونځ کې ترقیدل نو بلې خواته د کابل د تخت چاپېره د خودغرضۍ او حرص دېوان لاس او ګرېوان وو. داسې چاپېریال کې د حبیبیه لیسې شپاړس کلن زده کوونکي اکبر کال ۱۹۷۳ کې خپل بې مطلع او بې مقطع غزل کې وایي

د چا د سو و اسو یلو په تل کې

د چا په سرو شونډو نغمه پرېوته

او هم دې غزل کې بل شعر یې دی :

د کونډې آه د چا شمن ماښو کې

لیونی کړیکه شوه لړزه پرېوته

د پنځو شعرونو دا غزل دیو استاذ شاعر په نظر ځینې نیمګړتیاوې لري- خصوصاً د "پرېوته" ردیف ځینې شعرونو کې ځای نه شي نیولی. ولې د شاعر هغه وخت عمر چې نظر کې ونیول شي او بیا دې غزل رواني ، د الفاظو ترون او خیال چې او تللی شي نو یقیناً دا د هغه وخت شپاړس کلن شاعر د داد او دا د ور ګرځوي. له دې نه هم یو کال وراخوا یعنې کال ۱۹۷۲ کې د اکبر یو پنځه شعریز غزل چې نه مطلع لري نه مقطع سره د ځینې نیمګړتیاوو د غزل ځای نیولی دی. او که دا آخري شعر یې و ګورو چې وایي :

دا خیالونه مې تالا کړه دا ځواني ځمالو کې کړه

خوشمله مې تیتېه نکړې ګوري یام کوڅې پښتون یم

نو ښایي چې د دې یو شعر په خاطر د دې غزل ټولې نیمګړتیاوې لسم

له نظره وغورځوو او داغزل ښوغزلونوکې وشمېرو !

خوخېره دلته او درېږي نه ـ وخت تېرېږي. او وخت تېرېدو سره سره خيال او فکر بخېږي اکبر چې کوم وخت سره روان دی. هغه وخت عادي مخ نه ده نيولې. بلکه داسې بدلونونه يې مېنځته راوستل چې دنيا يې وجړ قوله ـ کال ۱۹۷۳ کې اکبر انقلاب ته خوښېدو. د"بدلون" په نوم دنظم آخري بندکې وايي :

که يوځل د وېښوځاځکي د دې سپينو تورو آب شي
سرې لمبې دانقلاب به د تاريخ خونړۍ باب شي

هم د دې کال داوو مې مياشتې نه دا خونړی باب افغانستان کې پيل شو ـ خو دا بدلون د اکبر ارمان نه و ـ ۱۹۷۵ کې ديو نظم آخري بندکې د خپل ارمان ځرګندونه داسې کوي:

پام خفه نه شې دماښو جانانه
ته د جونګړو مينه نه پېژنې
ای د خيام دجام په ځل مينه
ته د اورونو وينه څه پېژنې؟

کال ۱۹۷۸ کې يو بل بدلون راغی چې اکبر يې نه صرف په ذهني توګه بېکوره کړو. بلکه اکبر او داکبر ټوله کورنۍ عملاً بېکوره شوه ـ او پاکستان ته راغله ـ دې بدلون د ټول افغانستان غرونه رغونه ولړزول ـ او يوه نوې خونړۍ دوره شروع شوه ـ داکبر انقلابي ذهن دا انقلاب نه مني چې په مليونو افغانان يې بې کوره کړل او په سوونو زرګونو نور يې له مېنځه يوړل ـ دغه

يوولسم

مرانڈې

ویناوال: ډاکتر محمد اکبر اکبر

۱۳۶۸/ ۱۹۸۹

راز په سوونو زړګونو پکې پې لاس وښيې شول، چا پلار بيلود، چا ځوی، چا ورور بيلود چا خور، چا مېړه بيلود چا ښځه داسې وخت او داسې چا په يال کې چې يو شاعر لو ښېږي او ځوانېږي هغه به د خپل احساس ښرګندونې د پاره د بيان په زور زيات زور اچوي په نسبت د شعري ادبي غوښتنو او صنايع بدايع.

ديو غزل مطلع يې داسې ده:

ستا د خيال لېږې ښاځې چې مې نن د کسو ورکړم
په باړ خوسکرونتی ابوم په داور دا وبو کړکړم

او مقطع يې ده:

دلته هر ښرنګ بغاوت دی دلته هر جرس ګونګی دی
په دې کون ماحول کې خننګه لېونی نغمې سرکړم

دې کې شک نشته چې اکبر د شعر په ژبه د مقصديت بيان په ډېره زړوره او زور وره توګه کړی دی- او تروسه وسه يې د شعر حيا ساتلې ده- سره د دې چې اکبر خپلو شعرونو کې بيان ته زيات زور ورکړی دی او صنايع بدايع غوښتنو ته يې دومره پام لرنه ده ورکړی، د ده شعرونو کې ځنې داسې هم شته چې اوريدو سره يې زړه ټوپ کړي چې واقعي دا شعر دی.

دلته د دې قسمه شعرونو د شمېرنه يو څو را خلم:

يو څو څويونه دې تس نس غوندې شه
آشنا زما د شوګيرو په خاطر
دوولسم

شونډو کې یې پټ د ناز جامونه وو

څکه خو موسکا هم کړېده پسې

(شاعر کړېده د پسخېده په معنی راوستی ده.)

کله دی شونډو کله سترګو کې وي

آشنا دا مینه خو کوچنی غوندی شوه

مړ ژواندی غوندې ساه به دژوندون غېږکې مېشته شوه

وېره مې چې به دې زلفو کې خورې تللي او راتللي

اوس دې په راتلو هم پرهرونو کې ساه نه راځي

راغی پسرلی خو په ګلونو کې ساه نه راځي

اکبر په شعر کې نظم ته زیات مات دئ. دې ټولواله کې یې نظمونه (یو آزادنظم هم)، غزلونه او ټکري (قطعې) دي. غزل کې یې هم د نظم غوندې په یوخیال زیات زور اچولی دی. او د غزل خیالي رنګینو او خوندورو مستیو کې یې هم د مقصدیت لمن نه ده پرېښې.
د ژبې په لحاظ اکبرخپلو شعرونو کې د پښتو خالص الفاظو ته زیاته پاملرنه ورکوي. چې څنې ځای کې دده د مشکلاتو غمازي هم کوي او لوستلوالو ته به ګران پرېوځي. البته د پښتو ژبې د پاره دا د هر ار زښت لري چې داسې الفاظ او محاورې خوندي وساتلی شي. د اکبر د شعرونو څنې الفاظ او محاورې زما ډېرې خوښې شوې دي. یو څو محاورې یې دا دي:

سا ماتې غوندې ساه

مړ ژواندی سلګی

دیارلسم

لار ورکی امیدونه

مړه شوي اندي غونډې ساه،

داخیالونه مې تالاکړه داځواني زما لوګي کړه

خوشمله مې ټیټه نه کړي، ګوري پام کوه پښتون یم

آخر کې به داووایم چې داکبر د شعرونو دا ټولواله د پښتو

په ادب کې یو ارزښتناک زیاتوالی دی او قدر یې پکار دی.

شیرزمان طائزی (غمژن)

عثمان آباد - پبي - ضلع پښاور

۱۹۸۸/۶/۲

شورلسم

داخبرې او دا شعرونه

(۱)

د پښتو نازکخيال شاعر کاظم خان شيدا وايي:

مضمون د شعر لکه پيکر وي
رنګين الفاظ يې رخت و زېور وي
ورته ضرور دي دا دواړه څيزه
پيکر که هر څو دلربا تر وي

په شعر کې د «شکل» او «مضمون» موضوع له ډېر پخوا مطرح ده، کوم شعر چې مضمون و نه لري که دالفاظو رخت او زېور يې هرڅومره ښکلی وي، د ښوند شعر نه ورته ويل کېږي او ښوند شعر نه وي، داسې شعر محض د خوند له پاره کار ورکوي، دا ولس په درد نه خوري او محدودې حلقې د ذهني عياشۍ له پاره کارترې اخلي. دا راز شعر برسېره په ښکلا لري، سامعه نوازي کولای شي خو زړه ته لار نه لري او د زړه تارونو ته خوځښت نه ورکولای شي او ترنګ نشي ورکولای. دا ډول شعر په کتابونو او ديوانونو کې دادبي فوسيل په توګه پنځلسم

پاتې کېږي خو د موميايي يا مجسمې په توګه نه.

د پاڼې بل اړخ هم همداسې دی که یو شعر هر څومره ښه مضمون ولري خو چې د الفاظو رخت او ښېړوونه لري د تشو خبرو بڼه غوره کوي او څرنګه چې ردیف، قافيې او نورو شعري ضرورتونو له امله په شعر کې ګرامري او محاوروي کږوږې هم راځي نو ځکه هغه نثر ترې غوره ګڼل کېږي چې داسې مضمون يې خوندي کړی وي. موږ په بره پښتونخوا کې د دې ډول شعر ته «نظم» وايو، په لره پښتونخوا کې يې بيا «توک بندي» بولي او دواړې خواوې يې د شعر له چوکاټه وباسي.

دا وېش د «آمد» او «آورد» په الفاظو هم شوی؛ شعر طبيعي او الهامي وي په شاعر راځي او هغه يې ليکي، دا شعر ساده او سوچه وي ساختګي او تصنع پکې نه وي، دې ډول شعر ته د «آمد» نوم اخلي او تعبير يې داسې کوي:

شعر څه دی؟ د شاعر د زړه آواز دی
چې پرې زړونه ژوندي کېږي هغه ساز دی
يو الهام دی چې راځي د زړونو کورته
واقعي شعر يې شکه چې اعجاز دی

او «آورد» بيا هغه وي چې شاعر کېني، زور وهي الفاظ سره ونښلوي، صنايع او بدايع پکې ټېل ټېل کړي، ترصيعات او تلميحات پکې وتوموي او د الفاظو له اړخه يې منظم او موزون وکړي خو د کشش او ځان ته راښکلو ماده پکې نه وي او دې بيا داسې تعريف کېږي:

نظم څه دی؟ د لفظونو نښلول دي
د رديف او قافيو سمبالول دي

شپاړسم

يو صنعت دى مهارت او فكر غـو اړي
د بيتونو او بندونو جـو ړول دي

د شعر د نازک تړوکي د تنستې او رنګ ښکلا په دې برخه کې هم نه لنډيږي بلکه نوښت او ابتکار يې يو بل خصوصيت دى، که د مضمون يا شکل يا دواړو تکرار ډېر نړيات شي نو بيا خبره له تواړد، پيروى او سبک څخه ادبي ابتذال ته رسيږي او د ادبي غلا تور او تومت ته لاره هواريږي.

په دې اساس «مضمون» «شکل» او «نوښت» درې واړه د شعر په ادبي معيار کې لوى لاس لري او کوم شعر چې دا درې واړه خواوې يې پوره وي هم د «ژوند» شعروي او هم د «خوند»، او همداسې شعر تلپاتې او جاويدان وي مضمون يې د تاريخ پوهانو، ټولنپوهانو او وګړپوهانو سند او اتکا وي او شکل يې د ادبپوهانو، ژبپوهانو او هنرپوهانو لاسوند او استناد او نوښت او ابتکار يې دادبي تحولاتو مبدأ او پيلامه.

د ژوند شعر د اولسونو له ژوند سره غبرګ روان وي، هم د ژوند انځورګري کوي او هم د ژوند بدلونونو ته نوى ادبي پيرايې او هنري ادازيږي وي، کله کله دا ولسونو په ژوند کې يوه داسې ناڅاپي پيښه وشي چې د هغو د تعبير او بيان له پاره د نويو پيرايو پيدا کول او د مضمون هنري کول وخت غواړي او هم د لته ده چې د مضمون او شکل د تناسب تړله ورانه او شعر له هنري نيمګړتيا سره مخامخ کړي.

په نوروژبو کې که د شعر او ادب بنه هر ډول وي وي به خو د پښتو په برخه کې په مشخص ډول ويلاى شو چې د پښتنو حساس جغرافيايي او تاريخي موقعيت او

اوولسم

- دکتاب نوم : مراندې
- ویناوال : ډاکتر محمد اکبر اکبر
- خطاط : نورالدین هنریار
- دچاپ کال : ۱۳٦۸ / ۱۹۸۹
- بیه : ۲۵ روپۍ

د دوی حساس اجتماعي شخصیت د دوی ادب له آره او ستې د دوی له ژوند سره مل
ملاوستی او مونږ په زغرده ویلای شو چې پښتو ادب د ګړوند ادب دی نه تش دخوند!
او په ژوند کې یې هم حماسي برخه ځکه درنه ده چې دا ملت د تاریخ په اوږدو کې دخپل
هېواد د حساس موقعیت له امله د لویو او ړوځواکونو له تېري سره مخامخ شوی،
مېړانه یې کړې، مقابله یې کړې، سربښند نه یې کړې، سوبه یې کړې،
بری یې په برخه شوی او له لوی نه لوی یرغلګر ته یې ماته ورکړې او دا پېښې
د دوی په ادب کې خوندي شوې، ګړوندي شوې او تل پاتې شوې دي.
له امیرکرو ړنه راپیولې بیا تر ملکیار غرشین، تایمنی، بابا هوتک، اکبر
زمینداوری، خوشال بابا، رحمان بابا، حمید بابا او تر هغه وروسته بیا تر ننه
پورې په سلهاؤ پښتنو شاعرانو د خپل ګړوند حماسې انځور کړې او د خپل وخت
له یرغلګرو سره یې د پښتنو مبارزې او جهادونه هنري او ادبي کړي دي. -
«مغولواله» او «پرنګواله» یې غندلې او اوس یې له «ړوسولی» سره د خپلو قلمونو
تېرې نوکې ارم کړم دي.
، په پښتو ادب کې مهم ادبي انقلابونه د مهمو اجتماعي پېښو او فکري
تحولونو مولود دي، تر پخوانیو دورو چې تېر شو د روښانیانو ادبي تحول پر -
پښتنو باندې د مغولو د سیاسي تېري په مقابل کې د یوه مبارز تصوف په بڼه
راڅرګند شو او د نوی مضمون په در لودلو سره یې ورو- ورو شکل هم پوخ او
هنري شو او د «ارزانی» ساده ادا ته «میرزا» او «دولت» ادبي پیرایې او
اداوې پیدا کړې، خوشال خان له مغولو سره د مبارزې مضمون ته نېغ په نېغه
ورننوت او د شعر هنري د پوال یې نور هم پوخ کړ.
په شلمه پېړۍ کې پښتانه دانګرېزانو ښکېلاک او نا دودو د آزادۍ غوښتنې
اتلسم

په نوي ډوحیه سمبال کړل او کله چې دا مفکوره دادب غیبي ته ولوېده نو خوځښت یا د شعر شکل پاتې راغی او د نوي ادبي پېړۍ او دا تیاره ذخیره یې نه وه، شعر له حالاتو سره دگرېدنډ ې مبارزې په غرض ډامیدان ته شو او په ډېره ساده او عادي ژبه یې د هیواد پالنې ترانې پیل کړې:

ډېره ډېرها ډک دی له مینې د وطن
خپل وطن ما ته عزیز دی تر خپل تن

(غلام محی الدین افغان)

خورو - ورو شعر د مضمون او شکل د واړو اړخه له دې غور ځنګ سره غیار کړل او ډېر داسې خوازه شعرونه وویل شول چې هم یې مضمون ښکلی، هم ډېر ښکلی او هم یې ادبي نو ښت درلود.

پر افغانستان باندې د روسانو تیری هم هغه داسې یو ناڅاپي تاړاک و چې د افغانستان ټول اولس یې یو ځل بیا د مبارزې او جهاد په سنګرکې ودراوه او د افغانستان شاعرانو او روښنفکرانو هم د قلمي، ادبي او فرهنګي جهاد د سنګر تو د کړ، د دې ملي پاڅون او اسلامي او ښتون په غبرګه کې هم پښتو شعر له خپلو اسلافو نه راپاتې حماسې او جهادي لاره وپالله او نه موږ د مبارز او مجاهد ادب پر لرګه کې یې یو نوې طلایي کړه ور زیاته کړه خو بیا هم د شعر شکل له ستونځو سره مخامخ شو د نوي ادبي پېړۍ او اداو دا ایجاد ضرورت و او دې کار و خت ته اړه درلوده اما شاعرانو نشوی کولای چې غلی پاتې شي او په دې حساس وخت کې د شعر رسالت ته د مه ورکړي. نو موږ په سلهاو شاعرانو له روسانو او کمونستانو سره د خپل ژور نفرت ښودلو په خاطر او د خپل اولس د لاو ښېښولو له پاره ترانې وغږولې، شعرونه یې وویل او حماسې یې خلق کړې. د جهاد نا نګونوی شاعران او - نو لسم

ویناوال هم د جهاد صف ته ورانديږ کړل او ورو- ورو یو ځل بیا د، شعر د مضمون ترڅنګ د شکل موضوع هم مطرح او د توجه وړ شوه ، د جهادي شعر پیکر په ښکلو جهادي پیرایو او اداؤ وپسوللی شو او د جهاد شعر لکه څنګه چې د ژوند انځورونکی او همداسې د خوند د رلودونکی هم شو او زمونږ د جهاد په مطبوعاتو کې زیاتې معیاري شعري پارچې او حتی شعري مجموعې را منځ ته شوې او د پښتو ادب په تاریخ کې یې یو بل نوی باب پرانیست .

(۳)

زمونږ د ادبي سنګر له هغو ځوانو څېرو څخه چې شعر یې هم ښه محتوی لري او هم ښه ادا او حتی د جهاد نازک خیال شاعر ورته ویلای شو یو هم ډاکتر اکبر اکبر دی خوښکې له دې چې د دې ځوان شاعر په فن او هنر خبرې وکړم ، د ده نوم اخیستنې زه یو ځل د خپلو زړو خاطرو غېږې ته ورسولم ، زما د ځوانۍ د وختونو او د آزاد افغانستان د یادونو غېږې ته .

د ۱۳۴۱ کال خبره ده زه د اتلسو کلو وم ، د هېواد له مطبوعاتو او راډیو سره مې د ادبي همکارۍ لومړي کلونه وو ، د نورو خبرونو ترڅنګ به مې د راډیو ادبي پروګرامونو ته هم مواد لیکل او په پل باغ عمومي کې به مې د راډیو زاړه دفتر ته سپارل ، ښاغلی ننګ یوسفزی هلته د ادبي پروګرامونو مشر ؤ ، زه به چې ورغلم کله- کله به په اداره کې یو وړوکی ماشوم هم ورسره ؤ ، د ماشوم عمر به پنځه- شپږ کلونه وو خو بیدار ، هوښیار ، خوځند او ځیرک ماشوم و ، په ښه جرأت به یې ستړي مشي او برخورد کاوه ، دا ماشوم د ننګ صاحب زوی ؤ .

ډېر کلونه ووتل نه مې بیا ننګ صاحب ولید او نه دا ماشوم ، په ۱۳۵۳ کال کې وږمې مجلې د محمد اکبر اکبر په نامه د خوږو شعرونو نشر ول پیل کړل ، توجه

شلم

مې یې جلب کړه، له چا نه مې وپوښتل دا شاعر څوک دی؟ راته وویل شول د ننګ صاحب زوی دی. زما سترګو ته هماغه هوښیار او ځیرک ماشوم ښېغ ودرېده. ما دا وخت په پښتو ټولنه کې کار کاوه، یوه ورځ یو ځوان راغی ځان یې رامعرفي کړ او خپل یو غـــــزل یې چې په خپل خط یې لیکلی و راته اهداء او راکړ، دا ځوان محمد اکبر و او یاد پرون هغه وینس ماشوم چې زما په ذهن کې یې ځای نیولی و. بیا به مو وخت په وخت لیده کاته کېده.

په ۱۳۵۷ کال کې چې پر افغانستان د کمونیزم خونړی سیلاب راغی او بیا په ۱۳۵۸ کال کې چې سرې لښکرې زموږ په هېواد کې پلې شوې هر څه یې ګډوډ کړل، زموږ د پرې مادي او معنوي هستی یې ونغړلې او زموږ ډېر ځوانان او روښنفکران یې تر ستوني تېر کړل، د دې سیلاب په څپو کې محمد اکبر اکبر هم رانه نهام شو څو چې مې په ۱۹۸۱ کال کې دده جهادي شعرونه له پېښور راډیو څخه واورېدل او څرګنده شوه چې دا حساس او هېوادپال ځوان د خپلو پلرونو په لاره روان شوی او د مقدس جهاد او پاڅون له سپېڅلي بهیر سره مل شوی دی، زه هم په ۱۹۸۲ کال کې پېښور ته راغلم، محمد اکبر اکبر اوس هغه ماشوم او هغه ځوان نه و چې ما لیدلی و هغه اوس خپلې لوړې زده کړې ترسره کړې وې او د ځوان ډاکتر په توګه په کار بوخت و ده چې په هېواد کې د خپلو هېوادوالو د هوسایې هیلې درلودې اوس د خپلو آواره او کډه په سر هېوادوالو د جسمي ناروغیو په درمل بوخت و او خپلو ناروغانو پسې یې د دوی د مهاجرت د کېږدیو مړاندې تر پښو لاندې وې.

د محمد اکبر اکبر وظیفه د ډاکټرۍ وه او ډاکټرۍ ډېرې خطیرې او وخیمې پېښې هم وارخطا کولی نشي خو احساس یې هماغه د شاعر احساس و له ډېر واره درد نه یې زور درک درلود او له همدې کبله یې د شعر یون څپله لاره روان پاتې

یوویشتم

شو، د تکامل او تنوع په لوري يې نوي پړاوونه ووهل او نوي گامونه يې اوچت کړل.
د ده شعر د جهاد او مهاجرت له کاروان سره مل شو او د دې ترخه ويارمن ژوند انځورونه يې وايستل.

(٤)

د ښاغلي محمد اکبر «اکبر مراندي» د ده د شعرونو يوه برخه ده، خو انتخابي برخه نه بلکه هغه برخه چې د سره سيلاب له ناتارڅخه بچ شوې او د ده په لاس کې پاتې شوې ده، په دې مجموعه کې د ده د ښوونځي د دورې شعرونه هم شته، د ده د پوهنتون د زماني هم او د ده د اوسني کډه په سر شوند دوخت هم، ده خپلې دې مجموعې ته زماني ترتيب ورکړى او په دې توگه يې د لوستونکي مخې ته د خپل شعري او فکري يون يو کلکسيون ايښى دى.
د اکبر شعر هم د ده د ځواني اسرې او تلوسې لري، هم د ژوند او خوځښت پيغامونه او پندونه او هم د هجران او هجرت سوى کړيکې او کيسې. لکه څنگه چې د ده يو بل هموطن او همنام شاعر اکبر ننه ميداوري چې په پښتو کې يې د روان غزل خښته ايښې شپږ سوه کاله وړاندې د مغولو تيمور په اور سوى ؤ او له دې ماتمه يې نه ميداور هېر کړى ؤ:

د مغولو تيمور هسې په اور سوم
چې به هېر په دې ماتم زميداور کړم

نن ورځ اکبر هم د کمونستانو او ر هسې وسوځاوه چې د مهاجرت لاره يې ونيوله، له دې ماتمه يې وطن پرېښود خو هېر يې نه کړ او د خپل مېړني ملت په ايمان يې په بشپړ ډاډ سره د راتلونکې برې ترانې وغږولې.
موږ د دې ليکنې په سر کې د شعر د مضمون، شکل او نوښت په باب غږېدلي دوه ويشتم

وواود «آمد» او «آورد» په عناصرو موخبرې کړې وي او بیا موښاغلی اکبر ته د جهاد د سنګرنازکخیال شاعر ویلی ؤ دا ځکه چې دده شعر ډرونده مضمون ترڅنګ ښکلی شکل هم لري او له شعري نوښتونو نه ډک دی. دا تشه ادعا نه ده دانقلاب اوقیام نوی مضمون ته ده په مهارت ښکلی شکل او پسوللی شکل ومونډ، تشبیهات او استعارې یې ورته پیدا کړې او د مضمون او شکل په دې نوی ترکیب کې یې له ابتکار او نوښت نه کار واخیست.

زه دده د شعرونو او زدې نموني نه را اوړم مراندې ستاسو په وړاندې دی خوله تاسو درنو لوستونکو نه هیله لرم چې بالاخص د «کریکه»، «زه سوزم»، «افغان شهید ته»، «دا اختر دا ګل زموږ د قربانیو»، «هم دا تاسو آزادی یئ هم دا تاسو انقلاب یئ»، «په وړاندې»، «د کابل توره جمعه»، «ځوانه ته څوک یې؟»، «د لاړ پوښتنه مه کوه»، «د شهیدلو رکه دامن موږ» د پارچو په لوستلو کې زما تر د احساس هم درسره مل کړئ او یوازې همدا پارچې هم کولای شي چې زما دادعوی چې د ډاکتراکبر شعر د مضمون او شکل رنګین امتزاج او ادبي نوښت لري، دا ثبات کرسی ته ورسوي او ښولی «مراندې» په همدی تله وتلي:

په تناو د توروشپو ستوروته خېژم
خال یې ګورم زلفې نیسم مراندې - مراندې

په پای کې ګران ډاکتر اکبر ته د دې شعري مجموعې په خپرولو مبارکي ورکوم، په پښتو او خصوصاً جهادي ادب کې یې یوه ښه اضافه ګڼم او درانه لوستونکي یې اخیستلو او لوستلو ته رابولم ! په مینه

حبیب الله رفیع

کوزتاکال، پېښور - د ۱۳۶۷ کال دغوئي اوومه نېټه - ۱۹۸۸/۴/۲۷

درویشتم

فهرست

عنوان	مخ
پیش نامه (همیش خلیل)	لومړی
یو نظر (شیرزمان)	اتم
دا خبري (حبیب الله رفیع)	پنځلسم
پیژند ګلوی (ننګ یوسفزی)	څلرویشتم
د لوی خدای په نوم (ډاکټر اکبر	دوه دیرشم
❋ ❋ ❋	
لوی خدای	۱
ځوانه ته څوک یې ؟	٤
تلې او راتلې	۱۲
غزل	۱۳
د والو شرنګ	۱٤
د زړه شوب	۱۵
د هجر شپې	۱٦
سترګې او ښکې	۱۷
چېرته یم	۱۸
انتظار	۱۹
غزل	۲۰
موسکا	۲۱

پېژندګلوي

اکبرلالس کلن ماشوم او د شلورم ټولګي زده کوونکی و چې په یوه مشاعره کې يې ګډون وکړ، د ده دغه شعر د ده له منګ نه د پرمشر او له ورنې د ومره لسورړ و چې اوريدونکي ورته ګوته په غاښ پاتې شول او ځينو پکې لا دا تپه هم وويشتله چې دا يې د پلار شعر دی ...

دوه درې کاله وروسته چا پوښتنه وکړه چې د اکبر شاعري او س کوم ځای ته رسيدلې ده؟ ما ورته وخندل ويل مې: نور نه پوهېږم خو ځکې به چې اکبر کوم شعر ووې نو خلکو به ويل دا يې د پلار شعر دی خواوس چې زه کله په خوارو خسکو کوم سنه شعر ووايم نو خلک هغه د اکبر بولي ... ولې رښتيا خبره داده چې مالا تراوسه چې په شپږ پنځوس کلنۍ کې پل نه دم د اکبر غوندې يو شعر هم ندی ويلی شوی، پاتې لا هاغه وخت؟

زه او شاعري؟ که کوم شعر وايم هم نو ډېر وخت اخلي په ډېر کړاو يې وايم او تراوسه چې مې څومره اشعار ويلي دي د وطن په نوم له منظومې ډرامې نه پرته په نورو کې به ايله په خوارو د ګوتو په شمېر يو څو اشعار داسې وموم چې څه لږ و ډېر به موو رباندې د شعرمينه ماته شي ... او نور ټول په نيشت ليکه وګڼئ ...

دا بېله خبره ده چې په پښتو، اواردو کې یو څه مات ګوډ لیکوڼکی ضرور یم، او د ژوند دا ډېره برخه مې د صحافت سره پیوند پاتې شوېده او پرته له نورو ځایونو نېږن دې دوولس کاله خوندره د افغانستان راډیو د هنر او ادبیاتو د پښتو څانګې مدیر پاتې شوی یم او په زرګونو پاڼې مې توري کړېدی ... خو چې کله له عملي صحافت نه عملي سیاست ته ولاړم او د افغانستان د ولسي جرګې د ۱۳٤۸ کال په انتخاباتو کې مې د کندوز د ولایت د دشت ارچي له ولسوالۍ نه (د نیشنل اسمبلي ممبرشپ) د ولسي جرګې وکالت وګاټه نو بیا نه لیکوال جوړ شوم او نه لوستلوته - ډرامې او فیچرونه لیکل خو څه کوې چې اوږدو او لنډو افسانو هم ورسره سر وخوړ، د تخیل نیلی په ټپه ودرېد او د قلم څوکه دومره پڅه شوه چې هډو نوم یې مه اخلی خو ښه به مې له پخوانه لا تېره او زیږه شوه د کوټرو له چم نه موکده وکړه او د ګل و بلبل په ځای مو د سرو پېچیو په ګلکې شپې شوې ... د خوږ و پښتو، ادبي مرکو ځای سیاسي ناندریو ونیوه او د صحافت لوړ مقام د سیاست ډنډ ته ورروښوید ...

هو! نو خبره د اکبر وه - څومره چې وخت اوښته او د اکبر عمر پخېده هم دومره د ده په اشعارو او اشارو کې پوخوالی راته ... او د فکر غور ځنګونه یې لا څپاند کېدل ....

د اکبر شعري ژبه چې څومره پخه ده ترڅې زیاته خوږه او پسته هم ده ... دی چې کله د تخیل په رېښمینو تارو لو نو ځانګي

پنځوېشتم

نو د سرې وربانديې د حميد او حمزه د کاندو يتوب مينه ماته شي:

په ويجاړه ميکده کې کنډولې ټوټې ټوټې شول
د جنون بنا پيري ګوري د ساقي په مزار ناځي

او چې کله د اکبر د زړه ستنې د خپل رب په لور کږېږي نو د خدای مينه يې د سترګو په ګلو کنډولو کې د کوثر کټوري شي ...

بيا د رب جنډې به يو ستر آسمانه
قرآنونه به د خدای وطن کې کښېږدو

دی چې کله د خپل هېواد مينې ته د شعر کالبوت ورکوي نو داسې برېښي چې د ده د پګړۍ ټوټه بوده ټنسته د وطن له مينې جوړه ده او د خپل ولس د ختو چيت کوروته ورته د نورو له دنګو پخو ماڼونه هم لوړ، او جګ ښکاري ...

اکبر خېلې وروستنۍ شاعرۍ ته د روسي ډاکه مارانو په مقابل کې د افغانستان د خپلواکۍ د روان مقدس جهاد روح ورپوکلی دی او د شعر په ژبه يې د خپل عقيدت ګلونه د خپل شاه زلمي او قهرمان ملت په پښو کې داسې ورښندلي دي:

د خپلواک ژوندون په بيه
د سرونو سودا وشوه
له يوې سلګۍ له ساه نه
سل وژلو له ساه وشوه

دی پرته لدې چې يوه ځانګړې سيمييزه پښتو خپله کړي
شپېږ وېشتم

ټوله پښتو، د ټولو پښتنو ګټې او په ټولو پښتنو کې یې لټوي...
اکبر هغه کوی چې د دې ژبې تس نس او چنګ ونګ شوي ملغلرې د شعر او ادب په نوسو را واښوی... د نانک خیالی په رښتینو تار ونو یې ورپیي... دا ټولې کوکی را ټولې کړې او دیوې لوی کوکیانی په ارته لمن کې یې ځای کړی...
منم چې اکبر په اشعارو او اثارو کې د پښتو داسې سوچه او نږه لغات شته چې ماغوندې سړي ته به وربانده پوهېدل لږ ګران وي... خو دلا لونو په بیه د نه پوهېدلو مطلب دا هرګز نشي کېدلی چې ګوندی لالونه دې له خپله نرخه پرېوتي وي...
دالغات د پښتو ژبې د بره غوره او په زړه پورې پانګه ده... هم پدې ډول ژبې غنا موهي... شتمنتوب پیدا کوي او راتلونکو کولونو ته پخپله ژبه کې د پوهې تر لاسه کولو د پاره لاره ګودرې هواروي ژبه چې څومره پراخیږي، همدومره یې دعلم او هنر سرې خپلوي زیاتیږي... او د تمدن چوپړ بهیر تې یې په کور کاله پراوږه اچوي...
د ژبې له لیارې نه ملتونه یو په بل خپل ځانونه او فکر ونه ورپېژني او هم دا هغه استاذ ګرندی ده چې د مینې ډالۍ ورې راوړي او د ولسونو ترمینځ نېږدې والی ته کوشیرونه ورکوی....
ماغوښتل چې اکبر ډېر څه ولیکم او د ده شاعرۍ مځ وپلوکړم خو دوو خبرو ېې مخه ونیوله یو دا چې اکبر ځما زوی دی او که زیات څه ولیکم نو نه چې د ده له شاعرۍ او لیکوالۍ نه دا خبره زیاته ځما د پلارولی په مینه واوړي... او بله دا چې پوه او نامتو لیکوال، شاعر او محقق -
اووه ویشتم

ښاغلي حبیب الله رفیع، نامتو لیکوال، ډرامه کښونکی او شاعر ښاغلي شېرزمان خان "طائیزی" او نامتو لیکوال او شاعر ښاغلي همیش خلیل ورباندې دومره څه لیکلي دي چې ما ته یې په سیوکې پوهنه هم وریشولو ته نده پرېښې له دې کبله غواړم چې د اکبر له شاعرۍ او- لیکوالۍ نه لږ څه په ډډه تېر شم او یوازې د اکبر ځانګړي ژوند ته ګوز وپل کړم ...

اکبر لا په دوهم ټولګي کې وو چې په کالنۍ ازموینه کې په ټولو بریالي وخوت او دا بریالي توب یې تر دولسم ټولګي داسې وساته چې دوه کاله خود حبیبیه لیسې "کالج" چې په زرګونو زده کوونکي یې زده کړې ترلاسه کوله - تر ټولو ممتاز شاګرد وو او د ده پرچې به په ازموینو کې دکلیي "کونجي" په نوم یادېدلې.

اکبر د کانکور په لویه ازموینه کې هم خپل اوچتوالی وساته او په هغه کال چې د ننګرهار د طب پوهنځي (میډیکل کالج) ته څو مرڅلکان جینکې بریالي شوې وو اکبر تر هغو ټولو لوړې نمبرې اخستلي وې او بیا له هجرت نه وروسته د پېښور د خیبر میډیکل کالج نه یې هم په فرسټ ډویژن کې د ایم.بي.بي، ایس ډګري ترلاسه کړه ....

اکبر څاکشر زوی دی - اولاد په هرځای کې ... په هرچا ګران وي خو اکبر بیا څه بل ډول ګران وو ... اخو نظر حق دی او زموږ په مینو هم لکه چې د چا د نظر غشي رابرابر شول ... او خدای خبر چې چا میرڅمنو، زموږ په منځ کې توري کتموې وکړځولې ... چې په لږ څه کې موږ زړونه د سپېڅلې مینې په کوڅه کې سره تېر و بېر شول ...

انتروشیتم

څنډې لري - چې د دې ټولو ارخونو راسپړودل او پلټنه او د آرزو او فکر د هر اړخور لیدل او لوستل زه خپلو درنو اوستر کورو لوستونکو ته ورسپارم .

زما په عقیده لکه څنګه چې ساه اخستل ، دوډۍ خوړل ، او به څښل ، - بید یدل ، ویښیدل او داسې نور دیوه انسان حق دی ، همدارنګه آزادي او په تیره بیا د فکر آزادي دانسان یو مقدس او سپیڅلی حق دی او زما په خیال هره هغه هڅه چې انسان له فکري جموده وباسي او له فکري انارکۍ او تس نستیا نه یې بچ ساتي - او د قلم د آزادۍ الهام وربخښي - پاکه ، مومنه ، مقدسه او تعمیري ده .

همدارنګه زه پښتو یوه ژوندۍ ، پیاوړې دادب په ټولو تقاضو پوره ، پراخه او لرغونې ژبه ګڼم - او یو پوخ او پوره خیال هغه وخت غوره مفهوم افاده کولی شي کله چې د سوچه ژبې په ښکلو او خوږو کلماتو چاواو شي - دا کلمات ثقیل او درانده نه دي او ټول په خپل خپل ځای یو خوندور سمندریزه تال او غږ لري - تش دومره ده چې زمونږ ځینو لیکوالو ځای پر ځایه په خپله لرغونې او سوچه ژبه پښتو کې خپل کلمات له شعر او نثر نه غورځولي او دنورو ژبو د لغاتو پېر غو ښتلی چې په دې دول پښتو ژبه اړګډه شوې او ګډه کړې شوې ده .

زه دانه وایم چې ګڼې نورد بلې ژبې نه دې سرې هيڅ کلمه په خپل شعر یا نثر کې نه راوړي - د دنیا هیڅ ژبه هم په خپل ځان پوره او په خپل ځان بسیا نه ده - بلکې دا چې د همدې ورکړې راکړې عمل ژبه متحرکه او همدا تحرک ژبه ژوندۍ ساتي - ولې ښایي د دې ورکړې راکړې لمن دومره هم ونه غزیږي چې سرې دې حتیٰ او - اروموږ دشوندو په ځای بې له دې چې ضرورت یې وي لبان یا د سترګو پرځای د - چشمانو کلمه او یا داسې نور په سلګونو ، زرګونو کلمات استعمال کړي او په دې ډول دې

اووه دیرشم

عنوان	مخ	عنوان	مخ
لیونیه	۲۲	غزل	۵۵
دلیونو چیغه	۲۵	رسوا مینه	۵٦
څه یم ؟	۲٦	لیونی تنده	۵۷
غزل	۲۸	غزل	۵۸
غزل	۲۹	بې لاری	۵۹
دمیني غرور	۳۰	غزل	٦۳
غزل	۳۱	غزل	٦٤
زه	۳۲	تلوسې	٦۵
مړاحساس	۳۳	غزل	٦۸
نرلمی شاعرته	۳٤	غزل	٦۹
غورځنګ	۳۹	بې وسی	۷۰
دپرهارسینه	٤۰	کاواکې	۷۳
پاکه مینه	٤۱	یوه څپه	۷٤
لیونی کریکه	٤۲	غزل	۷٦
بدلون	٤۳	مړشوواندې هیله	۷۷
غزل	٤۵	بغاوت	۷۹
غزل	٤۷	غزل	۸۲
غزل	٤۸	دجونګړو دیوه	۸۳
خونړۍ لمبه	٤۹	غزل	۸٦
زه او ته	۵۰	غزل	۸۷
د مینې اوج	۵٤	سرکشی	۸۸

چې د دیدن نصیب یې نه وي

په یوه کوڅه کې سره وړاندې وروستو شینه

خوږ مونږ په مینځ کې بل څوک چیرته ځانیږي - د پنځو تارو شلیږي خو د ویني رګونه نه شلیږي - اکبر ځما د زړه ټوټه ده ځما او د اکبر بېلتون دې خدای نه راولي. دا زمونږ د زړونو خبره ده - د زړونو خبرې خلک کورونو او د کورونو خبرې چنو کوڅو ته نه وباسي، او نه یې د کوټو سرونو ته خیږوي ....

اشنا ته هیڅ ویلی نشم

د خولې خبره مې کوټې ته خیژوینه

اکبر ته په کورکهول کې مونږ ټول له میني باچا وایو... باچایان خوږ وور خلک وي... په کګ وراڼ په کګ ودان ... خو زمونږ باچا داسې ندی - دی په ډېر وهم نه ورانیږي، او د ګوګل آنګړ یې ډېر ویر دی ... په زغم کولو ورته ځان ښه برېښي خوکه میني یې یو واري تور وخوړ، نو بیا دې خدای مل شه...

د اکبر وړوکوالی او ځواني دواړه په متانت او درونډوالی کې زیات توپیر نلري په وړوکوالی هم ورته خدای ښه خوی ورکړی وو... او چې څومره غټیده پسې، همدومره خوږیده او درندیده پسې ....

د خدای مینه د اکبر د زړه لویه او بې کچه پانګه ده او له خدای نه ویره یې د ژوند د لیارو روښانه لیت ....

اکبر چې په ځوانۍ کې خپله لمن څومره سپېڅلې او راټوله —

ساتلی ده... دومره ړانږوله لمسن د ماغوندي خلکو په پیرۍ کې هم نه په نصیب کېږي.

اکبر لا ماشوم وو چې زه ځوان وم... ځوانۍ د هرچا لېونۍ وي. خو ځما ځوانۍ بېخي کټې ویښتلی... او باور مو وشه، چې اوس په دې شپږ پنځوس کلنۍ کې هم له بټۍ غړ ګي نه غړنګ و باسم او هغه د اروا ښاد ګل پاچا الفت خبره:

سنګلي چې ویښم کبرږه مې نیسي
مینه په ما باندې پېریان ړاولي

زه چې څومره په خپلو ګرمو داده «معترف» او خپل رب ته ګونګوری یم، هم دومره د ځوان اکبر له پلوه د خپل خدای په وړاندې مېسترګي او چټي دي....

اکبر په پښتو پښتونولۍ کې لمانه هم څو ګامه وړاندې دی او چې خبره دین له ړاشي نو ړاشه که یې ګورې. زه چې څېله په کومه ورځ پنځه واړه لمونځونه په جمع وکړم، نو په هغه ورځ آته واړه جنتونه خپل ګڼم او بل چا ته یکې د پښې ایښودلو ځای هم نه ورکوم، خو اکبر له ماشومتوب نه د لمونځونو او روژو ژبنت پابند څه چې کله نا کله یکې له موټې نه پورته لوهم کوي او نفلونه یې په فرضو وراوړي...

اکبر خپل رب، زمونږ ستاسو د ټولو په رب د دې ټول کاینات په رب کلک ایمان لري... او د اسلام د ژوند په فلسفه تر ډېره پورې پوهه او ولاړ بريښی... او هم دا لاره د خدای تر درشلې
دېرشم

نبغه بولي ... دا نسان سره مینه کول اکبر خپل ځان باندي دخپل خدای لوی پیرزوګڼي ... او د خدای مخلوق ته په دې ورندوستړکو کتلو ورته ځان د پړ دروند بریښي ... دی آزادی د بشر فطري حق ګڼي او د بل زورول ورته لوی کرمتیا او ګناه ښکاري ... اکبر فطرتاً دیوه فلسفي ذهانت خاوند دی چې په خبرو، اشعارو او لیکلو کې یې د فلسفي بڼه ډېره زغرده، او څرګنده بریښي ... پښتو یې مورنۍ ژبه ده په فارسي - اردو او انګرېزي ژبو کې یې په لیکلو مټ ښه بر دی او دیوې موضوع په څېړلو او رسولو کې خاص انداز او سبک لري ....

ډاکټر اکبر له شنده شهرت نه ډډه کوي او د ژوند په هر اړخ کې رښتیا او واقعیتونه د ژوند اصلي بنسټ ګڼي ... دده په دې لوړو کړووړو علمي وده، فطري پوهه، او اوچت کردار کې ځاغوندي دیوه بې لیاری پلار، چې د پوهې له مخې یې له اتم ټولګي نه وړاندې نورتړکی هم نه وی لوستلی څومره ونډه او برخه کېدلی شي؟ پرته لدې چې سړی په اکبر باندي یواځې او یواځې دا دلوی خدای پیرزوګڼي او په زغرده ووایي چې:

این سعادت به زور بازو نیست

تانه بخشد، خدای بخشنده

داکبر په هکله چې ما داپورته څه لیکلي دي پدې کې یوې خبرې هم یواځې ځما د پلار ولې له تشې مینې نه سرندی وهلی ځما نور اولادونه هم شته او هر یو یې خپل خپل ځای

یو ډېر شم

د انجنیرۍ او ډاکترۍ غوندې اوچت او عالي تحصیلات لري

خو په دوی پښتو کې یو هم نه شاعر دی او نه ادیب او لیکوال

فاتح الملک ننګ یوسفزی

جمال روډ - شاهین ټاون - پېښور

۹/ ۹/ ۱۹۸۸

دو دیرشم

د لوی او ستر خدای (ج) په نوم

زه په دې کښتالو او تحقیقي بحث کې ځان غورزول نه غواړم چې د ادب په مسئلو سره سرخوږي وکړو- دا کار د محققینو او نقادانو دی او هغه د چا خبره چې نقاد خو په شعر کې هغه څه راوباسي چې د شاعر هډو په خیال کې ګرځېدلی هم نه وي . دا چې یو شعر هر څوک په خپل نظر او د خپلې رایې او منطق سره سم تفسیر کړي ځما په خیال دا د شعر د مرکزي خیال د پراخوالی دلیل او ګلکه ده- لکه څنګه چې زمونږ چاپېریال او خوا او شا مونږ له د برخه راکوي او زمونږ او زمونږ د تحلیل له کړو وړو نیولی، زمونږ تر پېژندګلوۍ او شخصیته پورې په هر څه کې د چاپېریال د عامل یا فکتر برخه ده همدارنګه هر انسان د خپل استعداد، توان او سهیک سره سم د خپل چاپېریال یو انځور جوړ کړي. دا انځور هغه له هدې چاپېریاله اخستی وي او بیا یې بېرته هدې چاپېریال ته ورستون کړي دا عمل دانسان او چاپېریال ترمنځ د پېژندنې راپېژندنې او یا د یوه پړله پسې تعارف، ژوندی او پیاوړی (خوځ) او جریان دی او له همدې خوځه انساني مدنیت د تاریخ په اوږدو کې وده کړې، او دا وروکی بې موره ماشوم د طبیعي دری دېرشم

حوادثو د میرنی مور په غیږ کې لوی شوی، سترشوی او دده هستی د خپل وجود او شته توب د ثبوت په اوږده اوکنده کپړه لار کې کامونه اخستی او په وړاندې تللی لکه څنګه چې سایس د فطرت د پېژندلو، سپړودلو او د فطرت په دود او قانون د پوهېدلو نوم دی، همدارنګه ادب هم د الفاظو او ټکو د یو ځای پیېلو کوشیږلو او ترېلو هغه هڅه ده چې غواړي د فطرت ځیره په خپل ږ ښتینی او واقعي شکل کې سمه تېک او بربنده وسپړی او ترسیم یې کړي.

ادب هغه انګی ده چې د چاپېریال، سندرو، زمزمو، ږ بېږکو، فریادونو، کرېکو او چیغو ته ورغبرګېږي. که زمونږ په چاپېریال کې سندرې او زمزمې ده بوي. داانګی به سندرې او زمزمې غبرګوي. او که زمونږ د ټولنې او چاپېریال دهرې ذرې په شوندو کرېکې خپم وی او دهر توکی وجود یې له درده جوړ و هر غړی یې زخم، تپ او ژوبل و. او هره شېبه یې د زېبږګی په غېږ کې ده نو د ادب انګی به کرېکه، درد، د زخمونوسوی او د زېږکو تریخ والی را غبرګ کړي. او دا هرڅه او ټول شیان بې مقصده نه دی. داورکړې راکړې یو طبیعي عمل دی او هلته چې شړوندی ددې عمل په مرسته دشړوند درد له درمل، د زېبږکو تریخوالی لرد آرام او سکون خواږه، د لوږې له زوره دورغلو ګېډو کولولو ټوک مړې، د بند له زوره د خپه احساس تن ته د آزادی او خپلواکی غوړېدنه بخښي. او د مینې د پرېښتو په لاسو د کرکې او نفرت په پرهرونو د پېرزو پهې بردي. هم هلته ده چې شړوند په وړاندې خوځي. او انسان په هغه لور او په هغو لارو په وړاندې درومي. کوم لوری او کومې لارې چې د ده د پیدا کولو او تخلیق د پاره د ټاکلو هدفونو په درشل دربېي، خومره بختور دی هغه اولسونه چې د هغوی د ذهنیتونو، دودونو او عقیدتونو قالبونه او لوښي د همدې طبیعي عمل د زغملو له زوره مات نه شي.

څلور دېرشم

عنوان	مخ
تالنده سکون	۸۹
کیله	۹۱
یو احساس	۹۳
غزل	۹۵
غزل	۹۶
غزل	۹۷
غزل	۹۸
غزل	۹۹
لنډېزې	۱۰۰
غزل	۱۰۲
غزل	۱۰۳
د سهار ګرد	۱۰۴
زه سوزم	۱۰۵
تاته	۱۰۸
غزل	۱۱۱
ژوند	۱۱۲
غزل	۱۱۶
اراده	۱۱۷
سپین غر	۱۱۸
غزل	۱۲۰
په کلونوکې سا نه راځي	۱۲۱

عنوان	مخ
د شهید په پرهرونو	۱۲۳
کرېکه	۱۲۴
لنډېزې	۱۲۶
یو راز	۱۲۷
وطن	۱۲۸
دا لارې مشکلې شوې	۱۳۰
د لېونو اوښکو بهیر	۱۳۱
غزل	۱۳۲
غزل	۱۳۳
شهید ته	۱۳۴
پرېشانی	۱۳۵
سره لار	۱۳۶
غزل	۱۳۸
افغان شهید ته	۱۳۹
غزل	۱۴۳
سرې جنډې موورله...	۱۴۴
د اختر دا ګل زړونه د قربانیو	۱۴۷
همدا تاسو آزادی یئ...	۱۴۹
په وړاندې	۱۵۲
پیرشانی	۱۵۴
د کابل توره جمعه	۱۵۶